رائځ چې وخاندو!

ليکوال :

حاجي پير محمد باوري

د کتاب ټول حقوق په لیکوال پوري اړه لري!

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم:	رائځ چې وخاندو!
لیکوال:	الحاج پیرمحمد باوري
خپرندوی:	نارنج خپرندویه ټولنه/ کندهار
کمپوز/ډیزان:	د نارنج خپرندویه ټولنې تخنیکي ثانګه
چاپ وار:	لومړی
د چاپ لړ:	
چاپشمېر:	
د مخونو شمېر:	۲۱۹

اړیکي:
۰۷۰۰۳۰۳۲۵۱
afghan_saq@hotmail.com

اهداء

دا کتاب زه هغه چاته اهداء کوم ، کوم چي

د زړه د کومي او اخلاصه د وطن د جوړولو په

هکله په خپل فکر او زغم زیار کښلی دئ ولو

که د دې زیار په نتیجه کي هیواد وران سوی هم وي.

باوري

سریزه

وخانده چې نړۍ درته وخاندي ، ډېر وخانده او دځان سره پخلا سه ، تر څو چې مځکه او آسمان درسره پخلا سي .

خندا ډېري کټې لري ، په لنډ ډول دا ښېګڼې پکښې نغښتي دي :-

شوخي او خندا سړی ښایسته کوي ، انسان زړه ورکوي او خنداني سړي ته ټول په ښه ستر ګه ګوري ، خو ږ ملګری او دوست يې بولي . ډېره ورانه او بده ورځ به هغه وي چې تاسو نه وي خندلي.

د خندا ګټه په ټوله نړۍ کې ښکاره او ثابته ده ،په طب کې د خندا ګټور توب پر ناروغانو آزمویل سوی او په ثبوت رسېدلی . د خندا ګټوره اغېزه پر وجود نوې پدیده نه ده ، څو څو واړه د مسیحانو ، یهودیانو ، هندوانو ، سیکانو ، بودایانو په مذهبي کتابونو کې لیدل سوېده ، اسلامي نړۍ هم خندا ته ډېر اهمیت ورکوي .

د وجود دردونه په خندا سره ارامېږي . څرنګه چې خندا د وجود ټول غړي لکه زړه ، سږي ، ګېډه او نور ټول فعالوي چې همدغه فعالیت د وجود ټولو غړو ته ګټور سپورت دئ ، همدا وجه ده چې تر خندا وروسته انسان ته قوت او غښتلتیا وربخښي او د سړي زړه ورښانه کوي . د یوه هوښیار سړي له پاره خندا بنسټیزه غوښتنه ده ، نو که څوک د زړه له اخلاصه او په ټول قوت سره وخاندي ، نه یوازي د ښه صحت خاوند به وي بلکي د ښو او نېکو احساساتو خاوند به هم وي.

خندا د خوښۍ اوښکي رابهوي ، کرکه لیري کوي او د کرکي پر ځای مینه او محبت پرځای کوي ، خندا مو د ډاکټر له اړتیا څخه ژغوري ، نو رائځئ هره ورځ د دغه کتاب د ځینو ټوکو په‌لوستلو سره وخاندو او د خندا له ګټو څخه پر اخه استفاده وکړو .

په درناوي

ستاسو باوري

یادونه

دا ټوک د محترم د ډیپلوم انجنیر سلطان عزیز په

سمبالولو او همکاري سره بشپړ سوی دئ ، چې

مننه ځني کوم او په ژوند کي بری ورته غواړم

ټوکي د يوه ادبي مضمون (ژانر) په توګه

ما ځکه ټوکي د يوه ادبي ژانر په توګه وټاکلې چې ټوکي هيڅ سياسي اړخ نه لري ، که مي د بل کوم شي ليکل پيل کړي واى نو حتماً به مي د ځان په ګټه او نورو په زيان څه ليکلای .

زما نظر او هدف دادئ چې راسئ لومړي خپل هيواد جوړ کړو او د بې ځايه او غرضي انتقادونو څخه تېر سو ، که چيرې په نيو کو بوخت سو اصلي دنده چې هر افغان د هغه نارې وهي يعني يووالی او د هيواد ودانول به راځخه پاته وي ، هيله کوم د پاک وجدان له مخي او په صداقت سره يو او بل ته لاسونه ورکړو او دغه دوطن ماته کښتۍ تر يوه ساحل پوري ورسوو ، که نو ټول پکښې ډوبېږو د نيو کو او انتقادونو وخت رارسېږي ، خلک او تاريخ په مسئولين افشا او محاکمه کړي .

زما په نظر ټولو سياسي ګوندونو د هېواد د ودانولو په هيله خپله مبارزه پيل کړه ، دا چې ولې هېواد وران سو او چاوران کړ ، ببل ببل علتونه لري چې هغه ډېر اوږد بحث دئ او دلته نه ځايېږي . که نه څوک دئ چې اشتباه نه وي کړې او څوک دئ چې ځانته

برئت ورکولای سي ، نو راسئ په صداقت او ایمانداری پر تېرو غلطیو ،اشتباهاتو او خطاو باندي اعتراف وکړو او خپل ایمان ، وجدان او عقیدې ته څه آرمي ورپه برخه کړو او وطن د نورو ډپر ودانیې څخه وژغورو .

په ډپر درنښت

باوري

هلته دي څه کول

يو سړی جلال آباد ته تللی و ،بل سړي پوښتنه ځني وکړه چي هلته دي څه کول؟ هغه ورته وويل چي هلته مي ځان خولی کاوه.

لوړه طالع

يو منجم يې دا رته پورته کاوه ،يوه سړي ورته وويل چي: دا دي په بخت کي ليدلي وه که نه ؟هغه وويل ي هو په خپل بخت کي مي مرګ ليدلی وخو نه د دا رپرسر .

دپېغمبرۍ دعوی

يوه سړي دپېغمبري دعوه کوله ،هغه يې ونيوی او محکمې ته يې راوست قاضي ورته وويل چي ته ډېر بې عقل اوشوده پېغمبر يې .هغه وويل چي هو ! په دي خاطر چي پر داسي قوم لکه تاسي رانازل سوی يم .

د خدايۍ دعوی

یوه سړي د خدایی دعوی کوله ، هغه یې ونیوی او زندان ته یې بوتی او بندي یې کړ ،پل زنداني په پیغور سره ورته وویل آیا خدای په زندان کي وي ؟ هغه ورته وویل چي هو خدای هر ځای حاضر وي

دګډې درد

یو سړی ډاکټر ته ورغی لاو د ګډې له درد څخه یې شکوه کوله ، ډاکټر ورته وویل چي : څه شي دي خوړلي دي ؟ هغه ورته وویل چي پنځه کیلو سره کړي سابه او لس کیلو اوربشي چي ټول خواړه ډبر سره سوي وه خوړلي مي دي .ډاکټر ورته چي : ته د حیواناتو ډاکټر ته ورسه زه د انسانانو ډاکټر یم .

بده ښځه

یوه سړي ډېره بده ښځه درلوده چي ډېر ورسره په تنګ و ، یوه ورځ یې ښځه ناروغه سوه ، سړی یې سر ته ناست و او د مرګ انتظار یې ایستی ، ښځي یې ورته وویل : اې ګرانه مېړه ! نه پوهېږم که زه مړه سم ته به وروسته څه کوې ؟ مېړه یې ورته وویل : اې ښځي ! که چیري ته مړه نه سوې زه به څه کوم ؟

خجالتي

یوه سړي بل ته وویل چي درواغ وایې نه شرمېږې ؟ هغه ورته وویل چي څنګه نه شرمېږم نه مي وینې چي سر مي لاندي اچولی وي .

شیطاني د کوره څخه وزي

د یوه سړي زوی ډېر شوخ و د خپل دوست سره یې مشوره وکړه چي دزویت په اړه څنکه وکړم ؟ هغه ورته وویل چي آیا په دې باندي به یې شوخي لږ سي ؟ پلار ورته وویل که لږ نه سي اقلاً شوخي خو به د باندي ووزي.

نن یې یوازي ښکلوم

یوه سړي چي هره ورځ به یې د دواخانې څخه دقوت ګولی (وایګرا) رانیولې یوه ورځ یې درملتون والا ته وویل چي نن نیمه دوا راکړه . هغه ورته وویل چي ولي ؟ پخوا خو به دي بشپړه دوا اخیستله نن څنګه نیمه اخلې ؟ هغه ورته وویل چي نن مي د یوې نجلۍ سره لید نه ده یوازي یې مچوم .

په لومړۍ شپه نجلۍ وه

یوه سړي نوی واده کړی و ، لومړۍ شپه په خیر و خیریت سره تېره سوه . په دوهمه شپه یې خپله ناوې مړه کړه ؟ هغه وویل په دې خاطر چي هغه نجلۍ نه وه ، بیا یې قاضي ورته وویل چي نجلۍ نه وه ، نو

په لومړۍ شپه به‌دي وژلې وای؟ سړي ورته وویل چې په لومړۍ شپه نجلۍ وه .

فاتحه

یو سړی فاتحې ته روان و چې د ده په پټه د ده سپی هم ورپسې روان سوی و ، کله چې دی مسجد ته‌ورسېد او لاسونه‌یې پورته کړل ، دعا ډېره اوږده سوه . نو بېله دې چې دعا پای‌ته ورسېږي سړي فاتحه پرېښو ده.

ښکلې ښځه

یوه سړي د بل څخه پوښتنه وکړه : ښځه چې شنې سترګې او سره ورېښتان ولري ښکلې وي او که‌توري سترګې او تور ورورېښتان ؟ سړي ورته وویل : که څوک لومړي نه لري هغه ته لومړۍ او که څوک دوهم ونه لري هغه ته دوهمه ښکلې ده ، خو ما ته دواړه ښکلي دي ؟

آراشگاه

يوپ ښځي خپل مېړه ته وويل : ګرانه راته وګوره ورښتان مي لنډ کړي دي اوس خو به داسي نه ښکارم لکه سپين سرې ؟ هغه ورته چې : اوس نو داسي ايسې لکه سپين ږيرى سړى .

سره وروڼه يو

يوه سړي خپل دوست ته وويل چې تا به تل ويل چې د ښځي څخه مي بد رائي . هغه ورته وويل چې اوس هم دغسي وايم .بيا يې ورته وويل چې پرون مي ديوې ښځي سره وليدې . هغه ورته بې جوابه سو ، نو يې وويل : هغه مي خوروه ! لومړي سړي ورته چې ته درواغ وايې ، بيا هغه ورته وويل چې نه درواغ نه وايم . په آخر کې لومړي سړي ورته وويل چې داسي ده نو دواړه سره وروڼه يو ځکه چې هغه ښځه زما خوروه .

بېړه يا ډار

کله چې د رستورانت مدير صالون ته ورننوت ګوي چې ټول خلک په تښته کي دي . مدير اشپز راوغوښت او پوښتنه يې ځني وکړه چې څه خبره ده چې خلک ټول تښتي ؟ هغه ورته وويل : صاحبه ! زما ګناه نه ده .کله چې اشپزخانې ته ورننو تم پيشو مي تر پښې لاندي سوه ، هغې چيغې ګړې او د کړکۍ څخه يې ځان لاندي

واچوه ، نو خلکو فکر وکړ چې زه هغه حلالوم ، نو ځکه هغوی ټول وتښتېدل .

پخوانۍ هنداره

يوه زړه ښځه هنداري ته مخامخ ولاړه وه او خپل ګونجي ګوجي مخ يې پکښې کتی . نو د خپل ځان څخه يې زړه بد سو او وې ويل چې : نه ! نه ! هنداري هماغه پخوانۍ هنداري !

ډاکټر

ډاکټر يوې ښځي ته ټلیفون ورو کر ، ورته وې ويل چې ستا مېړه يوه ناروغي لري ممکن ايډز وي او يا بله ناروغي چې هغه هم ايډز ته ورته ناروغي ده . نو مېړه دي سر د نن ورځي څخه دکوره وباسه ، لس ورځي يې په کور کي مه پرېږده ، که ژوندی پاته و نو د ايډز ناروغي لري بيا يې نو بېخي کورته مه پرېږده

پوه او نا پوه

د انسان د پيدايښت څخه بيا تر ننه ناپوه سړی د پوه سړی تر لاس لاندي او تل به بندي وي ورسره

وينا ته خوب کول

يوه سړي و يوې وينا ته غوږ نيولی و چې هغه هم ډېره اوږده او بې اړيکي وه نو خوب ورته يوور. وينا کوونکي د هغه پر څنګ سړي ته ورږغ کړه چې دغه سړي راويښ کړه . هغه ورته وويل چې تاسو په دې اوږدې او بې معنۍ بيا نيې سره ويده کړ نو پخپله راسه ويښ يې کړه

لس خصلته

هر سړی بايد دغه لاندي لس خصلته ولي :

۱. صداقت

۲. د خلکو سره انصاف

۳. د نفس سره په جنګ

۴. د لويانو احترام

۵. د کوچنيانو سره شفقت

٦. تر لاس لاندي ته نصيحت

۷. د دوستانو سره مرسته او بخشش

۸. د عالمانو سره تواضع

۹. د ناپوهانو سره خاموشي او

۱۰. د د ښمنانو سره هوښياري ، که سړی دا خصلتونه ونه لري چي هيڅ نه‌وي ښه دئ .

غل

ښځي پر خپل ډارن مېړه ږغ وکړ چي هغه دئ زمور پ شپزخانه کي غل‌دئ ، زه ئې دا دئ خپلو سترګو وينم . مېړه ئې په رېږدېدونکي آواز ورته وويل چي خير دئ مور هم دا ټول خواړه يوازي نه سو خورلای .

اوږدې خبري

يوه سړی د مجلس په سر کي ناست و او خلکو ته‌يې اوږدې خبري کولي ، نابېره يې خپلي خبري ودرولې ، کوم يوه ورته وويل چي ولي دي خبري ودرولې ؟ ده جواب ورکړ : کرارکرار خبري کوه چي دا نور دخوبه راويښ نه کړې .

منجم

یوه منجم پېشګو یې وکړه چې په راتلونکې میاشت کې به یا ښه باران اوري او یا به زما ښځه مړه کېږي . څرنګه چې د ده د ویلو سره سم په راتلونکې میاشت کې هیڅ باران ونه سو ، نو خپله ښځه یې مړه کړه ، دا د دي له پاره چې د ده پیشګویې غلطه نه سي .

پوروړی

یو سړی په خپل پوروړي پسي د پوروړي کور ته ورغی . د هغه ځښنه راووتله او ورته وې ویل چې هغه په کور کي نسته . ده په قهر سره ورناري کړه چې ښه پوهېږم چې په کور کي پټ دئ او ښځي ته دي وویل چې دی نسته . پوروړي دکوره څخه ور غبرګه کړه : – دا مهمه نه ده چې زه په کور کي یم که نه یمه ، مهمه دا ده هغه شی چې ته یې غواړې په کور کي نسته .

ملایکي

د یوه ناپوه او ساده سړي څخه چا پوښتنه وکړه ، مخکي له دې چې خدای ځمکه او آسمان پیدا کړي ملایکي چیري وې ؟ هغه ورته وویل چې معلومه خبره ده چې په خپل کور کي .

ښه خبره

یوه سړي ته چا وویل :- خبر سوم ښځه دي وفات سوې ده ، خداې د ې اجر درکړي او هغه دي خدای وبخښي . ده ورته وویل چې :- ډېره هوښیاره ښځه وه ، که نه ما خیال درلود چې هغه طلاقه کړم ، زما په تکلیف خوښه نه وه نو ځکه مړه سوه .

دچرچل پیانیه

چرچل د انګلستان لومړي وزیر غوښتل چې رادیویي بیانیه ور کړي ، په هغه ورځ یې تصادفاً درېور ناروغ و . نو یې یو ټکسی ونیوی ، ټکسي وان ورته وویل :- ژر راځه زه ځم چې نن چرچل خپل بیا نیه ورکوي ، هغه اورم چرچل ته دې خبري ډېر خوند ورکړ ، یو څه پیسې یې اضافه هم ورکړې ، کله چې د راډیو سټېشن ته راورسېدی ، ټکسي وان ورته وویل چې ورسه دلته د دوښ نه چې چرچل غواړي بیانیه ورکړي .

[redacted]

ئ ، ټکټ ته اړتیا نه لري . سړي ورته وویل :- څنګه کوچنی دی اوس هم د لسو کالو څخه غټ معلومېږي .

ښځي ورته وويل :- ما يوازي درې کاله کېږي چې واده مي کړی دئ او ته وايې زوی دي دلسو کالو ښکاري. سړي ورته وويل ممکن دا کوچنی دي د اول مېړه څخه وي .

د پيانو د ږغولو ګټه

يوه سړي و خپل دوست ته وويل کله چې زما زوی پيانو رانيولې ده او ږغوي يې ماته يې ډېره ګټه کړېده. هغه ورته وويل چې څنګه ؟ سړي ورته وويل کله چې زما زوی دپيانو په ږغولو پيل کړی دئ ، ټول ګاونډيان يې خپل کورونه خرڅوي او ما په نيمه بيه ځني واخيستل.

عقل

عقل ډېره لوړه سرمايه ده او ډېر عالي نعمت دئ ، چې پاک خدای چاته ورکړی وي ، لکه خواجه صاحب عبدالله انصاري چې وايي :- هغه چا ته دي عقل نه دئ ورکړی څه شي دي ورکړي دي.

نوی نوم

مېړه خپله ښځه ښه وډبوله ، د دوی دعوی تر قاضي پوري ورسېده .

قاضي : د دعوې اصلي څه شي دئ ؟

مېړه : بيا به پوه سې .

قاضي : څو کاله مو د واده کېږي ؟

مېړه : شل کاله .

قاضي : د ښځي نوم دي څه شي دئ ؟

مېړه : د ښځي نومونه مي دونه ډېر دي چي کتابونه په ډکېږي، هغې ما ته ويلي وه چي هره ورځ نوم نوی راباندي ايږده اوپه نوي نامه راته ناري کوه . ترنن ورځي پوري ما دا کار وکړ ، مګر نن مي نوی نوم ورته پيدا نه کړ چي ورته ږغ کړم ، نو ځکه مو کار دې ځای ته راورسېدی .

غلطي

يوې سوداګري ښځي په ډېره غصه خپل مېره ته وويل چي :- نور دغه نوکر چي نن نزدې زه د ده د تېلې څخه مړه سوې وم ، جواب

کړه ، نور مو نه دئ په کار ! دا يې لومړی ځل نه ، بلکي دوهم ځل دئ چي نزدی وه چي مړه مي کړي . مړه يې ورته وويل : – دا سمه خبره نه ده چي د نوکر د دوو ځلو کوچنيو غلطيو په اسا س دی کار او ډوډۍ څخه محروم کړو ، يو چانس به بل هم ورته ورکړو که يې دريم ځل مړه نه کړې بيا به يې وباسو

سبزي پالک

مور خپل زوی ته وويل :– زويه ! سبزي پالک ، مني وخوره ، اوسپنه لري د صحت له پاره ډېره ښه دي . زوی يې ورته وويل : – موري ! ولا همدا اوي مي اوبه وڅښلې . ښېريږم چي په نس کي يې زنګ ونه وهي .

د برېښنا جريان

استاد له شاګرد څخه پوښتنه وکړه چي څنګه کولای سو د برق جريان قطع يا پرې کړو ؟ شاګرد ورته وويل :– دا خو ډېر آسانه کار دئ ، څوورځي چي د برق پيسې ورته کړې ، برق په خپله قطع کېږي .

خوله يا عرق

ښوونکي د زده کوونکي څخه پوښتنه وکړه چې انسان څه وخت خوله کوي ؟ هغه ورته وویل چې :-

انسان یوازي د ازموینې په وخت کي خوله کوي ، هغه هم د شرم څخه .

د کار موندل

یو سړی د کارخانې رئیس ته ورغی چې ماته کار راکړه ، هغه ورته وویل چې :- اوس د کار له پاره کمبود نه لرو ته احوال نیسه . سړي ورته وویل چې په څونه وخت کي احوال واخلم؟ رئیس ورته وویل نه پوهیږم ممکن پنځه یا لس کاله وروسته کمبود پیداکړو . سړي ورته وویل ښه لس کاله وروسته دغرمې مخکي او که تر غرمې وروسته راسم.

نا امیدي

نو بډای سړی په روغتون کي و ، ټوله کورنۍ روغتون ته ورغلې وه ، د کوټې مخ ته ولاړ وه ، د ناروغ مرګ ته انتظار وه چې شتمني یې سره ووېشي ، په دې وخت کي ډاکټر د ده له کوټې څخه راووت . کورنۍ یې ورته وویل د ناروغ حالت څنګه دئ ؟ ډاکټر چې په خبره پوه سوی و ، وې ویل چې افسوس کوم

هیڅ امید او هیله نسته ولي چې ناروغ یوازي یخ وهلی و او رېښې یې کړی و ، سبا پیرته کورته درځي .

ځان خوږ نه کړې

یوه سړې چې مورنۍ ژبه یې پښتو نه وه په پښتو خپري کولې ، چې خبري یې صحیح نه وې ، نو سړي ورته وویل چې په خپله مورنۍ ژبه خبري وکړه چې ځان په خوږ نه کړې .

ازم ینه

یوه زده کوونکي د امتحان په جریان کي پوښتنه وکړه چې نن کومه نېټه ده ؟ ښوونکي ورته وویل چې دازموینې په پاڼه کي نېټې ته اړتیا نسته . زده کوونکي ورته وویل چې کم کمه خوپه پاڼه کي یو څه ولیکم .

لویان او پوهان

یو تارخ لیکونکی یو کلي ته ورغی او د یوه سپین ږیري څخه یې پوښتنه وکړه چې ستاسي کي لویان او پوهان خلک دنیا ته راغلي دي ؟ هغه جواب ورکړ چې نه ! زموږ په سیمه کي یوازي کوچنیان د نیا ته راځي .

لوی بری

یوه سړي د ښکاري څخه پوښتنه وکړه چي : ته خو ځنګله ته ښکار له‌پاره‌تللی وې ، ایا د پړانګ ښکار دي هم وکړ؟ ښکاري ورته وویل چي هو ! د پړانګ د ښکار له پاره ولاړم . بیا سړي پوښتنه ځني وکړه چي کوم بری دي هم په برخه سواوکه نه ؟ ښکاري ورته وویل هو !لوی بری مي هم دا و چي د پړانګ سره مخامخ نه سوم.

تور غویی

یوه ښځه زیارت ته ولاړه او زیارت ته یې وویل که دي زما هیله سرته ورسوله او خواست مي دي قبول کړ، یو تور غویی به دربانديي خیرات کړم ، یوې بلي ښځي چي د دې خبره واورېده نو دې ته یې وویل چي :- خوري درواغ ولي وایي، ته کله نور غویی لرې ؟ هغې جواب ورکړ چي :- ته مي پرېږده بازي ورکوم .

خیرني جراپي

یوه نجلۍ دباندي وتله ، چي مور یې پر ږغ کړه چي چیري ځې ؟ هغې ورته وویل چي ځمه کوڅې ته ، هلته مستي کوم . مور یې

ورته وويل چي د دې څيري جراپو سره ؟ نجلۍ ورته وويل چي نه د ګاونډي د لور سره .

وهل خورم

يوه هلک د خپل ملګري څخه پوښتنه وکړه :-ته چي يخچال ته ورسې څه شي خورې؟ هغه ورته وويل :- وهل خورم.

غويی وروسته پوهېږي

يوه زده کوونکي دخپل ښوونکي څخه پوښتنه وکړه چي ولي خلک ناپوه هلکان د غويي سره برابروي ؟ هغه ورته وويل چي په دې خاطر چي غويی وروسته پوهېږي .

د وينو فشار

يوه ملګري و خپل دوست ته وويل ښه سو چي ومي ليدلې ، هغه خبره چي ما د احمد په باره کي درته کړې وه او درته ويلي مي وه چي احمد ته مه وايه ، هغه ته دي څنګه ويلي وه ؟ دوست يې ورته وويل عجبه خبره ده ، ما و احمد ته وويل چي چاته مه واي ، ده څنګه تا ته وويل ؟ ده ورته وويل چي ما ورته وويل تا ته نه وايم . اوس هم هغه ته مه وايه چي تا ما ته ويلي دي .

جنازه

یوه مامور خپل رئیس ته وویل اجازه راکړه ، چې پلار مي مړ سوی دئ ، ځم جنازې ته یې . هم اجازه ورکړه ، چې څو دقیقې وروسته د همهغه ما مور پلار راغی ورئیس ته یې وویل چې زه غواړم خپل زوی مي ووینم . رئیس په خندا ورته وویل چې ستا نازولی زوی ستاسي محترم د ښخولو له پاره اوس په هدیره کي پیداکولای سئ .

که خدای و غواړي

یوه سړي څو نر پسونه رانیول ، چا پوښتنه ځني وکړه چې ولي دي مېړي نه رانیولې چې درته لنګي سوي وای او وري یې زېږولي وای ؟ هغه ورته وویل :- تشویش مه کوه . که خدای وغواړي نر پسونه هم لنګېږي .

په ګډه ډوډۍ خوړل

دوو ملګرو یو ځای ډوډۍ سره خوړ له ، یوه له بل څخه پوښتنه وکړه چې پلار دي څنګه مړ سو ؟ هغه په ډېر تفصیل ورته وویل چې داسي ناروغ سو ، او داسي موتداوي کړ ا وداسي مړ سو ، په هغه وخت کي ملګري ټوله ډوډی وخوړله . ملګري چې دا حال

ولید پوښتنه یې وکړه چې ستا پلار څنګه مړ سو هغه لنډ جواب ورکړ چې تبه یې وه او مړ سو .

ملا او حلوا

په یوه مجلس کې د حلوا په هکله خبرې کېدې ، یو ملا هلته ناسپ و. هغه وویل چې حلوا دي را په یاد کړه ډېر ډېر مي زړه ورته کېږي ، چا ورته وویل چې ولي یې نه پخوې ؟ هغه وویل کله چې اوړه وي غوړي نه وي ، کله چې غوړي وي بوره نه وي او کله چې بیا درې سره مواد حاضر وې زه نه یم .

پور

یوه سړي چاته وویل چې پنځه زره افغانۍ پور راکړه ، هغه ورته وویل چې زه دي نه پېژنم چې پور درکړم . سړي جواب ورکړ چې زما هم په دې خاطر هیله او امید سته چې ته مي نه پېژنې ، که دي پېژندلای هیڅکله به دي نه وای راکړي.

څلور ښځې

یو سړي څلور ښځي درلودې ، کله چې ناروغ سو ، څلورو دارو ترلاسو اوپښو ونیوی او ځنګاوه یې ، دوی ورته کتل چې هغه خپل سر ښوروي ، او یو څه وایي . ښځو پوښتنه ځني وکړه چې څه وایې ؟ مېړه یې ورته وویل چې لکه جوړ سوم انشاءالله یوه ښځه بله هم کوم ، چې هغه مي سر ونیسي چې پر مځکه ونه لګېږي .

وچه ډوډۍ

یوه سړي وچه ډوډۍ په اوبو کي واچوله چې پسته سي او ویې خوري ، ډوډۍ څو دقیقې وروسته وشړېده او اوبو یوړه . سړي ورته وویل چې ځئ ځئ زه مو نه خورم تاسي چې نه سي ټینګولای نو ما به څنګه مورِ او انرژي راورسوئ .

جنګړه ښځه

یوه ښځه چې هره ورځ به یې د خپل مېړه سره جنګ او غالمغال کاوه ، ګاونډیان یې په عذاب سول و دې ښځي ته یې وویل چې تاسي هره ورځ نارې او سورې وهئ ، مورِ ستاسي دلاسه خوب نه سو کولای ، آیا تا په خپل ژوند کي د خپل مېړه سره کومه خبره منلې ده ؟ ښځي ورته وویل چې هو !یوه ورځ زمورِ کور

اور واخیست مړه مي راته وویل چي د شا د دروازې څخه ووزه ، د مخ ور اور اخیستی دئ ، دا مي ورسره ومنله .

دخپل ښځي ږغ ثبتول

یوه سړي د خپلي ښځي ږغ ثبت کړی و . یوه دوست یې ورته وویل لکه چي ببخي او ډېر خوند درکوي چي د ښځي ږغ دي واورې ؟ هغه ورته وویل چي زه مي ښځه بل ډول نه سم غلې کولای ، نو ټیپ مړکړم او دښځي ږغ مي ودرېږي او چپ سي .

منطقي جواب

یوه رئیس خپل نوکر راوغوښت او ګوته پر مېز کش کړه ، په درد سره یې ورته وویل چي دا څه دئ ؟ هغه ورته وویل چي دا خو ښکاره خبره ده چي ستا ګوته ده .

مېلمستیا

مدير د موسسې رئيس ته وويل چې ته بايد زما مېلمه سې ، کله چې مدير د کوټې څخه ووت رئيس پياده ته وويل چې ودې احمق او يې عقل ته ووايه چې زه نه سم درسره کېداي ، په دې وخت کې هغه مدير بيرته راوګرځيدی او د رئيس ټولې خبرې يې واوريدې . کله چې رئيس په همداره کې مدير وليدی ځان يې ناګمانه واچاوه او وې ويل چې موږ د دې محترم سره مېلمانه يو نو ځکه د هغه بل مدير سره نه سوتللای .

دروغ

يوه سړي وويل :- زما ښځه ډېره دروغجنه ده دا ځکه چې پرون شپه هغې ما ته ټليفون راوکر چې زه د شپې کور ته نه درځم ، د پروين جاني کره مېلمه يم ، حال دا چې زه خپله د هغې کره مېلمه وم.

دعا اخيستل

يو سړي يوه روحاني ته ورغی او ورته وې ويل:- زه د يوې بدې ښځې سره ويده سوی يم ، دعا راته وکړه چې ګناه مې عفوه سي .

هغه ورته وويل چې دشا دکوڅې وه ؟ ده وويل نه !

هغه ورته وويل چې مريم وه ؟ ده وويل نه !

هغه وویل چې د څلورم سړک وه ؟ ده وویل نه !

د ښاروالۍ ماموره وه ؟ ده ویل نه !

د خاله ماري لور وه په زایشګاه کې ؟نه !

سړی په ډېره خوښي بیرته راغی او ولاړ خپل ملګري ته یې وویل چې پنځه نوې نور ادرسونه مي پیدا کړل .

واسلین

یوه سړي د واسلینو د کمپنۍ له پاره تبلیغ او اعلان کاوه ، یوه کلي ته ولاړی او یوه دروازه یې ور وټکوله ، یوې ښځې ته یې وویل چې دا واسلین ډېره ښه او مؤثره دوا ده . د ټپونو، چاودو او مخ له پاره استعمالېږي ، ایا تاسي هغه کوم وخت په مینه کې استعمالوئ ؟ ښځې ورته وویل هو !ځینې وخت د دروازې کلپ په غوروو چې مېره مي رانه سي .

کونډه

یوه سړي د بل څخه وپوښتل چې هغه کومه ښځه ده چې پوهېږي مېړه یې ټوله شپه بل چیري تېروي او داهیڅ نه وایي ؟ ده ورته وویل چې هغه کونډه ده .

مېړه او ښځه

يوه زوړ سړی او سپين سرې ښځه يې په بستره کي پراته وه ، ښځي خپل مېړه ته وويل چي رانزدې سه ! هغه ورنزدې سو . بيا يې ورته وويل لاس راباندي واچوه ،کله چي يې لاس وربانديې واچاوه . هغې ورته وويل چي په غاښ مي کړه . دی له بستره جګ سو ، ښځي ورته وويل چيري ځې ؟ ده ورته وويل ځم چي له تشناب څخه مي غاښونه راوړم .

هېره

د پوهنتون استاد چي په هېره کي ډېره مشهور و ، يوه ورځ د يوې ښځي سره مخامخ سو ، هغې ورته وويل چي استاده زه دي وپېژندلم ؟ استاد ورته وويل چي نه . بيا ښځي ورته وويل چي ولي څو کاله مخکي دي زما څخه هيله کړې وه چي واده راسره وکړه ، استاد ورته وويل چي هو هو !اوس مي يو څه را په ياد سولې مګر ښه مي په ياد نه دي چي واده مو سره وکړ که نه !

تلوار

دوه ملګري د يوې غونډۍ پر سر وه چي يوه جيټ الوتکه يې پر سر تېره سوه ، دوی يې ډېر وېرول ، يوه ملګري و دا بل ته وويل چي دې پيلوټ لکه چي ډېر تلوار درلودی . ملګري يې ورته

وويل كه ستا په شا پسي دغسي اور در بل كړم لكه د دغي الوتكي ، تردې به هم ډېر تلوار كوې .

د هغه د ژوند علت

يوه سړي خپل ملگري ته وويل چي خبر به نه يې حسن گل خو مړ سو . هغه ورته وويل چي خداى دې وبخښي او دا دي ونه ويل چي د مرگ علت يې څه شي و ؟ هغه ورته وويل چي ته هم عجبه سړى يې ، د هغه د ژوند علت معلوم نه و، ته يې د مرگ علت غواړې .

لاړښوونه

يوې مېرمني و بلي ته وويل چي مېړه مي يوه مياشت كېږي د غوښو د رانيولو په پلمه له كوره وتلى دئ بيا تر اوسه پوري نه دئ راغلى ، څنگه وكړم . هغې ورته وويل چي د غوښو پخول بيا پرېږده يو بل شى پوخ كړه .

زر ډالره

يوه سړي د بل سړي دروازه ور وټكوله ، ښځه يې راووتله او هغه يې كور ته بوت ، سړي چي ورته وكتل هغه ښځه يې ډېره خوښه سوه ، نو يې ورته وويل چي زه ډالره دركم كه غواړي چي دغه

معامله راسره وکړي . ښځي چي يو څه سوچ وکړ بيا يې ورسره ومنله ، کله چي کار خلاص سو سړی ولاړ ، څو دقيقې وروسته د ښځي مېړه کور ته راغی ، چي گوري زر ډالره د مېز پر سر پراته دي ، ده چي وليدل ښځي ته يې وويل چي پلانی داغلی و ؟ ښځي يې ورته وويل هو ! مېړه يې ورته وويل چي پرون يې وعده راسره کړې وه ، چي هغه زرډالر چي قرضداره مي و، نن به يې راوړي ، معلومه سوه چي په معامله کي کلک سړی دئ .

غلط فکر

يو ځوان هلک په تشناب کي و ، چي د دروازې زنگ يې ووهل سو ، هلک په نا آرامي سره چي لڅ پڅ و د دروازرې خواته ورغی چي وگوري څوک دي ؟ دی لوڅ و خويوازي يې يو سطل مخکي پروت و ، هغه يې مخي ته ومیوی او دروازه يې خلاصه کړه چي گوري دوې ځواني ښځي ولاړي دي ، د هلک په ليدو سره يې وخندل او هلک ته يې وويل چي ځوانه مورِ ستا په سوچ او فکر پوهېږو . هلک ورته وويل چي زه نو اوس څه سوچ کوم ؟ هغو ورته وويل چي ته سوچ کې چي سطل بېخ لري او سوری نه لري يز

ته عيسوي يې

يوه ښځه او سړی په اورګاډي کي په لیري سفر سره ناست وه او خبري يې سره کولې ، ښځي پوښتنه ځني وکړه چي ته عيسوي يې ؟ هغه ورته وويل چي نه ! بيا ښځي ورته وويل چي زه باور لرم چي ته عيسوي يې .هغه ورته وويل چي نه خوري زه عيسوي نه يم . بيا ښځي په کلکه ورته وويل چي حتماً ته عيسوي يې . هغه ورته وويل چي ته دونه کلکه يې نو ستا له پاره وايم چي عيسوي يم ښځي چي په ښه ځير ځير ورته وکتل ورته وې وويل :- نه دواغ وايې لکه عيسوي داسي نه ښکاري.

ما د کوټې پيسې ورکړې

يوه زړه کليواله ښځه دلومړي ځل له پاره ښار ته ولاره او هلته يې شپه سوله ، هوټل ته ولاړه او د اطاق پيسې يې تحويل کړې بکس يې يوه نوکر ورسره واخيست چي تر اطاقه پوري ورسره يوسي .لفټ ته ننوتل . ښځي په وارخطايي وويل :- داڅنګه کوټه ده ، ډېره کوچنۍ ده ،هواکښ هم نه لري او بستره پکښي نسته ، زه دلته نه پاتېږم . نوکر ورته وويل دا کوټه نه ده لفټ دئ ، ښځي بيا ورته وويل چي ما د کوټې پيسې ورکړي دي نه د لفټ .

داخلي معاينه

یوه کلیوال سړي خپله ښځه ډاکټر ته بوتله ، ډاکټر چي ورته وکتل ډېره ښایسته وه خوښه یې سوه ، مېړه یې په دوا پسي ولېږی ، او پخپله د ښځي سره په دا بله معامله بوخت سو ، د ډېري وارخطایي څخه یې ورخلاص پرې ایښی و ، کله چي د ښځي مېړه راورسېدی او ډاکټر یې د خپلي ښځي سره ولیدی ، وې ویل چي دا ډاکټر صاحب په رشتیا سره چي ډېر پوهېږي ولي چي هغه دئ داخلي معاینه یې هم کوي .

خجالتي

یو سړی د اوبو پر غاړه ګرځېدی ، بل سړی ورسره مخامخ سو او ورته وې ویل که چیري تاسي په دې اوبو کي ولوېږي او اوبه مو ډوب کړي او زه مو بیرته د اوبو څخه راوباسم خپله لور ماته را په نکاح کوې ؟ هغه ورته وویل د دې څه اړتیا سته چي زه اوبو ته ولوېږم او کالي مي لانده سي اوس پر وچه مځکه حاضریم چي زما د لور سره واده وکړې زه هیڅ ډول مخالفت نه لرم .

د دوو موږکانو جنګ

یوه مسافر د هوټل و مدیر ته وویل چي ډېره وړه ګوټه دي راکړې وه .ټوله شپه د دوو موږکانو سره جنګ و ، زه یې خوب ته نه

پرېښوولم ، د هوټل مدير ورته وويل چې په دغه لږو پيسو چې ته يې راکوې دوه غوايان په جنګ درته واچوم.

کميس زړول

يوه سړي و خپل ملګري ته وويل چې ته زما و خبرو ته غوږ ونيسه بد کارونه مه کوه د خلکو سره جنګ او جنجال مه کوه او داسي نور ، ولي چې زه تر تا ښه پوهيږم ولي چې تر تا مي ډېر کميسان زاړه کړي دي . ملګري يې ورته وويل که ته تر ما ډېر پوهيدلای ډېر کميسان به دي نه زړولای .

د صندوق ساتل

يوې ښځې يو صندوق تر خپل چېرکټ لاندې ساتلی و ، مېړه به يې پوښتنه ځني کوله چې په دې صندوق کې څه شي دي ؟ ښځې به هيڅ جواب نه ورکاوه . کله چې د دوی د واده پنځوسمه کالیزه تېره سوه نو ښځې خپل مېړه ته د دې صندوق راز ووايه :- چې د دې صندوق راز دا دئ چې مابه کومه ورځ يو خطا کار کاوه او د بل چا سره به مي معامله کوله نو يوه روپي به مي دلته اچوله ، کله چې مېړه صندوق خلاص کړ که ګوري هلته پنځه روپۍ او شل زره ډالره پراته دي ، مېړه يې خوښ سو چې ځه خير دئ پنځه روپۍ خودونه ډېري نه دي خو داشل زره ډالره د څه شي دي ؟

ښځي ورته وويل کله چې به صندوق ډک سو ما به هغه د ډالرو سره تبديلي کړې . مېړه يې وويل چې دا هم بدي پيسې نه دي .

پوليسو ته شکايت

يوه سړي پوليسو ته شکايت وکړ چې موږ څلور وروڼه يو ، په يوه کوټه کي ژوند کوو ، زما مشر ورور دوې پيشياني او دوهم ورور مي دوه سپيان او دريم ورور مي يوه وزه لري . په کوټه کي ډېر بد بوی دئ ، لطفاً مرسته راسره وکړه . پوليس ورته وويل چې ستاسي کوټه کړکۍ لري ؟ ده ورته وويل چې هو ! بيا پوليس ورته وويل چې کړکۍ نو ولي نه خلاصوې ؟ ده وويل که کړکۍ خلاصه کړم زما پنځوس سره کوتري الوزي .

د لوی وکيل او ښه وکيل توپير

يوه سړي د خپل ملګري څخه پوښتنه وکړه چې د لوی وکيل اوښه وکيل توپير په څه کي دئ ؟ هغه ورته وويل چې ښه وکيل په قانون پوهېږي او لوی وکيل قاضي پېژني .

ښه مسلمان

يوه سړي خپله سپين سرې مور ډاکټر ته بوتله ، ډاکټر چې وکتله هيڅ ناروغي يې نه درلوده ، د هغې زوی ته يې وويل چې مور ته

دي ووايه چي مېړه کوې که عسل خورې ؟ زوی يې هم پوښتنه ځني وکړه ، مور يې ورته وويل چې : – زه خو غاښونه نه لرم چې عسل په وخورم.

د فرش بيه

يوه سړي دوکاندار ته وويل چې د ددې فرش بيه څو ده ؟ هغه ورته وويل دغه لومړۍ درجه متر په لس زره او دوهمه درجه متر په پنځه زره . دريمه درجه متر په درې زره او څلورمه درجه متر په يوزر افغانۍ او هم دا ډول پنځمه درجه هم لرم چې متر يې په پنځه سوه افغايۍ دئ .مشتري يو څه سوچ وکړ او ورته وې ويل ماته يو داسي فرش راکړه چې شپږمه يا اومه درجه وي او بيه ښکته ونه لري .

بد معامله

يوه سړي و خپل دوست ته وويل چې يو لس زره افغانۍ لرې ؟ ولي چې ډېره ارټيا ورته لرم . هغه ورته وويل چې هو لرم يې . ملګري يې ورته وويل چې څه وخت راسم چې رايې کړې ؟ هغه ورته وويل هر وخت چې دي هغه نوري لس زره راکړې .

الوتکه

یوه الوتکه چې د سیند پر سر روانه وه ناڅاپه د کاره ولوېده ، په دې وخت کې پیلوټ پر مسافرو ږغ وکړه چې طیاره د کاره ولوېده ، بله چاره نه‌لرو باید طیاره په اوبو کې کښېنوو، نو د هغه چا چې لامبو زده ده هغو ته ژر هوایي مرسته رارسېږي ، او د هغه چا چې لامبو نه ده زده ، د اشهدان‌الله آیت دي ووایي او ستاسي د ټولو دي کور ودان وي چې زمونږ سره مو په دې الوتکه کې سفر وکړ .

اسراف

د یوه سړي څخه چا پوښتنه وکړه چې اسراف څه شي ته وایي ؟ هغه ورته وویل چې اسراف دې ته وایي که سړی اوږده ږیره ولري او دهغه سره یې نېکټایي هم تړلې وي .

لېونی

په یوه مرستون کې ډاکټر د یوه لېوني څخه پوښتنه وکره چې صحت دي څنګه دئ ؟ هغه ورته وویل ببخي روغ یم . اجازه راکړه چې کورته ولاو سم ، ډاکټر ورته وویل چې کور ته ولاړ سي څه کوې ؟ لېوني ورته وویل ښځه کوم د هغي د نېکر د کشک څخه مچلو غه جوړوم او د خلکو د کورو هنداري ورماتوم .

د ماهيانو نيول

دلېونيانو رئيس د مرستون نوې کوټې ته ورننوت چې ګوري يوه لېونې په يوه لوښي کې اوبه اچولي دي او د ماهيانو چنګک يې پکښې داخل کړی دئ رئيس پوښتنه ځنې وکړه چې څه کوې ؟ غواړې چې ماهيان ونيسي ؟ لېونې وويل :- بې عقله په تشت کې هم ماهيان نيول کېږي ! رئيس بل اطاق ته ولاړی ، کله چې بيرته راوګرځېدی ، لېونې ته يې وويل چې نو څه کوې ؟ هغه ورته وويل ړوند يې وينې چې ماهيان نيسم.

زه پوهېږم چې کوم ځای يې سوځی دئ

يوه سړي غوښتل چې اودس تازه کړي ، د خپل ملګري څخه يې اوبه وغوښتې ، چې استنجا ووهي ، هغه په ټوکو جوش اوبه ورته راوړې ، څو دقيقې وروسته سړی ډېر په غذاب له تشناب څخه راووتی او ناړې يې وهلې چې د خدای د پاره وسوځلم ، او مړ سوم. بل نفر پوښتنه ځنې وکړه چې کوم ځای دي وسوځېدی ، راويې ښيه ؟ هغه ملګري چې اوبه يې ورته راوړې وې ، ورته وويل چې خوشي يې کړئ ، زه پوهېږم چې کوم ځای يې سوځلی دئ.

د زوی د ولور پوره کول

یوه سړي ټکر وکړ اوپه ټکر کي يې پښه پرې سوه ، د پښې په خاطره بېمې شرکت یو څه پیسې ورکړې ، په هغه پیسو يې خپل مشر زوی ته واده وکر او ښه ولور يې هم ورکړ. کشر زوی يې ورته وویل چي پلاره زما د واده او ولور په هکله دي هم یو څه فکر کړی دئ ؟

سنګین او درونده رومان

یوه سړي کتاب پلورونکي ته وویل چي د رومان یا داستان یو ښه کتاب مي په کار دئ هغه ورته وویل چي درونده داستان وي که سپک ؟ مشتري ورته وویل که درونده وي ښه به وي ولي چي خر راسره دئ په بار به يې کړم .

د پلار بوي

د یوه سړي پلار مړ سو یو خر ځني پاته سو ، دې سړي به د خره ښه پالنه کوله او ښه مور او پاک به يې ساتی ، چي حتی پر هغه خر به هیڅکله نه سپرېدی ، خلکو ورته وویل چي دا څه کوې خر د سپرېدو او د بار وړلو له پاره دئ . ته ولي کار نه ځني اخلي او داسي دي مور ، پاک او چاغ ساتلی دئ . ده ورته وویل چي مه کوئ د پلار بوی مي ترې نه رائي .

ښه او بد خبر

يوه ډاکټر و خپل ناروغ ته وويل عمليات دي په خير تېر سو ، او پښه مو درپرې کړه اوس نو يو ښه او بد خبر درته لرم . بد خبر دا دئ چې موږ غلطه پښه در پرې کړې ده . او ښه خبر دا دئ چې هغه بله پښه دي هيڅ زيان او نقص نه لري .

قول او وعده

يوه سړي بل ته وويل چې وروره تا زما سره وعده او قول کړی و چې لور دي زما زوی ته راکوې . هغه خو دي بل چا ته‌ورکړه . ده ورته وويل چې زه هيڅکله دوه شيان يوه سړي ته نه ورکوم ، تاته مي وعده درکړه او هغه ته مي لور . وعده او لور مي يوه سړی ته نه سوای ورکولای .

د کلې هټۍ

يوه ښځه ورغله د کلي يوه دوکاندار ته يې وويل چې وريجې لرې ؟ هغه ورته وويل چې هو ! بيا يې ورته وويل چې غوړي لرې ؟ هغه ورته وويل هو ، په هم دې ترتيب يې د ډېرو شيانو پوښتنه وکړه ، دوکاندار وويل چې هو . په پای کې يې ورته وويل تور مرچې لرې ؟ دوکاندار ورته وويل چې نه دانه لرم . ښځې ورته

وويل چي نو څه شي لرې ؟ دوکاندار ورته وويل سرګرداني ، بېځايه په عذابول ، د سر درد چي دغه شيان نو تاته نه درکوم .

د واده عمر يا سن

يوه سړی د بل څخه پوښتنه وکړه چي د واده له پاره مناسب سن کوم سن ښه دئ ؟ هغه ورته وويل چي ښځه د ځوان سړي له پاره معشوقه د مينځوي له پاره ملګرې او سپين ږيري له پاره نرسه وي اوس نو ته پخپله ووايه چي په کوم عمر کي سری بايد واده وکړي .

دوه ملګري

دوه ملګري يوه ځنګله ته سره تللي وه هلته يې د زمري د پښې پل وليدی ، يوه ملګري بل ته وويل چي ته وګوره چي پل کومي خواته تللی دئ ؟ پسي تعقيب يې کړه او زه به ورسم وبه يې ګورم چي له کوم لوري څخه راغلی دئ ؟

خټکی

يوه سړي د بل څخه وپوښتل چي په يوه روپۍ څه شي رانيسم ، چي هم يې زه وخورم هم يې خره ته ورکړم او هم يې خپل چرګ ته ، چي دري سره په ماړه سو . هغه ورته وويل چي خټکی رانيسه .

پلار به دي درته راولم

يوه سړي په ډېره غصه خپل پوروړي ته وويل که مي پيسې رانه کړې پلار به دي درته راولم . پوروړي ورته وويل که دا کار وکړې ډېر به ښه سي . ده وويل څنګه ؟ هغه وويل پنځه کاله کېږي چي پلار مي په زندان کي دی ، راويې باسه او رايې وله .

چاغ سړی

دوه ملګري ولاړل چي د سپنما ټکټ واخلي که ګوري په غرفه کي يو ډېر غټ او چاغ سړی ناست دئ ، يوه ملګري هغه بل ته وويل چي دا غټ سړی څنګه دلته ننوتلی دئ ؟ هغه ورته وويل چي دا خوچنداني سخته خبره نه ده په کوچنيوالي که ورننوتلی دئ هلته غټ سوي دئ .

وروستۍ دفاع

په محکمه کي قاضي يوه مجرم ته وويل چي وروستۍ د فاع وکړه هغه ورته وويل چي زه په تش لاس څنګه دفاع وکړه يو چاقو مي درلودی هغه هم تا راڅخه واخيستی .

د موټر ټبل خلاص سوي دي

د مرستون رئيس ته ورغی چي گوري لېونيان ټول داسي کارونه کوي لکه موټر چي چلوي . د موټرو ږغونه باسي او هارنونه هم وهي . په يوه کونج کي يو لېونی آرام ناست دئ ، رئيس فکر وکړ چي دا لېوني لکه چي روغ سوي دئ ، بايد خوشي سي ، نو يې پوښتنه ځني وکړه چي ته څنګه ناست يې او موټر نه چلوې ؟ هغه ورته وويل چي زما د موټر تېل خلاص سوي دي .

غوټه

څو لېونيان د سين پر غاړه ولاړ وه ، چکچکي کوي ، نارې وهي او شاباس او آفرين وايي ، يو سړی چي دوی يې په دې حال کي وليدل نويې پوښتنه ځني وکړه چي د څه شي له پاره خوشحالي کوئ ؟ دوی ورته وويل چي زموږ يو ملګری څو ساعته کېږي چي غوټه سوی دئ ، موږ غواړو چي تشويق يې کړو چي نورهم په اوبو کي تر ډېره غوټه‌وي .

د کور تبديلول

په افغانستان کي يوه وزير د بهرنيو سره ليدنه کتنه کوله ، هيئت و وزير ته وويل چي څه ستونزي لرې او موږ څه کومک درسره کولای سو ؟ وزير ورته وويل چي زما د مکروريانو کور درې

اطاقه دئ او مېلمانه مي ډېر دي که دغه پنځه اطاقه سي دا به مو ډېره غټه مرسته راسره کړې وي .

دولسمشر وينا

د امريکا يوه ولسمشر خپلو خلکو ته وينا اوروله ، وې ويل :- اې خلکو موږ او تاسي سره ورونړه يو ، د پوستکي رنګ موږ يو د بله څخه نه سي سره بېلولای ، ټول سره يو شی يو ، مساوي حقوق لرو ، که ښايسته سپين پوستي دي او که تور پوستي لکه غوايان يا سور پوستي لکه بيزوګاني او يا بوين ژيړ پوستي او يا نوروحشيان هيڅ توپېرنه سره لرو .

يو نزدې ځای راوښيه

يوه سړي خپل ملګري ته وويل چي تېر کال جرمني ته تللی وم ، چي بيرته راغلم ښځه مي اميدواره وه ، بل وار بيا امريکا ته تللی وم کله چي بيرته راوګرځېدم بيا مي ښځه حامله وه ، نو يو نزدې ځای راوښيه چي سړکال مي ښځه هم راسره بوزم .

د قوت ګولۍ

یوه سړي و ډاکټر ته وویل هغه ګولۍ یا ټابلیټ چي تا راکړي وې ، هیڅ ګټه یې نه ده راته رسولې ، ډاکټر ورته وویل چي د ورځي څو دانې خوړې ؟ ناروغ جواب ورکړ چي د بوتل سرنه سم خلاصولای .

عجیبه ناروغي

یو ناروغ ډاکټر ته وویل چي عجیبه ناروغي لرم هیله لرم چي چاره مي وکړې . ډاکټر ورته وویل چي دا څنګه ناروغي ده ؟ هغه داسي وویل :- سهار وختي لکه چرګ راویښېږم ، ټوله ورځ لکه اوښ پر لاري ځم ا لکه خر کار کوم . په اشتها کي لکه لېوه او یوم نیم وخت لکه آس په ولاړي بیده یم ، په آخر کي لکه چغال داسي کورته راځم . ډاکټر ورته وویل چي ښه به وي چي د حیواناتو ډاکټر ته ورسې .

دوه ښکاریان

دوه ښکاریان ځنګله ته ولادل ، هلته یې خپمه ووهله یوه ښکاري بل ته وویل چي ته اور بل کړه زه به ولاړ سم یو حیوان به ښکار کړم ، رابه یې وړم چي کباب یې کړو ، کله چي ځنګله ته ورننووت یو زمری یې ولیدی رامنډه یې کړه ، زمري ورپسې

راوځغستل . ښکاري ځان خپمې ته راورساوه ، ملګري ته يې وويل چې ته دغه يو ونيسه کباب يې که زه په بل پسې ځم .

د لوچګې چاره

يوه سړي يوه لوچک او بې تربيې سړي ته وويل چې د دغه بې معنۍ او ناروا کارونو څخه لاس واخله ، دانيمه نړۍ به درکړم ! هغه ورته وويل چې دا نوره نيمه چاته ورکوي؟

وړيا خواړه

يوه سړي خپل ملګري ته وويل چې څنګه کولای سم ، چې په رستورانت کې مفته ډوډۍ وخورم؟ هغه ورته وويل چې دا خو ډېر آسانه کار دئ ، هغه دا چې يو مړ مچ درسره واخله ، کله چې دي ډوډۍ وخوړله ، په لوښي کې هغه مړ مچ واچوه د رستورانت خاوند نه يوازي چې پيسې به درڅخه واخلي بلکي غذر به درڅخه وغواړي .

لس کاله په کوهي کي

یوه هلک بل ته وویل چي زما د پلار ساعت لس کاله په کوهي کي لوېدلی و ، کله چي مو راوکښی سم و کاریې کاوه ، هغه بل ورته وویل چي دا لاڅه کوې زما پلار څاه ته ولوېدی لس کاله هلته ژوندی و . هغه ورته وویل چي پلار دي هلته څه کول ؟ جواب یې ورکړ چي هلته یې ستا د پلار ساعت ته کوک ورکاوه .

چاغښت

یوه سړي خپل ملګری له ډېره وخته وروسته ولیدی چي ډېر چاغ سوی و نو یې ورته وویل دا څونه چاغ سوی یې، نس‌دي ښخي دباندي راوتلی دئ . هغه ورته وویل چي دا نو د خدای مهرباني او برکت دئ . ملګري یې ورته وویل دا نو دخدای مهرباني نه بلکي قهر دئ

دوه برابره سوغات

د کارکولو په وخت کي د یوې سپین سري ګوته پرې سوه ، لمسي یې یوه دوا پر ووهله ، د انا ګوته یې شخه پاته سوه ، انا یې دستي پنځوس ډاله سوغات ورکړې ، په دا بله ورځ یې نور پنځوس ډاله خپل لمسي ته ورکړه . لمسي ورته وویل چي دا بیا

په څه خاطر دي ؟ انا يې ورته وويل دا دي د نيکه د خوا سوغات دئ .

سکاروی یا سینه بغل

يوه سړي د ژمي په سړو شپو کي په يوه واله (ويياله) کي غوټې وهلې ، يو وار به غوټه سو او بيا به راپورته سو چا پوښتنه ځني وکړه چې څه کوې ؟ هغه ورته وويل چې ځان وژنم ، خودکشي کو م ، مګر چې ګورم اوبه ښخي سړې دي بېرېږم چې سکاروي مي ونه وهي او سينه‌بغل نه سم .

زه د چا سره ټوکي نه لرم

يو غښتلي او پهلوان سړي بل سړی په څپړه د شا دخوا وواهه . هغه چې مخ ورته راواړاوه ، او ورته وې ويل چې په ټوکو دي ووهلم که په رشتيا ؟ پهلوان ورته وويل چې په رشتيا . سړي چې ورته وکتل زور يې نه په رسېدی . ورته وې ويل د خدای شکر پر ځای کړه چې په رشتيا دي ووهلم که نه زه د چا سره ټوکي نه لرم

ما هم مېلمه کړئ

یو سړی د یوه ناروغ پوښتنې ته ورغلی و ، کله چې بیرته د ناروغ له کوره وتی د ناروغ کورنۍ ته یې وویل چې څه وخت مخکې ستاسې د کورنۍ یو ناروغ مړ سو . زه مو ختم او خیرات ته خبر نه کړم . مقصد چې د دې واري مو هېر نه سم .

سر چپه مېخ

یوه ساده سړي غوښتل چې په دېوال کې مېخ ټکوهي ، مېخ یې سرچپه نیولی دئ او ټکوهي یې ، چا ورته وویل چې څه کوې ؟ ده ورته وویل :- دا مېخ اصلي د هغه مخامخ دیوال له پاره جوړ سوی دئ خو زه اوس مجبور یم دلته یې ټکوهم .

فوټبالر غل

یو غل یوه کور ته ورغی غوښتل یې چې د هغه رنګه ټلوېزیون پټ کړي ، ټلوېزیون یې ولګاوه ، چې د فوټبال دلچسپه مسابقه شروع ده ، دی هم ورته کښېنستی ، چې مسابقه وویني ، په دې وخت کې د کور څښتن راویښ سو ، غله ته یې وویل څوک یې او څه غواړې ؟ غله ورته وویل زه فوټبالر یم د فوټبال بازي مي کوله چې ریفري د بازۍ څخه وایستلم.

پلار ته به څه وایم

یو کوچنی چي د پلار څخه ډېر ببرېدی یوه ورځ د خپلو ملګرو سره مستي کوله چي یو ملګري یې د خوراک یو شی ورکړه ، کله چي یې هغه وخوړل نو په ټوکو یې ورته وویل چي ما په دې خوړو کي زهر اچولي وه مړ کوي دي هلک په ډېره وارخطایي سره ورته وویل که مړ سوم پلار ته به څه وایم .

استراحت او استقامت

یو سړي د خپل ملګري څخه پوښتنه وکړه ، که دي ښځه په کور کي نه وي ته څه کوې ؟ هغه ورته وویل هغه وخت نو استراحت کوم او که مي ښځه په کور کي وي ، نو هغه وخت استقامت یا مقاومت کوم

ځان راباندي ګران دئ

یوه ځوان هلک نجلۍ ته وویل چي ډ ېره راباندي ګرانه یې ، هغې ورته وویل چي زه هم لکه تا غوندي یم ، ځان مي ډېر راباندي ګران دئ .

د سپین ږیري ژړا

یوه ورځ یو سپین ږیري ژړل ، چا پوښتنه ځني وکړه چي ولي ژاړې ؟ ده ورته وویل په دې خاطر چي پلار مي ووهلم ، سړي ورته

سره وویلې ، په دې وخت کي ترکي څه عقب نشيني وکړه ، چا ورته وویل چې ولي ورته سُست سوې ، زور دي نه په رسېږي ؟ هغه ورته وویل نه ! زه چې هر څونه ښکمځل ورته کوم دی قرآن شریف راته لولي ، نو مي ځکه عقب نشيني وکړه .

عسکرو ته جزا

یوه قوماندان خپلو عسکرو ته جزا ورکوله ټولو ته یې وویل د دوی کنټرول وکړي ، د پښو په منځ کي یې یوه ښې پښه ولیدله . پر ناري یې کړه چې کوم احمق دواړه پښې پورته کړي دي ؟

د ښځو سره واده

یوه ملا وعظ کاوه که سړی یوه ښځه ولري ، په هغه دنیا کي یوه ډېره ورته لګېږي ، او که دوې ولري دوې ډېرې ورته او که درې

څلور يا پنځه وي په هغه ترتيب د ډېوو شمېر هم ورسره زياتېږي .
په دې وخت کي يې خپله ښځه وليد له په وارخطايي سره يې بڼ
کړه چې اې خلګو ! که هلته برق ګيس وي نو ډېرې ډېوې څه په
کار دي .

دګاونډي چکش

یوه سړي خپل زوی ته وویل چې ورسه دګاونډي د کور څخه یو چکش راوړه ، چې دغه مېخونه په ټکوهو. هلک بیرته راغی او وې ویل پلاره چکش یې رانه کړ . پلار یې وویل چې زاری به دي ورته کړي وای ، خواهش به دي ځني کړی وای .زوی یې ورته وویل ورته ومي کړې رایې نه کړ . نو پلار یې ورته وویل د عجبو سختو خلکو سره مو ګذاره ده ، ځه ورسه خپل چکش راواخله .

غټ حیوان

یو کوچنی هلک د خپل پلار سره ژوبڼ ته تللی و .د پلار څخه یې پوښتنه وکړه چې د دغه زمري سر څونه غټ دئ دلیل یې څه دي ؟ پلار یې ورته بې جوابه سو ، سوچ یې وکړ په پای کي یې ورته وویل دا په دې خاطر چې سر یې د اوسپني د میلو څخه راونه وزي .

کم رنګه یا نرۍ چای

قاضي مجرم ته چې په اعدام محکوم سوی و ، وویل چې خپله وروستۍ هیله دي ووایه . هغه وویل چې یوه پیاله کم رنګه یا نرۍ چای راته راوړئ . قاضي ورته وویل ولي کمرنګه چای ؟

مجرم جواب ورکړ :- چي اورېدلي مي دي چي ډېري ګاټه چای زړه ته زيان رسوي .

لمر دئ که وريځ ؟

يوه ورځ مور خپلي لور ته وويل :-لوري ورسه و ګوره چي د باندي لمر دئ که وريځ ؟ نجلۍ ور ووتله او بيرته راغله وې ويل مورجاني ! باران اوري نه سم کولای چي له کوټې څخه ووزم او وګورم چي لمر دئ که وريځ !!!

د خوب ګولي دي خوړلي دي ؟

يو هلک د پلار د خوب خوني ته په تلوار ورغی ، پر پلار يې چي په درانه خوب بيده و، ږغ وکړ، چي پلاره پلاره ! پلار يې له خوته څخه راويښ سو ، زوي ته يې وويل چي څه خبره ده ؟ زوی يې ورته وويل :-غوښتل مي چي درته ووايم چي خپلي د خوب ګولۍ دي خوړلي دي که نه ؟

سوځلی اورلګیت

یوه سړي سوځلی اورلګیت واهه، واهه چي ولګېږي، خو هغه نه لګېدی ، ملګري ورته وویل چي څه په کوې ، ممکن اورلګیت خراب سوی وي . ولي یې دونه ډېر وهي ؟ ده ورته وویل چي اورلګیت وران نه دئ ځکه چي پنځه دقیقې مخکي مي ټول ولګاوه .

درې واري مېلمستیا

یو ویر جن سړی کور ته راغی ، ښځي یې پوښتنه ځني وکړه چي ولي داسي غمجن یې ؟ ده ورته وویل چي دا دریم مړی دئ چي ګاونډي د هغه خیر و خیرات ته او همدارنګه ختمونو ته خبر کړی یم مګر مورِ تر اوسه په دغسي مراسمو کي نه دی مېلمه کړی .

بزرګه سپین سرې

یوه سپین سرې ښځه پر لمانځه ولاړه وه ، څوتنه ناست وه د دې صفت یې کاوه او ویل یې چي :- دې ښځي ته دي خدای اوږد عمر ورکړي ،ډېره ایماندار ه او پرهېزګاره ښځه ده ، د لمانځه په وخت کي یې فکر او چرت ټول په لمانځه کي وي که سل نفره

خبري کوي دايې نه اوري ، ولي چې په خپل لمانځه بوخته وي . په دې وخت کې دې سلام وګرځاوه او وې ويل :- تاسې ډېر ښه وایاست ، روژه مې هم نیولې ده ،او حج ته هم تللي یم نور زیارتونه مې هم کړي دي .

زمونږ پرتوګ

یوې ښځې په ډېره غصه خپل مېړه ته وویل چې ته هر وخت وایي :- زما زوی ، زما کور ، زما کالي ، دا ډېر بد کار دئ ، نور به وایې چې زمونږ کور ، زمونږ زوی ...

سړي وویل چې خبره صحیح ده ، مګر اوس کېدلای سي چې راته ووایې چې زمونږ پرتوګ چیري دئ ؟

د سلیم ټول دوستان سلام وایي

یو سړی سفر ته روان و ، خپل ملګري ته یې وویل چې زه په سفر ځم ، که کوم نوی یا بېګانه سړی زما کور ته راغی ، نو ته لطفاً یو خط یا فکس ما ته راولېږه او راته ووایه چې سلیم سلام وایي او که دوه تنه راغلل نو به راته ووایې چې سلیم او ورور یې سلام وایي . کله چې دی سفر ته ولاړی څه وخت وروسته یې ملګري یو خط وارواستاوه چې پکښې لیکلي وه ، چې سلیم ، ورور او

ټوله کورنۍ يې سره له ټولو دوستانو تاته ډېر ډېر سلامونه وايي
.

يوه ګډۍ ګلان يې اوبو ته اچولي وه

يو سړی ډېر بد چانسه او بد بخته و ، په هر ځای کي چې به يې ګام کښېښووی هلته به ويرا و غم جوړ سو ، يوه ورځ د ده د تره د زوی واده و ، ده ته يې وويل چې لطفاً واده ته مه راځه . او د کلي څخه ووزه چې بيا کومه خبره پېښه نه سي او واده مو خراب نه سي .دی هم د کلي څخه ووت ، يوه ګډۍ ګلان يې جوړ کړه او په هغه واله کي يې ورايله کړه چې د واده له کوره تېرېدله ، ده غوښتل چې په دې ډول خپلي ښې هيلي د واده خلکو ته وښيي ، خو کله چې کور ته راغی واده په ويرا و غم بدل سوی و ، هغه دا چې هغه ګډۍ ګلان چې ده په واله کي ايله کړه وه ، يوې وړې نجلۍ چې د زوم خور کېده ليدلي وه ، او غوښتل يې چې هغه له اوبو څخه راوباسي ، کله چې ورنزدې سوه نو په اوبو کي ولېده ، او ځای پر ځای مړه سوه .

زه خو اصلاً حسن نه يم

يوه سړي بل ته ورږغ کړه چې :- ښځه دي له بامه راولوېده ، او مړه سوه . هغه هم سم دستي په ځغاسته پيل وکړ ، څو دقيقې

وروسته ودرېدی د ځانه سره يې وويل زه خو اصلاً کور نه لرم ، بيا يې په منډو پيل وکړ ، بيرته ودرېدئ .او وې ويل چې زه خوصلاً ښځه نه لرم . بيا يې هم منډې وهلې ، څه ګړی وروسته ودرېدی او د ځانه سره يې وويل :- اې بابا ! زه خو اصلاً حسن نه يم.

د خوښۍ څخه به سکته وکړم

يوه ښځه چې د مرګ په حال کې وه ، د خپل مېړه څخه يې پوښتنه وکړه چې که زه مړه سوم ته به بله ښځه وکړې که يا ؟ هغه ورته وويل چې نه !ستا تر مرګ وروسته به زه هم مړ سم . ښځې يې ورته وويل چې دا په دې خاطر چې زه ډېره درباندې ګرانه يم او ځان به مړ کړې؟ده ورته وويل نه ! داسې نه ده ، زه به اصلاً له خوښۍ څخه سکته وکړم.

په نېکر کې مرکه

يوه ورځ يو ځوان په نېکر کې د نجلۍ کور ته په مرکه ورغی ، هغو پوښتنه ځنې وکړه چې څنګه راغلې ؟ ده ورته وويل ممکن مرکه مې ومنل سي ، نو دلته به پاته سم.

يو کار به ته کوې يو به زه

دوو تنو چي سرونه يې گرم وه په يوه کور کي ناست وه چي دروازه وټکېد له ، يوه بل ته وويل چي :- ور ولاړه سه ، او ور ورخلاص کړه . دوهم تن ورته وويل چي يو کار به ته کوې او يو به زه کوم ، هغه دا چي زه به ور ولاړسم خو دروازه به ته ورخلاصه کړې .

د سګلۍ وهل

يو سړی چي په اعدام محکوم سوی و ، نو ورته وويل سوه چي وروسته غوښتنه دي ووايه ! ده وويل څوک چي :- سوګلۍ وهې ، خلک داسي وايي چي بايد کومه د ډار خبره ورته وسي چي سوګلۍ يې ودرېږي ، نو تاسي لطفاً ما يو څه وبېروئ چي دا سوګلۍ مي ودرېږي .

شرط

يو امريکايي او يو انګليسی رستورانت ته ولاړل ،او داسي پر بڼه يې وکړه چي هر يوه که ډېر درواغ وويل د رستورانت مصرف به هماغه ورکوي . امريکايي پيل کړه چي زموږ په وطن کي يو ډېر ښه سړی دئ ، با تربيه او د ښو اخلاقو خاوند و . دفعتاً انګليسي خبر ورپرېکړه او ورته وې ويل لازمه نه ده چي خبري ته دوام ورکړې ، شرط دي وګاټه .

سړی نو د کوم ځای وي

د یوه لغماني څخه چا پوښتنه وکړه چې د کوم ځای یې ؟ هغه جواب ورکړ چې سړی نو د کوم ځای وي !!!

د عیسوي مسلمانېدل

یو عیسوي یوه مسلمان ته ورغی چې د مسلمانۍ ترتیب راوښیه . څرنګه چې د مسلمان څه شي زده نه وه ورته وې ویل چې بل چا ته‌ورسه. ته غواړې چې زما او د عیسۍ تر منځ د ښمني واچوې ، او د قیامت په ورځ به راته وایي چې زما امت دي زما له دین څخه اړولی او دسحي‌لاري څخه دي ایستلی دئ .

زه د بي‌بي حوا لور یم

یوې ښځې په ښاري بس کي چې ډېر ښېروبار و او خلک ډېر نزدې سره ولاړ وه ، ویې پرنجل . چې د خولې ناړي د یوه سړي په څټ کي و موښتې ، هغه په ډېره غصه ورته وویل چې د بني آدم لور نه یې !دې ورته وویل چې نه زه د بي‌بي حوا لور یم .

زه د دې کور خاوند یم

یو سړی د کور مخي ته ناست و ورځپاڼه یې لوستله، بل سړی راغی پوښتنه یې ځني وکړه چې تاسي دویلو خاوند یاست ؟ هغه ورته وویل چې نه زه د دې کور خاوند یم .

درې لټان

درې تنه لټان د یوه زردالو تر وني لاندې پراته وه ، یوه وویل کاشکي یو زردالو راسأ زما په خوله کي رالوېدلی وای . دوهم چې تر ده هم لټ و وې ویل کاشکي زما په خوله کي هم رالوېدلی وای ، خومند که یې ځني وتلې وای . دریم وویل چې دا دئ بې مند کي زردالو مي په خوله کي پروت دئ ، په چا یې ژوېې .

د الفبا توري

یوه هلک د بل څخه پوښتنه وکړه چې د الفبا توري څو دي ؟ هغه وویل دو دېرش توري دي . لومړیې هلک وویل چې نه داسي نه ده بلکي پنځه توري دي . هغه وویل چې ځنګه ؟ ده ورته وویل چې :ا، ل، ف، ب، ا.

د دې زړې کورتۍ سره

يوه هلک و خپلي مور ته وويل چي موي ځم په کوڅه کي مستي کوم . موريې ورته وويل چي د دې زړې کورتۍ سره ؟ هغه ورته وويل نه ، د ګاونډي د لور سره .

د ږيري ماشين

يو ځوان چي په اوږده سفر تللی و . تر پنځو شپږو مياشتو وروسته کله چي کور ته ښر ته راغی او دروازه يې وټکوله . که ګوري چي ورور يې را ووت ، ږيره يې تر نامه پوري رسېدلې ، وه . ده ورته وويل چي وروره خيريت دئ څه خبره ده؟ هغه څه ونه ويل ، بيا چي ګوري دوهم ورورېې واووت له هغه څخه يې هم پوښتنه وکړه او ورته وې ويل چي څوک خو به نه وي مړ سوی ؟ څه غم خو به په کور کي نه وي . هغه وويل :- نه خيريت دئ . بيا يې وليده چي پلار يې راووت د پلار ږيره يې تر ټولو اوږده سوې وه . ده ورته وويل چي : پلار جانه ! خيريت دئ دا په ټولو څه سوي دي ؟ پلار يې ورته وويل :- تشويش مه کوه خير و خېريت دئ ، يوازي مشکل په دې کي دئ چي د کور يوازينی د ږيري ماشين تا د ځانه سره وړی و .

سپنما او خوب

مېړه او ښځه سېنما ته ولاړل . د فلم په پای کي ښځي خپل مېړه په ځنګل ووا‌هه او ورته وې ویل :- زما د ښي اړخ سړی د فلم له پیل څخه تر اوسه بیده دئ ، سړي په قهر سره جواب ورکړ چي بلا ورپسې چي بیده دئ ، نو ما ولي راویښوې ؟

د ستوني ډاکټر

یوه ښځه د ستوني ډاکټر ته ورغله . ډاکټر د معاینې په وخت کي ورته وویل چي خوله دي خلاصه کړه . هغې چي خوله خلاصه کړه ده یې لرګی په خوله ورننه ایستی ، ښځي یې لاس په ځنګل ور پوري واهه او ډاکټر ته یې وویل چي :- آیس کریم تاسي خورئ ، او لرګي یې زمونږ په خوله رامنډئ .

مفت رستورانت

یوه سړي د خپل رستورانت پر سر لیکلي وه چي مهرباني وکړئ راسئ ، هر شی چي خورئ ویې خورئ ، مونږ یې پیسې له تاسي څخه نه اخلو ، بلکي ستاسي پیسې به مو لمسیان او کړوسیان راکړي . یوه سړي چي دا اعلان ولوست رستورانت ته ولاړی .

ښه خواړه يې راوغوښتل چې ډوډۍ يې وخوړله ، ولاړسو . چې د هوټل څخه ووزي ، د هوټل شاکرد دهغه مخه ونيوله چې پيسې دي رانه کړې. سړي ورته وويل چې تاسي ليکلي دي چې پيسې به مو د لمسيانو او کړوسيانو څخه اخلی . هغه ورته وويل چې :- دا خبره صحيح ده خو ته دي د غورنيکه پيسې راکړه چې دلته يې ډوډۍ خوړلې وه .

اې زما ګرانې

يوه سړي خپلې ښځې ته وويل :- اې زما ګرانې ، زما سپوږمۍ ، اې زما روحه ! او اې زما ځانه ! زه دي تر تا قربان سم !!! ښځې يې ورته وويل ته اوس دا خبري پرېږده ، درځه يوه جوړه طلايي غوږوالي رارانيسه . سړي ورته وويل چې ما خو درته وويل چې زه دې تر قربان سم نه زما پيسې .

د جراحۍ ډاکټر

د جراحی ډاکټر يوه ناروغ ته وويل چې ستا ښځه او زوی چې ما وليدل ، ډېره سخته ده چې زه به د دوی څخه ستا د عملياتو پيسې واخلم . نو ته که په رشتيا غواړې چې عمليات وکړې ، خپلې پيسې دي مخکې راکړه . ناروغ وويل تر عمليات وروسته

به يې درکړم ، ډاکټر ورته وويل ، تاسي ډېر خوشباوره ياست تر عمليات وروسته هم د ژوند امید لرئ !!!

درد

يوه ډاکټر خپل ناروغ ته وويل :- دغه نسخه چي درته ليکم که يې د لارښووني سره سم عمل په وکړې په همدې نسخه دي ټول دردونه له منځه ځي . ناروغ ورته وويل چي :- ډاکټر صاحب ! زه تر اوسه پوري ډېري آرزوګاني لرم ، نه غواړم چي په همدې نسخه مي کار خلاص سي . ډاکټر ورته وويل چي درد به دي خلاص سي . نارغ وويل :- هغه سړی چي په دې نړۍ کي دردونه لري يعني دا چي کار يې خلاص سو .

ناارامي

ډاکټر مريض ته وويل چي د کوم ځای څخه ناآرامي يا شکوه لرې ؟ هغه ورته وويل که رشتيا درته ووايم يو ستا د اجورې او بل د دواخانې د دوا او نسخې د پيسو ورکولو څخه .

داخبره مي هېروه

په محکمه کي قاضي يو سړی ته وويل چي دغه د غاښو ډاکټر وايي چي د غاښ ايستلو په وخت کي چي درد دربانديغلبه

کړې وه ورته ویلي دي دي چې ډېر وحشي او یاغي ډاکټر یې ، آیا دا حقیقت لري ؟ سړي ورته وویل هو ! قاضي سړي ته وویل چې :- بیا دي نوري بدي خبري او خصوصاً ورته ویلي وه چې خر غول یې ؟ سړي ورته وویل :- ډېر وبخښه چې داخبره مي هلته هېره وه چې ورته ویلي مي وای .

ټینګه څپېړه

په یوه مرستون کي یوه لېونې بل ښه ټینګ په څپېړه ووهه . دا بل لېونې ورته وویل چې دا راته ووایه چې دا څپېړې پر ځای راکړه ، کومه چې ما لس کاله مخکې در کړې وه ؟ که دي په ټوکه ووهلم ؟ هغه ورته وویل چې نه ! دا یوازې یوه ټوکه وه . دا بل ورته وویل چې ځه نو پروا نه لري ، که نه ما دونه ټینګه نه وې وهلی .

ژړا

مور خپل کوچني زوی ته چې د ژړا په حال کي و، وویل چې ولي ژاړې ؟ زوی یې جواب ورکړ :- ما غوښتل چې مشر ورور مي ووهم ، هغه راڅخه وځغستل او وتښتېدی .

پزه پرېکړی

یوه سړي خپل ملګري ته وویل چي :- خبر یې که نه ؟ د بر کلي علي هم قاچاقبر سوی دئ ؟ ملګري یې ورته وویل چي د هغه پزه پرې کړي څخه هیڅ شک نسته .

بې کفنې

یوه سړي بل ته‌وویل چي یو زر افغانۍ لرې؟ هغه ورته وویل چي اې بابا د بې کفنی څخه ژوندی یم .

د ښوونځي زنګ

ښوونکي د زده‌کوونکي څخه وپوښتل چي په تېر کال کي کوم شی تر ټولو زیات خوشحاله کولې ؟ هغه ورته وویل چي په ښوونځي کي که دباندي ؟ معلم ورته وویل ، په ښوونځي کي ! زده‌کوونکي وویل چي د تفریح او رخصتۍ زنګ !!!

چي ونه تښتي

یوه هلک د بل هلک څخه پوښتنه وکړه چي ستا پلار د پولیسو سره ډېر جوړ او نزدې دوستي لري . هغه ورته وویل چي څنګه ؟

ده ورته وویل هغه بله ورځ مي ستا پلار ولیدی چي د پولیسو سره لاس په لاس روان و . ملګري يې ورته وویل :- هغه په دې خاطر چي زما پلار ورځخه ونه تښتي .

د صف پای

یوه قوماندان د تعلیم په میدان کي یوه ساده او خشره عسکر ته وویل چي ولاړ سه ، د صف په پای کي ودېږه ! ده منډه کړه د صف پای ته ورسېدی او بیرته راغی ، قوماندان ته يې وویل چي د صف په پای کي نه سم درېدلای ، هغه ورته وویل چي ولي ؟ ده ورته وویل چي هلته بل عسکر ولاړ دئ .

مرکه

یوه ځوان د نجلۍ له پاره په مرکه ولاړی ،د نجلۍ مور پوښتنه ځني وکړه :-

کورلرې ؟ ده وویل نه والله.

کارکوې ؟ نه والله.

دوکان لرې ؟ نه والله.

پیسې او شتمني لرې ؟ نه والله .

سواد لرې ؟ نه والله .

موټر لرې ؟ نه والله .

نو څه شي لرې ته راته ووايه ؟

هغه وويل چې ښه ځواني لرم ، خو يو څه شرمندو کی يم ، په کار کې ډېر کارګر يم ، خو اوس کار نه لرم ، دوکان او مغازه نه لرم خو يوه ورځ يې رانيسم ، پيسې خو ښې نه لرم...!!!

زه يې جوړونکی يم

قاضي په محکمه کي د يوه تورن څخه وپوښتل چې څنګه دي دا غټ کلپ خلاص کړ؟ حال دا چې هيڅ تجربه هم نه لرې . هغه جواب ورکړ چې :- چا ويل چې زه تجرته نه لرم ، دا ما ته توهين دئ ځکه چې زه د دې کلپ جوړونکی يم .

پور

يوه سړي د بل څخه وپوښتل چې يو زر افغانۍ مي په کار دي که يې لرې چې پور يې راکړې ؟ هغه ورته ووېل چې نه سوه او نه نوي کمي دي ،ده ورته ووېل :- خير دئ پروا نه‌لري هغه ته به بيا وروسته راسم .

لکه تا غوندي

مور خپل زوی ته وویل :- زویه ! ته خو پلار سره دفتر ته تللی وې ، راته ووایه سکرټره یې ښایسته وه ؟ زوی یې ورته وویل :-نه مورجاني ! عیناً لکه تا غوندي وه .

ځان په غاښول

یوه سړي د خپل ملګري څخه پوښتنه وکړه چي ولي دي ځان په غاښوې ؟ هغه ورته وویل : غواړم چي ځان ورسره عادت کړم . لومړي ورته وویل د غاښو سره ؟ دوهم ویل هو ! دا په دې خاطر چي هر وخت کور ته ورسېږم ښځه مي عادت لري چي ما په غاښ کړي .

ورک سوی ساعت

یوه سړي خپل ملګري ته وویل چي په یاد دي دي چي پنځه کاله دمخه مي یو ساعت ورک سوی و؟ هغه ورته وویل چي هو په یاد مي دي . لومړي ورته وویل چي پرون مي د خپل کوټ جېبونه لټول پیدامي کړ ، هغه ورته وویل چي حتماً دي خپل ساعت پیداکړی دئ ، ده ورته وویل :- نه ګرانه !هغه سوری مي پیداکړ چي ساعت ځني لوېدلی و

ورستۍ هيله

د يوه اعدامي څخه يې پوښتنه وکړه چې خپله وروستۍ هيله دي ووايه ! هغه وويل چې خوشي مي کړئ په خپل کار پسې ولاړ سم.

چغلي

زوی پلار ته وايي :-

چغلي او شيطانت څه ته وايي؟

پلار يې ورته وويل چې د مور څخه دي پوښتنه وکړه .

زوی يې وويل چې مور مي د ګاونډي د ښځي سره بوخته ده ، د هغه نورو ګاونډيانو په هکله خبري کوي او هم يې د کلي د ډېرو خبرو څخه ځان خبروي چې څه پېښه ده .

پلار يې ورته وويل :-

زويه ! چغلي او شيطانت همدغه ته وايي چې مور دې کوي .

مسافرت

د يوه سړي څخه چا پوښتنه وکړه چې د جاپان مسافرت دي څنګه و ، هغه ورته وويل چې ډېر ښه و . بيا يې پوښتنه ځني وکړه ځني وکړه چې په جاپان کي خو دي د ژبې مشکل او ستونزه نه درلوده ؟ده ورته وويل : نه ! ما هيڅ نه درلوده مګر جاپانيانو راسره درلوده .

صف باز

ديوې ښځي څخه چا پوښتنه وکړه چې مېړه چې دي څه کار کوي ؟ هغې ورته وويل چې مېړه مي صف بازدئ . ښځي ورته وويل چې ما خو کرکباز ، کوترباز ، سګباز ، زنکه باز ، بچه‌باز او داسي نو اوربدلي وه ، مګر صف بازي ببخي نوې خبره ده دا څه معنٰی لري ؟ هغې ورته وويل هر ځای چې صف يا قطار ووينې بېله ځنډه په هغه صف کي درېږي .

د پلار جان د برکته

ښوونکي زده کوونکي ته وويل چي ووايه د کوم حيوان له برکته دي دغه بوټونه په پښو دي ؟ هغه ورته وويل چي د پلار جان له برکته .

نه وهل

يوه سړی خپلو ګاونډيانو ته وويل چي ما پخپل عمر خپل زوی نه ډئ وهلی ، يوه همسانه ورته وويل :- اې بابا ! هغه بله ورځ دي منډې پسي وهلې چي ويې نيسې او ويې وهې . ده ورته وويل نه کي مي نيولی وای وازي مي ورته ويل چي نه دي وهم .

زما زوی نه ډئ

يوه سړي بل ته شکوه کوله چي ستا زوی وهلی ډئ ، هغه ورته وويل چي کوم ځای خو به يې نه وي ورمات کړی ؟ سړي وويل نه ! بيا ده ورته وويل دا نو زما زوی نه ډئ وهلی ، ولي چي زما زوی که څوک ووهي حتماً يې کوم ځای ورماتوي.

ورستۍ غوښتنه

يوسړي ته چي په اعدام محکوم و وويل سوه چي وروسته غوښتنه دي وويه . هغه وويل چي وبه منل سي که نه ؟ دوی

ورته وويل چي هو منل کېږي . مجرم ورته وويل : ما خوشي کړئ ښځه مي اعدام کړئ .

ښه او بده خاطره

ښوونکي د يوه زده کوونکي څخه پوښتنه وکړه چي تر ټولو ښه او تر ټولو بده خاطره دي کومه خاطره ده ؟ هغه ورته وويل چي تر ټولو ښه خاطره مي دا ده چي ته به کله ناوخته راغلې سر معلم به درته په قهر سو ، مګر ډېره بده خاطره مي دا ده چي تا به په لښتو پر لاسو وهلم .

ډېر کوچنيان

يوه ښځه او مېړه دخپل دوست کره په مېلمستيا ولاړل ، هغو ورته وويل چي ولي مو واړه او کوچنيان نه دي درسره راوستلي ، لکه چي موږ ته هم دا را زده کوئ ، يعني کوم چي موږ ستاسي کره درځو ، کوچنيان به نه درولو . ښځي يې روته وويل چي نه داسي نه ده . دفعتاً يې مېړه ورته چي نه همداسي ده . زما د ښځي خبره دا معنٰی لري چي موږ يواري دوه کوچنيان لرو او ستاسي دا نام خدا نانوايي ده.

ناوخته راتګ

کله چې سړی کور ته ورننوت ، ښځي يې په ډېر قهر پوښتنه ځني وکړه چې تر اوسه پوري چيرې وې ؟ مېړه يې په ويرجن حالت جواب ورکړ چې د ميرويس کره تللی وم چې هغه خوارکي ټکر کړی دئ ، د هغه سره بند سوم ځکه راباندي ناوخته سو . ښځي يې ورته وويل چې هواوس يې حال ښه دئ او دا دئ دوه ساعته کېږي چې تاته په هغه بله کوټه کي منتظر دئ.

چالاکي

يوه ښځه خبره سوه چې ددې خورځه سبا مېلمانه لري ، نو ټليفون يې ور وکړ چې سبا شپه تاسي ټول زمورِ مېلمانه ياست ، هغې ورته وويل چې سبا شپه مورِ په خپله مېلمانه لرو ، نه سو درتلای . ترور يې ورته وويل چې نه سی راتللای خير دئ قسمت ته مو همداسي وي ، ګوره مه خپه کېږي سبا به ستا د خوشحالۍ له پاره مورِ ټول درسو

لوښې خر څوونکی

پوليس يوه لوښي خرڅوونکي ته وويل چې ما پرون درته ونه ويل چې دلته دي نور بايد ونه وينم ، هغه وويل :- هو ! تا ويلي وه ، مګر دا ځای چيرې او هغه ځای چيرې ؟ ما لږ تر لږه شل مټره ځای بدل کړی دئ ، او کښته راغلی يم .

نوی شعر

یوه سری نوی شعر لیکلی و ، هغه یې خپل کلګري ته ولوست، او ورته وې ویل چې څنګه شعر دئ ؟ مګري یې ورته وویل ښه قافیې او وزنه شعر لکه ښوروا چې غوښې ونه لري داسي وي . شاعر ورته وویل چې ته نو حتماً وږی یې چې شعر د ښوروا او غوښو سره مقایسه کوې . ملګري یې ورته وویل :- وروسته تر دې زیار وباسه چې شعر هغه چا ته وولیې چې په نس مړ وي ، وږی په شعر څه پوهیږي .

د هوسۍ کوټی

زوی د خپل پلار څخه پوښتنه وکړه چې بابا وازې دي د هوسۍ سر راوړی دئ ، ولي دي پخپله هوسۍ رانه وړه ؟ پلار یې ورته وویل :- تر ما مخکې بل ښکاري هوسۍ وړې وه یوازې سر یې پاته و.

اعدامي

په اعدام سره محکوم سړي څخه يې پوښتنه وکړه چې وروسته هيله دي ووايه ! هغه وويل :- چې يو څو دانې بادرنګ راکړئ چې ستونی مي بېخي وچ دئ .دوی ورته وويل چې اوس د بادرنګو وخت نه دئ ، نه پيداکېږي، تر دي تېر سه . اعدامي ورته وويل ، تېريم مګر زه حاضر يم چې د هغه پرځای خپل ژوند درکړم او اعدام مي کړئ .

مور او لور

يوې مور خپلي کوچنۍ لور ته وويل چې لوري ! نن دي په مکتب کي څه شي زده کړل ؟ لور يې وويل : موري نن مي زده کړل چې د مور او پلار خبروته بايد غوږ ونيسم ،او د هغو په خوله او امر کار وکړم ، او هر څه چې راته وايي بايد ويې منم . مور يې ورته وويل : شاباس ، آفرين لوري ! اوس نو ولاړه سه لوست دي راواخله او ويې لوله ! لور يې ورته وويل : يوازي دا نه غواړم مور جاني !

نوم دي څه شي دئ ؟

د يوې نجلۍ څخه چا پوښتنه وکړه چې نوم دي څه شي دئ ؟ هغې وويل چې نوم مي توسنده بي بي ، بي بي مهتابه ، خاتيمو ، سلطان بېګمه ... هغه ورته وويل چې دا څنګه نوم دئ ؟ نجلۍ

ورته وويل چې زما د مور اولادونه ټول مړه کېدل نو د ټولو نومونه يې پر ما کښېښول او دا دئ زه ژوندی سومه . هغه وويل عجب ! نجلی وويل هو د پلار نوم مي رجب دئ .

د جېب خالي کول

يوه سړي خپل ملګري ته وويل چې پوهېږې زما جېب هر سهار يو څوک راخالي کوي . هغه ورته وويل ته رشتيا وايې ؟ زمور د کوره سره هم يو سوداګر دئ هره ورځ جېب هلته خالي کوم . سړي ورته وويل چې ته خو ډېر ښه يې د سوالګر پيسې خوستا په جېب کي پرېږدي ، زما ښځه يوه افغانی هم زما په جېب کي نه پرېږدي .

شکايت

يوې ښځي پوليس ته شکايت وکړ . هغو ورته وويل هغه وخت چې غل پردېوال درختی ولي دي نارې او چغې نه وهلې ؟ چې ګاونډيان دي هم خبر سوي واى .ښځي وويل چې زه ښېږدم چې غل وارخطا نه سي او لاندي راونه لوېږي ، خداى ناکرده لاس او پښې به يې ماتي سي . پوليس ورته وويل چې پرېږده چې لاس او پښې يې ماتي سوي واى چې بيا يې غلا نه واى کړې . ښځي

وويل چي بسم الله دي وي تاسي څونه ظالمان ياست ، خداى دي نه كوي هغه زما يو دانه لمسى دئ .

چي نه وي گروپ يې لګېږي

يوه سړي د خپل ملګري څخه پوښتنه وكړه چي دا ستاګاونډي هيڅكله په كور كي نه وي ، ده ورته وويل چي څنګه پوه سوې چي نه وي هغه ورته وويل چي هره شپه يې ډېوه مړه وي . ده ورته وويل :-اې بابا ! هغه دغسي چل كوي كله چي په كور كي نه وي گروپ لګوي ، او كله چي په كور كي وي بيا نو گروپ مړ كوي .

معاش يا تنخواه

يو سړى چي ناروغ و نو په معاش پسي يې خپله ښځه ولېږله ، هلته يې ښځي ته دوه زره افغانۍ وركړې ، ښځي يې په جدول كي اصلي معاش وليدى چي لس زره افغانۍ دئ . هغې پوښتنه وكړه چي دا څنګه مو له لسو زرو څخه دوه زره افغانۍ راكړې ؟ د معاش مامور ورته وويل چي ۱۵۰۰ ، افغانۍ د بيمې ، ۲۵۰۰ ، افغانۍ د برق ۱۰۰۰افغانۍ د ګاز ، ۲۰۰۰افغانۍ د كور كرانه ، ۵۰۰ افغانۍ د تقاعد ، ۵۰۰افغانۍ د كلوپ ، ۱۰۰۰افغانۍ داوبو او ۱۰۰۰افغانۍ هم د پېشكي له پيسو څخه ګرځي . ښځي ورته

وويل چې يو شی مو ممکن هېر سوی وي هغه ستاسي حق او بخښش!!!

مينه او ګرانښت

د پوليسو مامور ، ښځې ته چې شکايت يې کړی و ، وويل چې تا ولي هغه وخت چې مېړه دي هغه بله ښځه نازوله موږ ته خبر رانکړ ؟ هغې وويل ما غوښتل چې وګورم چې ما ډېره نازوي او که هغه بله ښځه ، ښه اوس نو ووايه چې درته معلومه سوه چې کومه يوه پر ګرانه ده ؟ ښځې وويل يوه لا هم نه يو پر ګراني ، چې مطلب يې حاصل سي والله که د يوې په فکر کي وي .

مبارکه ورځ

يوه ښوونکي وويل چې سبا ډېره مبارکه ورځ ده ، يوه هلک دستي په خبرو کي ورولوېدی ، ورته وې ويل چې دا مبارکه ورځ رخصتي ده ؟ هغه وويل هو ! څرنګه چې سبا جمعه او رخصتي ده ، کاشکي دغه مبارکه ورځ سبا نه‌وای .

بد معامله

يوه سړي خپل دوست ته وويل چې يولس زره افغانۍ لرې چې ډېر مي لاس بند دئ ؟ هغه ورته وويل هو خود يې لرم ، سوي وويل

چي خداى دي خير درکړي ، نو کله راسم چي رايې کړې ؟ هغه ورته وويل هر وخت چي دي هغه نوري لس زره افغانۍ داوړې .

ناروغي

يوه ناروغ ډاکټر ته وويل چي دا زما لسم وار دئ چي درته دائم ولي نه رغېږم ؟ ډاکټر ورته وويل چي ستا ناروغي ډېر خطر ناکه ده که ته جوړ سې هم بايد په هفته کي يو وار راسې ، که نه مړ کېږي . ناروغ ورته وويل که ستا د هر ي هفتې پيسې نغدي درته راولېږم او زه رانه سم ، څنګه کېږي ؟

شپږ بجې

په يوه مېلمستون کي يوه مسافر ته وويل سول چي سهار پر څو بجو دي داويښ کړو ؟ هغه ورته وويل چي تاسو ته تکليف نه درکوم زه خپله پر شپږو بجو راپورته کېږم . د هوټل خاونده ورته وويل چي داسي ده نو دغه سما وار هم درسره ولګوه .

روغ سړی

ناروغ ډاکټر ته وويل چي ډاکټر صاحب زه داسي احساس کوم چي روغ سړی نه يم . ډاکټر ورته وويل ولي داسي فکر کوې ؟

کوم ځای دي خوښېږي ؟ هغه ورته وویل نه کوم مي ځای درد نه کوي نو د دې څخه معلومېږي چي روغ یم .

چاغ سړی

یو ډېر چاغ سړی پر آس سپور و چا پوښتنه ځني وکړه چي څه خبره ده چي اوس پر آس سپرېږې ؟ هغه وویل چي دا د ډاکټر توصیه ده که نه زما یې په دې کار څه ...

دا بل ورته وویل څنګه ؟ هغه وویل چي ډاکټر راته وویل چي چاغ سوی یې د ورځي دوه واړه د سهار او مابنام لخوا ګرځه چي ډنګر سې ، نو دا دئ دا کار کوم .

باتربیه هلک

یوه کوچني هلک ته مور مالتې او کېلې ورکړې ، ورته وې ویل چي زویه پوستکې یې په خونه کي ونه غورځوې ، هغه وویل ښه دئ ! کله چي یې مور راغله ویې لیدل چي رشتیا یې هم پوستکي نه وه غورځولي او کوټه پاکه وه . مور یې ورته وویل آفرین زویه ! ښه دئ چي کوټه دي نه ده چټله کړې ، نو پوستکي دي چیر ته واچول ؟ ده ورته وویل چي تر فرش مي لاندي کړل .

څوک غښتلی دئ

یوه سړي بل سړی ښه ټینګ وهلی و ، پولیس پوښتنه ځني وکړه چې ولي دي داسي سخت وهلی دئ ؟ ده ورته وویل چې هیڅ چاره نه وه هغه په دې خاطر که ما نه وای وهلی ده وهلم . بیا پولیس ورته وویل چې پر څه باندي مو جنګ سو ؟ هغه ورته وویل : پر دې چې کوم یو زورور یو .

ناروغ

یو ناروغ ډاکټر ته ورغی او ورته وې ویل چې ډېر په عذاب او ناروغ یم . ډاکټر ورته وویل چې کوم ځای دي خوږېږي ؟ ده ورته وویل که پوهېدلای بیا تاته نه راتلم !

دترافیکو شین څراغ

یوه سړي د ترافیکو اشارې ته اوبه وراچولې ، بل سړي ورته وویل چې څه کوې ؟ هغه وویل چې :- ډېر وخت کېږي دې سړي اشارې ته ولاړیم ، نو اوس یې ببخ ته اوبه وراچوم چې ګوندي اشاره شنه سي .

فاتحه

يوې نرسي ډاکټر ته وويل چې د دريم اطاق ناروغ نن يو څه ښه سوی دئ . ډاکټر ورته وويل چې څنګه ؟ هغې وويل چې ناروغ ويل که دغه ډاکټر ما تداوي کړي زما کار خلاص دئ ، فاتحه مي ووایاست او د خدای پاماني ورسره وکړئ . بيا ډاکټر نرسي ته وويل چې تا بيا څه ورته وويل ؟ هغې ورته وويل چې نور مي څه ورته ونه ويل يوازي مي ډېر ډېر ورته وژړل.

ته خر يې

يوه لېوني بل ته وويل : _

ته خر يې .

هغه ورته وويل چې ته څنګه راباندي پوه سوې ؟

هغه ورته وويل چې په تايې څه چې زه څنګه پوه سوم .

وکيل

قاضي په محکمه کي يوه تورن ته وويل چې ځان ته دي وکيل نيولی دئ ؟

هغه ورته وويل چي هغو نه مي پيداکړي چي ستا برخه درکړم ، وکيل ته نه پاتېږي .

نسخه

ناروغ ډاکټر ته ووي چي هغه څه شي دي چي ليکې يې ؟

هغه ورته وويل معلومداره خبره ده چي نسخه درته ليکم.

ناروغ وويل :-

خير نو په دې صورت کي زه هم خپل وصيت ليکم !!!

پک

زوی خپلي مور ته وايي چي د نيکه سر مي ولي پک دئ ؟

مور يې ورته وويل :-

غلی سه ! چي نيکه دي خبر نه سي دا ډېره بده خبره ده .

زوی يې ورته وويل چي :-

بابا مي تر اوسه نه پوهېږي او نه دئ خبر چي سر يې پک دئ ؟

مېرمن مو څنګه ده ؟

یوه سړي چي چرت يې پر ځای نه و ، خپل ملګري ته وویل چي مېرمن دي څنګه ده ؟

هغه ورته وویل چي زه خو مېرمن نه لرم ، دی وارخطا سو او ورته وې ویل چي نه په خیال کي مي خپله مېرمنه وه .

ناروغ د او ډاکټر

ډاکټر ناروغ ته وویل :-

چي لومړی ورځ دغه ګولۍ په اوبو کي واچوه چي ویلي سي پر سر يې پورته کړه . دوهمه ورځ دغه نوري ګولۍ د يوه ګلاس اوبو سره پر سر پورته کړه او دریمه ورځ د دغه شربت څخه دوي کاشغي پر سر پورته کړه . ناروغ ورته وویل چي څلرمه ورځ څه شي پر سر پورته کړم ؟

ډاکټر ورته وویل چي په څلرمه ورځ اناالله و اناالیه راجعون پر سر پورته کړه .

خیرات

یوه سړي یوه سوالګر ته وویل ګوره کله چې مفلس سې ځې د نورو خلکو څخه پیسې غواړې زه چې دي دوست یم ماته نه وایې . دا کار زما نه خوښېږي ، هغه ورته وویل چې :- دا خو اسانه کار دئ زه اوس پیسو ته اړتیا لرم یو څه راکړه . هغه ورته وویل چې اوس نو چې ما ټولي پیسې خرڅي کړې ته راته وایې !!!

چالاکي

ښوونکي شاګرد ته وویل که زه ووایم احمد ، محمود په یوه ټینګه څپړه وواهه او وتښتېدی ، دا څنګه جمله ده ؟ هغه ورته وویل چې :-

دانو چالاکي ده . په دې خاطر چې که محمود ورته درېدلی وای هغه هم ډغر څپړه وهله

ورته وې ویل ، چې زمونږ پته ډېره اسانه ده هغه داسي چې زمونږ د کور دروازه په دېوال پوري منښتې ده ، کله چې زمونږ کوڅې ته راسې دستي یې پیداکوې ، غصه مه کوه .

سپين سترګی سړی

يوه سړی ځانته ښه خواړه لکه وريجي ، قورمه ، کباب او نور خواړه راوغوښتل ، کله چې يې ډوډۍ وخوړه ، د هوټل خاوند ته يې وويل چې له ما نه پيسې ورکي سوي دي او يوه روپي هم په جېب کي نسته ، هغه هم دی اشپزخانې ته بوتی او د هوټل غوړ

ډېر په عذاب سوم که امکان لري ، هر کار چې لرې لومړی به هغه وکړم بيا به ډوډۍ وخورم.

وړيا کتل

يوه ډاکټر د معاينه خانې پر لوحه ليکلي وه چې وړيا معاينه .

يوه سړي چې دا وليدل ورغی او په ډېر آرام زړه يې ځان په ډاکټر معاينه کړ او راجګ سو چې راووزي . ډاکټر ورته وويل چې فيس خو دي رانه کړ . ده ورته وويل چې تاسي پر لوحه ليکلي دي چې وړيا مو معاينه کوو . ډاکټر ورته وويل دا خو سمه ده مګر د اوبو مصرف ، د برق پيسې ، او د تعمير کرايه خو مفته نه ده .

ساه کښل

یوه سړي بل ته وویل چي ما درته ویلي وه چي د تنفس کولو پیسې هم باید ښاروالۍ ته ورکړل سي ، هغه بل وویل چي دا خو یوه آوازه ده . لومړي ورته وویل خو په همدغو آوازو سره پیل کېږي .

هیله

یوه سړي وویل چي زه هم یوه آرزو لرم هغه داچي یو مشهور لیکوال سم ، لکه پلار مي . بل سړي ورته وویل چي پلار دي لوی لیکوال و ؟ ده ورته وویل چي نه د پلار مي هم دا آرزو وه چي لوی لیکوال سي .

لازم فعل

ښوونکي د زده کوونکي څخه وپوښتل چي د لازم فعل له پاره څو مثالونه ووایه . شاګرد وویل لکه خوب کول ، ډوډۍ خوړل ، ساعت تېری ، تفریح کول ، سېنما ته تلل ، او داسي نور . معلم ورته وویل چي بس بس ! هغه چي لازم نه دي څه شي . شاګرد وویل : لکه درس ، ښوونځی ، امتحان او داسي نور .

هارن وهل

یو سړی چې د موټر پر جلو ناست و ، هارنونه یې وهل ، پولیس داغی پوښتنه یې ځني وکړه چې ولې هارنونه وهې ټول خلک دي په عذاب کړل ، ستا یوازي همدغه کار زده دئ ؟ هغه ورته وویل ولي ! د موټر د مخ څراغونه هم لګولای سي .

د خوړو ورانېدل

یوه سړي بل ته وویل چې څه کوې .دونه شیان دي وخوړل چې بیا به دي پر خټه درد سي ، او ناروغ به سې ، هغه ورته وویل نو څنګه وکړم ، که چیري نن شپه مړ سوم دا ټول خواړه پاتېږي او ورانېږي .

د کار پیداکول

یوې ښځې د بلي نه پوښتنه وکړه چې څنګه سو مېړه دي کار پیداکړ ؟ هغې سوړ اسوپلی وکیښ او جواب یې ورکړ چې هو ! د تل له پاره یې کار وموند . لومړی ورته وویل چې دا چیري ؟ زما مېړه هم کار نه لري . دوهمي ورته ووي په زندان کي !!!

عزرائیل ته ځان نه سپاري

د يوه سړي يوه نجلۍ خوښېده هر څه چې يې په وکړل هغې لاس ورنه کړ ، نو خپل ملګري ته يې وويل چې دا نجلۍ دونه چالاکه ده چې والله که عزرائيل ته ځان ورکړي .څو ورځې وروسته نجلۍ موټر ووهل او مړه سوه ، ملګري يې وويل چې تا خو ويل چې دا نجلۍ خو عزرائيل ته هم نفس نه ورکوي څنګه مړه سوه ؟ ده ورته وويل چې زما مطلب نفس نه بلکې بل شی و .

وروستۍ نسخه

ډاکټر ناروغ ته وويل چې دا به دي وروستۍ نسخه وي چې درته ليکم يې ، په دې باندې جوړېږې او نور ماته رانه سې .ناروغ ورته وويل چې نو زه هم خپل وصيت ليکم.

د ګرانۍ عامل

يوه سړي د بل څخه پوښتنه وکړه چې د ګرانۍ عاملين څوک او کوم خلک دي ، په پوهېږې ؟ هغه ورته وويل چې هو ! په پوهېږم ويلای نه سم .

دعوی

ښوونکي زده‌کوونکي ته وويل چي څه عجبه کار دي وکړ چي نن دونه وختي ښوونځي ته راغلی يې ؟ هغه ورته وويل چي پرون شپه زما مور او پلار تر سهاره دعوی کوله ، هيڅوک يې خوب ته نه دي پرېښي ، زه هم تر سهاره ويښ وم نو ځکه وختي راغلم .

د ټکسي نېول

يو نفر غټ بکسونه او لويه الماری يې پر اوږده را اخيستي وه ، يوه ټکسي والا ته وويل :- مورِ اصلي دوه نفره يو او يو څه سامان وړو دا راسره يوسه . هغه ورته وويل بل ملګری دي چيري دي ؟ ده جواب ورکړ : هغه دننه په‌ګرانو شيانو پسي ګرځي .

سندر غاړی

يوه سندر غاړي چي کنسرت يې ورکړ ، ډېر په غصه ښکارېدی ، خلکو پوښتنه وکړه چي دا ولي خپه ښکاري ؟ حال دا چي لس دستي ګلان هم ورته راغلل ، دی بايد ډېر خوښ وای . يو يې چي له حاله خبر و وې ويل : ده د پنځلسو دستو ګلانو پيسې ورکړي وې او لس راغلې .

نوی ډاکټر

یوه ډاکټر نوې معاینه خانه پرانیستلې وه ، یو نفر معاینه خانې ته ورننوت ، د دې له پاره چې ډاکټر ځان غټ ښکاره کړی وي ، نو مخکې تر دې چې له سړي سره وږغېږي ټلیفون یې پورته کړ او په خبرو یې شروع وکړه . په ټلیفون کې یې مقابل لوري ته وویل چې زه ډېر ناروغان لرم نسم درتلای ، او داسې نور خبرې یې وکړې او ټلیفون یې کښېښود . په دې وخت کې یې سړي ته چې انتظار و وویل چې څه خدمت دي وکړم ؟ هغه په جواب کې ورته وویل چې زه ټلیفوني او غواړم د دغه ټلیفون لین فعال کړم .

په رستورانت کې

یوه سړي د رستورانت پېشخدمت ته وویل چې : یو څو خوسا هګۍ دوې سوې ډوډۍ او یو څه سړې چای راوړه . ګارسون ورته وویل چې موږ دا شیان نه لرو . ده ورته وویل چې ولې پرون خو مو درلودل .

د کوم بد بخته لور

یوه قوماندان خپل عسکر ته وویل چي ته بله میاشت رخصتي غواړې ؟ هغه وویل هو صاحب ! بیایې ورته وویل لکه چي وا ده کوې ؟ هغه وویل : هو صاحب ! بیا قوماندان ورته وویل : چي د کوم بدبخته لور به ستا سره واده وکړي ؟ عسکر ورته وویل چي ستاسو لور صاحب !

بدرنګه سکرټره

یوه رئیس بل رئیس ته وویل چي ولي دي خپله سکرټره تبدیله کړه .هغه ورته وویل چي د ناروغۍ له امله . لومړۍ ورته وویل چي ولي هغه ناروغه وه ؟ ده ورته وویل نه هغه نه بلکي زه یې له ډېرو لیدو څخه ناروغ سوم.

نوی کارګر

د یوې کارخانې رئیس د یوه نوي کارګر سره چي غوښتل یې په کار کي شامل سي خبري کولې . ورته وې ویل چي زموږ له پاره ډېر پاک خوره او د صلیقې خاوند کارګر په کار دئ او بل دا چي درواغ هیڅ وخت ونه وایي ، اوس نو راته ووایه کله چي ته دفتر ته رانوتلې ، پښې دي په هغه فرش چي د کوټې مخ ته هوار و پاکي کړې ؟ کارګر ورته وویل چي هو صاحب !

رئيس ورته وويل چي د کوټې په مخ کي مورِ کوم فرش نه دئ هوار کړی .

ته ورځې که لېنن درته راوباسم

يو سړی چي د لېنن د قبر يا جسد د ليدو له پاره نه سوای کولای چي په اوږده قطار کي ودرېږي او ډېر انتظار وروسته به بيا دلېنن جسد گوري ، نو يې يو څو بوتله ويسکي واخيستل او د همغي پوستې قوماندان ته يې وروړه ، هغه ډېر خوشحاله سو نو يې سړي ته وويل چي څه خدمت دي وکړم ؟ سړي ورته وويل چي غواړم د لېنن جسد وگورم . قوماندان ورته وويل چي ته هلته ورځې چي بې نوبته دي بوزم او که جسد دلته درته راوړم.

د موټر نه چالانېدل

يوه سړي خپل ملگري ته وويل چي موټر مي نه چالانېږي ، لکه چي ماشين ته يې اوبه ورغلي دي . هغه ورته وويل چي موټر دي چيري ولاړو ؟ ده ورته وويل : په حوض کي .

بد آوازه هنرمند

یوه سړي یوه دوکاندار ته وویل چي زه دوکان په دوکان ګرځم او ستاسي خوسااو ورستې هګۍ رانیسم . دوکاندار ورته وویل چي په راتلونکې هفته کي د یو بد آوازه هنرمند کنسرت دئ ، تر څو چي هغه کنسرت نه وي خلاص سوی موږ ورستې هګۍ نه خرڅوو . سړي ورته وویل چي هغه هنرمند زه یم.

هندی فام

دوو کسانو یو هندی فلم کتی ، یوه نفر بل ته وویل :- په دغه صحنه کي یو سړی پر آس سپور دئ ، ورته ګوره او د غره له سره رالوړي. پر دې خبره یې شرط سره وتاړه . لومړي سړي دوهم ته وویل چي دا شرط مي لکه چي درڅخه وګټی ، ولي چي دا فلم ما یو واري لیدلی دئ . هغه ورته وویل ما هم لیدلی دئ ، زه فکر نه کوم چي هغه سړی به دونه احمق او ساده وي چي بیا دي ځان له غره څخه راواچوي .

کتابخانه

د شپې پر درې بجې یوه ملګري بل ته ټلیفون وکړ ورته وې ویل چي پر څو بجو کتابخانه خلاصېږي ؟ هغه ورته وویل چي د سهار پر لسو بجو او دا پوښتنه دي اوس څنګه وکړه ؟ هغه ورته وویل چي نور طاقت نه لرم . ده ورته وویل چي لږ حوصله وکړه کله چي

کتابخانه خلاصه سوه ، بیا به ورسې . هغه بل ورته وویل زه نه ورځم ، بلکي زه ځني راوزم ، خو کتابخانه له پرون څخه تړل سوې او زه پکښې بندي پاته یم .

نه بوی لري نه ږغ

یوه سړي ډاکټر ته وویل :-

زه مي خپل باد نه سم کنترولولاي ، هیله مند یم چې مرسته راسره وکړې . مګر یوه خبره درته کوم چې نه بوی لري او نه ږغ . ډاکټر چې پزه کش کړه ، نو نسخه یې ورته ولیکله ، چې دا د پزې څاڅکي دي ، کله چې دي پزه جوړه سوه بیا راسه چې د غوږ دوا هم درکړم .

دوه کار ګران

دوه کارګران د کار له پاره کارخانې ته ورغلل ، رئیس ورسره خبرې پیل کړې یوه ته یې وویل چې څه شي کمبود لرم ؟ هغه ورته وویل ته غوږونه نه لرې ! دوهم ته یې هم وویل چې څه شي کمبود لرم ؟ هغه ورته وویل سترګي دي نه ویني ، ځکه لسټر استعمالوې . رئیس ورته وویل د څه شي له رویه پوه سوې . ده ورته وویل د عینکو د ټینګښدو له پاره غوږونه نه لرې .

د میلیونر رحم

یو میلیونر په یوه موټر کي سپور و ، یو سړی یې ولیدی چې وانښه خوري . ده ورته وویل چې دا وانښه ولې خورې ؟ هغه ورته وویل :- هیڅ شی نه لرم . ځکه زه او ټوله کورنۍ مي وانښه خورو . هغه ورته وویل چې راځئ ټوله زما سره ولاړ سئ . کله چې یې دوی ټول کور ته بوتلل ، ورته وې ویل چې دغه زموږ د کور چمن دئ ، وانښه یې لوی سوي دي هر څونه چې خورئ ، مهرباني وکړئ .

غانښونه

یوه د غانښو ډاکټر بل سړي ته وویل چې د احمد د خولي غانښونه زما دي ، دا په دې خاطر چې د پیسو یو قسط لا پر پاته دئ .

ښه او بد خبر

یوه الوتکه په وریځ او بده هوا کي ګرځېده راګرځېده ، لاره یې نه سوای پیدا کولای ، چې په دې وخت کي پیلوټ وویل ، چې زه تاسو ته یو ښه خبر او بل بد خبر لرم . بد خبر دا چې الوتکه د سقوط په حال کي ده او ښه خبر دا دئ چې زه یو پراشوټ لرم ، ځان به واچوم ستاسي سلامونه او نېکي هیلي به مو کورنیو ته ورسوم.

تلوار مه کوه

کله چي الوتکه د اوږده سفر څخه وروسته کښېنستله ، پيلوټ يې د مسافرانو سره خدای پاماني وکړه ، بېله دي چي مايکروفون بند کړي وې ويل چي :- غواړم يوه پيالە چاي وڅښم ،او تر هغه وروسته د آسيور ديسي سره خپله سترګې وباسم. دا خبره په دې وخت کي او ټولو مسافرانو واورېده ، نو اسيردېس ورمنده کړه چي مکروفون بند کړي ، په لاره کي يې پښه بنده سوه او غوائاره سوه. يوه سړي ورته وويل تلوار مه کوه پيلوټ لا تر اوسه چا ی نه دي څښلي .

د اورګا ډي آزموينه

یوه سړي غوښتل د اورګاډي و ډرېورۍ ته امتحان ورکړي ، معلم پوښتنه ځني وکړه که دوه اورګاډي سره مخامخ راغلل څه کوې ؟

هغه وویل اشاره ورکوم .

معلم بیا پوښتنه وکړه ، که اشارې کار نه کاوه ؟

ده ورته وویل د عاجل ګروپ څخه کار اخلم .

معلم ورته وویل که برق نه و ؟

ده ورته وویل بیا ټلیفون یا مخابره ورته کوم .

معلم پوښتنه وکړه که یې ټلیفون مصروفه و ؟

ده ورته وویل :-

بیا نو زه خپل پلار خبروم چې هغه د اورګاډي ټکر نه دئ لیدلی .

د ډاکټر جواب

یوه ناروغ ډاکټر ته وویل :-

ډاکټر صاحب ! د باد له پاره یو شی راکړه .

هغه ورته وویل کاغذ باد څنګه دئ ؟

تراکتور او سرکوزی

یوه بزرګ خپل زوی په تراکتور کي بل کلي ته واستاوه .چې زوی یې ځنډ وکړ ، ده ټلیفون وروکړ چې چیري ورک سوې ؟ هغه ورته وویل چې پر لاره مي یو سر کوزی تر تراکتور لاندي کړ. پلار یې ورته وویل خیر دئ د لاري څخه یې چپ کړه . زوی یې وویل هغه نه دئ مړ. پلار یې ورته وویل چې توپک په تراکتور کي دئ ، هغه درواخله او وې وله . او ځني راځه . زوی یې ورته وویل چې د هغه موټرسیکل مي تر تراکتور لاندي دئ او تراکتور بند دئ .

ډاکټر او ناروغ

یوه سړي ډاکټر ته وویل تر عملیاتو وروسته ډېر ژر ژر ترې کېږم . ډاکټر ورته وویل ما وبخښه ، کله چې مي عملیات درکاوه تر هغه وروسته مي اسفنج ستا په نس کي هېر سو .

زما میخانیکي مغز دئ

یوه سړي خپل ملګري ته وویل چې زما ماغزه او سر میخانیکي دي او په هر شي سره خلاصېږي . ملګري یې ورته وویل چې ستا خبره سمه ده مګر پېچونه یې څه سست دي .

دورېښتانو تویېدل

یو سړی ډاکټر ته ورغی او ورته وې ویل :-

ډاکټر صاحب ! زما ورېښتان تویېږي ، ماته یو شی راکړه .

ډاکټر ورته وویل دغه کاغذي کڅوړه درسره واخله .

سل ډالره فیس

یو سړی ډاکټر ته ورغی او ورته وې ویل :-

ډاکټر صاحب ! څنګه دئ زما د زوی غاښ په سل ډالره ایستلی دئ ، ټول یو غاښ په لس ډالره باسي . ډاکټر ورته وویل چې ستا زوی دونه چیغې وهلې چې زما لس کسه ناروغان یې وتښتول . د هغو فیس مي هم له ده څخه واخیستی .

ښه او بد خبر

یوه ډاکټر خپل ناروغ ته وویل :-

عملیات دي په خیر تېر سو او پښه مو درپرې کړه ، دا و ښه خبر ، خو بد خبر دا دئ چې د ناروغي پښې پر ځای مو روغه در پرې کړېده .

دغاښو فیس

یو سړی ډاکټر ته ورغی او ورته وې ویل :-

د غاښو د ایستلو څو ډالره غواړې ؟

ډاکټر ورته وویل :- ۸۰ډالره .

سړي ورته وویل یو څه یې راته ارزانه کړه .

ډاکټر ورته وویل که بېهوښي نه غواړې نو پنځوس ، پنځوس ډالره به پر هر غاښ درځخه واخلم . سړي ورته وویل اوس هم ګران دي .ډاکټر ورته وویل که یې په لاس دروباسم پر هر غاښ دېرش دېرش ډالره درځخه اخلم . ده ورته وویل دا بیا هم راته ګران دي .ډاکټر ورته وویل که مې شاګرد درته وباسي او پر هغه

باندي يې زده کړي بيا نو لس لس ډالره راکړه ، سړی ورته وويل سمه خبره ده ، زما د ښځي نوم په‌لست کي وليکه زه ورځم چي رايې ولم.

د تشناب جوړول

ډاکټر د خپل تشناب د جوړولو له پاره يو نل دوان راوغښت ، په پای کي يې پوښتنه ځني وکړه چي مزدوري دي څو سوله؟ هغه ورته وويل چي پنځه سوه ډالره .ډاکټر ورته وويل چي :- زه ډاکټريم تر دوه سوه ډېري نه سم پيداکولای ، نو ته څنګه پنځه سوه غواړې ؟ نلدوان ورته وويل :- کله چي زه ډاکټر وم ما هم تړدوه سوه بالانه سوای پيداکولای .

ځان وژنه

يوه سړي ډاکټر ته وويل :-

ما پرون غوښتل په سلودانو اسپرينو ځان ووژنم.

ډاکټر ورته وويل :-نو څنګه سو ،ځان دي وواژه؟

هغه ورته وويل نه په دوودانو جوړ سوم.

بوغی

په نیمه شپه کي یوې ښځي ډاکټر ته ټلیفون وکړ چي ژر راسه زما زوی بوغی تېره کړېده ، تر څو چي ډاکټر ځان اماده کاوه ، ښځي بیا ټلیفون ورته وکړ چي تشویش مه کوه ما بله بوغی ورته پیداکړه ، اوس مي زوی نه ژاړي .

شعار

ولسمشر بوش په الوتکه کي سپور و ، چي پر مځکه واوره اورېدله ، پر یوه غونډی په واوره لیکل سوي وه چي مړ دي وي بوش ! بوش چي دا شعار ولیدی ډېر په قهر سو ، خپلو پولیسو او امنیتي خلکو ته یې دنده ورکړه چي دغه سړی ژر پیدا کړئ ، چي زما دونه بې حرمتي یې کړېده ، پولیسو وروسته له څېړني اصلي سړی پیدا کړ ، شعار اصلاً په بولو لیکل سوی و ، بولي د بوش د معاون وې او شعار د بوش مېرمني لیکلی و .

چابک آس

ښوونکي زده کوونکي ته وویل چي یو آس دي په پارچه کي رسم کړه چي مخي ته یې شنه وابنه پراته وي . شاګرد څو دقیقې

وروسته سپينه پارچه ورکړه . ښوونکي ورته وويل چيري دي وانبه او چيري دئ آس ؟ شاګرد ورته وويل آس وانبه ټول وخوړل ، چون ډېر چابک او چالاکه آس و هغه هم ولاړی .

ازموينه

يوې ښځي د ازمويښت په توګه خپل مېړه ته وويل چي زه درباندي ګرانه يم که نه ؟ هغه ورته وويل هو راباندي ګرانه يې .بيا يې ورته وويل که زه مړه سم زما ګانې او زېورات و بلي ښځي ته ورکوې ؟ مېړه يې وويل خدای دي نه کوي ته ولي داسي بې معنی خبري کوې ، نه هيڅکله يې نه ورکوم . بيا ښځي پوښتنه ځني وکړه ، چي زما جامې او کالي څنګه چاته ورکوې ؟ مېړه يې ورته وويل نه دهغې قد ترتا ډېر جګ دئ .

د پلار سره مرسته

يوه هلک خپل ملګري ته وويل :-

نن مانبام څه کوې ؟

هغه ورته وويل :-

نن مانبام د خپل پلار سره مرسته کوم چي زما کورنی کار وکړي .

ولي ناوخته راغلې

ښوونکي يوه زده‌کوونکي ته وويل چې ولي ناوخته راغلې؟ هغه ورته وويل چې د ښوونځي مخ ته يې پر لوحه ليکلي وه :- کرار کرار ځئ چې دلته مکتب‌دئ.

مړسمندر

يوه ښوونکي زده کوونکي ته وويل چې د مړه سمندر په هکله څه پوهېږې؟ هغه په ډېره حيراني جواب ورکړ هغه څه وخت مړ سو چې زه يې تر اوسه په ناروغي خبر نه يم .

شپېلک وهل

ښوونکي زده کوونکي ته وويل چې د لوست په وخت کي شپېلک مه وهه . هغه ورته وويل زه لوست نه‌وايم.

ناوخته راتګ

ښوونکي د زده‌کوونکي څخه وپوښتل چې ښوونځي ته ولي ناوخته راغلې ؟ هغه ورته وويل کله چې مي غاښونه پرېولل ، د غاښو کريم ډېر را څخه راووتل ، هغه مي په ډېر مشکل بيرته ورداخل کړل ، نو ځکه راباندي ناوخته سو .

د لوده پېښې

استاد شاګرد ته وويل چې ته فکر کوې چې ته ښوونکې يې . هغه ورته وويل چې نه صاحب ! هغه ورته وويل چې نو د لوده اکټ يا پېښې ولي کوې ؟

ښوونکي

ښوونکي خپل زده‌کوونکي ته وويل چې يوه مقاله دي ښه ده او بله دي هيڅ نه ويل کېږي . هغه ورته وويل هو صاحب ! همدغسي ده ، دا ځکه چې زما مور ښه ده او پلار مي بې سواده دئ .

سرېښ

يوه کوچني خپلي مور ته وويل چې هغه کريم چې په تشناب کي دي هغه د ورېښتانو جيل دي ؟ مور يې ورته وويل چې نه زويه ! هغه سرېښ دي . زوی يې ورته وويل چې همدا خبره ده چې زما خولې له ورېښتانو څخه نه جلا کېږي .

د ژړا دليل

يوې مور خپلي کوچنۍ لور ته وويل چې لوري ولي ژاړې ؟ هغې ورته وويل :- ورور مي ناوکۍ راماته کړه . مور يې وويل چې

څنګه يې درماته کړه ؟ هغې ورته وويل ورور مي په ناوکۍ وويشتی هغه ماته سوه .

د مور چل

يوه ښوونکي په صنف کي وويل چي نن مي سر درد کوي . يوه زده کوونکي ورته وويل چي تاسو ولي زما د مور چل نه کوئ ؟ هغه ورته وويل چي ستا مور څه چل کوي ؟ شاګرد ورته وويل کله چي د هغې سر درد کوي مور ټول د باندي د بازيو له پاره استوي .

رنګه جراپي

ښوونکي د زده کوونکي څخه پوښتنه وکړه چي دا څه خبره ده چي يوه جراپه دي توره او بله سره ده ؟ هغه ورته وويل په کور کي هم يوه جوړه همداسي جراپي لرم .

د لوبي ګټل

ښوونکي شاګردانو ته وويل چي ستا سو ټيم څنګه لوبه يووړه ؟ هغو ورته وويل چي جراپو د بدبوی له امله ، هغو ونه سوای کولای چي مور ته رانزدې سي او مقامت راسره وکړي .

خالي چوکۍ

يو سړی چې د فوټبال ډېر شوقي و ، چې ګوري هلته خالي چوکۍ نه وه چې ويې ليدل وړاندې د يوه سړي په څنګ کې يوه چوکۍ خالي ده ، دی ورغی او ورته وې ويل چې زه دلته کښېنستلای سم ؟ هغه ورته ووېل چې دا زما د ښځې ځای دئ ، هغه د فوټبال ډېره شوقي وه خو اوس مړه ده . نو ما دغه ځای د هغې له پاره نيولی دئ . سړي ورته ووېل چې ولې دي کوم دوست ته دغه ځای نه ورکاوه ؟ هغه ورته ووېل چې دوستان مې ټول د هغې جنازې ته تللي دي .

ښه او بد خبر

يوه ټولۍ عسکر څو ورځې په يوه ځنګله کې بې له خوړو پاته سوي وه ، د دوی له ډلې څخه يوه عسکر ناري کړه چې زه تاسو ته يو ښه او يو بد خبر لرم ، ښه خبر دادئ چې يو خر مردار سوی دئ او بد خبر دا دئ چې ډېر پخوانی دئ .

د موټر خرڅول

يو موټر خر څوونکي په يوه ځای کې ناست و او ويل يې کاروبار ډېر وران سوی دئ ، دا څو ورځې کېږي چې هيڅ موټر مې نه دئ خرڅ کړی که مې سبا هم موټر خرڅ نه کړ ، نو مجبوره يم چې خپله ... ورکړم . چې ګوري يوه ځوانه او ښايسته ښځه يې شا ته

ناسته وه او د ده خبري اوريدې ، چې ورته وکتل ورته وې ويل :- چې ډېر وبخښه که بې ادبي سوې وي ، هغې ورته وويل چې نه هيڅ بې ادبي نه ده سوې ته رشتيا وايې ، کاروبار ډېر خراب دئ زه بيا دا بل شی ورکوم . دا څو ورځي کېږي هيڅ مشتري نه لرم . نو که سبا هم مشتري پيدا نه سو مجبوره يم خپل موټر خرڅ کړم .

هيڅ وخت مي نه دی رد کړی

يوه سړي په يوه رستورانت کي يوې ښکلي ښځي ته بلنه ورکړه چې نن شپه زما سره ولاړه سه ، هغې وويل چې نه ! سړي ورته وويل چې نه غواړي راسره ولاړه سې ؟ هغې ورته وويل چې ما تر نن پوري د هيچا خبره پر مځکه نه ده اچولې .

هلته تر دې هم لوی قطار ولاړ و

يوه سړي د کوم شي د رانيولو له پاره په يوه اوږد قطار کي ودرېدی ، تر ډېر ځند وروسته سترې سو ، نو دقطار څخه ووت په ډېره غصه يې وويل چې ځم د دې ملک ولسمشر وژنم . څه وخت وروسته راغی ، خلکو ورته وويل چې څه دي وکړه ، هغه دي مړ کړ ؟ ده جواب ورکړ چې هلته تر دې هم اوږد قطار ولاړ و .

دوه نشه هلکان

دوه هلکان چي ډېر نشه سوي وه ، يوه بل ته وويل نوم دي څه شي دئ ؟

هغه ورته وويل جان .

ده ورته وويل د پلار نوم دي څه شي دئ ؟

هغه ورته وويل روبرت .

بيا يې ورته وويل چي کور مو چيري دئ ؟

هغه ورته وويل په دوهمه کوڅه کي .

ده ورته وويل د کور نمره مو څو ده ؟

هغه ورته وويل پنځه .

دا بل ورته وويل چي ښځي د تعجب وړ خبره ده نو زما څه کېږي ؟ په دې وخت کي يو بل سړی چي د دوی څنګه ته ناست و وويل :- بيا غبرګولیان نشه سوي دي .

د فلم هلک

پوليس کيسه بر ته وويل ولي دي د دغه سړي جېب پرې کړی دئ ؟ هغه ورته وويل چي :-زه اصلاً د فلم هلک يم او په يوه فلم

کي يې دغه رول ماته راکړی دئ ، نو زه هم غواړم چي تمرين وکړم .

د سر درد

يوه سړي يو ډاکټر ته وويل چي ډېر په تشويش کي يم ، نه سې کولای چي ماته يوه رهنمايي وکړې چي د ښځي د سر درد مي ببله ډېر تاوان څخه ښه سي ؟ ډاکټر ورته وويل چي دا ډېره آسانه او ساده خبره ده ، ښځي ته دي ووايه چي د سر په درد هغه ښځي اخته کېږي چي عمر يې تر پنځوسو کلو اوښتی وي .

د ښځو لېونی

د افغانستان د سفير څخه په يوه رسمي مجلس کي يوې سفيري پوښتنه وکړه چي ما اورېدلي دي چي ستاسي پاچا امير حبيب الله خان ډېر ي ښځي لرلې ، داخبره رشتيا ده ؟ هغه ورته وويل چي هو دا خبره رشتيا ده . بيا هغې ورته وويل نو فکر کوم چي هغه به لېونی و . د افغانستان سفير بې له ځنډه ورته وويل چي :- هو د ښځو لېونی و .

لېونتوب يې بيا تور خورلی

ډاکټر له نرسي څخه پوښتنه وکړه چې د څلورم اطاق ناروغ څنګه دئ ؟ نرسي ورته وویل د هغه زړه غواړي کورته ولاړ سي او خپله مېرمن ووینې .ډاکټر ښپله ځنډه ورته وویل چې باید ډېره پاملرنه ورته وکړې او ډېر پام پر وکې . د دې خبرو څخه داسي ښکاري چې بیا یې لېونتوب تور خوړلی دئ .

غورول

زوم او ناوي د واده د مراسمو څخه وروسته غوښتل چې کورته ولاړ سي مخکې تر دې چې په ګل پوش موټر کې سپاره سي ، دووهلکانو سره وویل چې رائه چې زوم او ناوي ته آزار ورکړو . په دې وخت کې یو ورمخکې سو او زوم ته یې وویل :- پلاره پلاره ! زه هم راغلی یم .

د ښځو ډوولونه

یوه سړي د بل سړي څخه پوښتنه وکړه چې ستا داسي ښځه خوښېږي چې ډېري خبرې کوي ؟ هغه ورته وویل بل ډول ښځې هم پیدا کېږي .

د مزدورې کوټې ته

يوه کوچني هلک د خپلي مزدوري ښځي کوټې ته د کلي له سوري څخه کتل ، چې مور يې وليدی او ورته په غصه سوه چې ولي دا کار کوي ؟ زوی يې ورته وويل چې مورې غواړم چې پوه سم چې پلار مي هلته څه کوي ؟

يادګارونه

يو هلک په چمن کي ناست و او خپل ملګري ته يې وويل که مي ليکل او لوستل زده وای ، داسي بېکاره به دلته ناست نه وای . هغه ورته وويل نو څه شي دي کول ؟ ده ورته وويل چې پر چوکۍ ، ونو به مي يادوګارونه ليکلای .

بيه يا ارزش

يوه هلک پلار ته وويل چې پلاره ! زه څونه ارزښت درته لرم ؟ هغه ورته وويل چې ډېر ډېر ارزښت راته لرې . زوی يې بيا ورته وويل چې څونه ؟ پلار يې ورته وويل چې ميليونونه ارزښت راته لرې . زوی يې ورته وويل چې :- داسي ده د هغه ميليونونو څخه يو شل روپۍ راکړه چې سېنما ته يو نوي فلم راغلی دئ ،

ښځه او دوکاندار

يوې ښځي له دوکاندار څخه پوښتنه وکړه چې ويجي لرې ؟

هغه وويل هو !

بيا يې ورته وويل :-

غوړي لرې ؟

هغه وويل هو !

په همدې ترتيب سره لس پنځلس شيان له هغه نه معلومات واخيست ، او هغه به جواب ورکاوه چې هو ! په پای کې ښځې د يوه کوچني شي پوښتنه ځني وکړه . دوکاندار ورته وويل چې متاسفانه دغه شی نه لرم . نو ښځې ورته وويل چې نو څه شي لرې ؟ دوکاندار ورته وويل چې بل د سر درد لرم چې هغه تا راته جوړ کړ.

دګرمۍ اغېزه

ښوونکي د زده کوونکي څخه وپوښتل چې ګرمي پر اجسامو او موجوداتو څنګه اغېزه کوي ؟ هغه ورته وويل چې ګرمي اجسام اوږد وي. ښوونکي ورته وويل چې يو مثال راته ووايه :- هغه ورته وويل چې يو ډېر ښه مثال يې دادئ چې په ګرمي کې د سړي ... اوږدېږي او ځړېږي .

نوی کور

يوه سړي نوی کور جوړ کړی و، نو د دروازې پر سر يې وليکل چې اې کوره ! ويره او غم دي هيڅکله تاته نه راځي خصوصاً د دې دروازې څخه دي خدای غم ليري لري . يو چا ورته وويل : تا چې پر دروازه داسي ليکلي دي نو ښځه دي له کومي لاري څخه کورته ننوزي .

بدرنګه عکس

يوې ښځي د عکاس څخه شکوه کوله چې زما عکس دي ډېر بدرنګه چاپ کړی دئ. هغه ورته وويل چې څنګه ؟ ښځي ورته وويل ، په دې دليل چې زما ټول دوستان چې زما عکس ته وګوري ، وخاندي او خصوصاً نارينه خويې بيرته راوغورځوي .

د پوروړي له پاره دعا

يو سړی چې د ډېرو کسانو پوروړي و مريض او په روغتون کي بستر سو د خلکو چې پوريې پر باندي و روغتون ته ورغلل . نو ده ورته وويل چې ما ته دعا وکړئ چې مړ سم چې ستاسي پور درکړم . دوی دعا وکړه او وې ويل چې زمونږ دعا هرو مرو ستا په باب منل کېږي . ناروغ وويل نو په دې صورت کي به ستاسي د يوه پور هم درنه کړم .

د سروزرو غاړه ګی

یوه سړي خپلي مېرمني ته وویل چي له خپل طلایي سیټ څخه دي راضي یي که یا ؟ هغې وویل چي زه نو ولي راضي یم . راضي خو باید غل وي چي راڅخه غلا کړی یې دئ .

واده

یو سړی په بهر کي و او ډېره موده هلته اوسېده ، او کار یې کاوه څو کاله وروسته د کلي یو دوست بهر ته ورغی ، ده پوښتنه ځني وکړه چي ماته یې کوزده یا واده کړي و که نه ؟ هغه ورته وویل :- واده څه کوې درې کوچنیان دي هم پیدا سوي دي .

پخوانۍ هنداري

یوې زړې ښځي په هنداره کي کتل چي ګوري رنګ یې تک تور ، مخ یې ګونجي ګونجي ، سترګو یې حلقې وهلي او رنګ یې الوی دئ . نو یې د ځان سره وویل چي خدای پاک دي هغه پخوانی هنداره جوړونکی وبخښي ، دا اوسنۍ هنداري خو د سړي ښایسته مخ دغسي راولي .

څو کوچنیان لرې ؟

د یوه سړي څخه چا پوښتنه وکړه چې څو کوچنیان لرې ؟ هغه ورته وویل چې سم نه پوهیږم چې یو پنځوس کلن زوی لرم که پنځلس کلن ؟

خدای تعالی پېژنې

د یوه لېونې څخه چا پوښتنه وکړه چې خدای تعالی پېژنې ؟ هغه وویل چې څنګه یې نه پېژنم . هغه دا چې تل یې زه وږی او بر بنډ ساتلی یم ، او عقل او فکر یې راڅخه اخیستي دي او د ښار په کوچنیانو مي په ډبرو ولي او په بلا او جنجال کي یې اچولی یم .

پوه بهلول

د بهلول صاحب څخه چا پوښتنه وکړه چې ستا په نظر ډېر ښه خلک کوم خلک دي ؟ هغه ورته وویل هغه خلک چې زما نس رامړوي ، هغه ورته وویل که زه ستا نس مور کړم ، زه به درباندي ګران سم ؟ هغه ورته وویل ځه ځه وروره ! دوستي په پورنه کېږي .

دریم مېړه

د یوې ښځې مېړه مړ سو بیا یې بل مېړه وکړ ، هغه به هره ورځ وهله ، یوه ورځ یې لاسونه پورته نیولي دي ، دعا کوي چې :-

خدایه ! دغه مېړه ته مي دېر عمر او ښه ژوند ورکړې ! دغه دعا يې مېړه هم واورېده ، نو ښځي ته يې وويل چې رشتيا ووايه دا دعا دي څنګه وکړه ؟ هغې ورته وويل :- اول مېړه مي يوازي منت او ښکنځل راته کول مګر ته مي وهې ، لت او کوب راکوې ، که خدای ناخواسته که ته مړ سوې دريم مېړه خو به مي ښېخي مړه کړي .

روماتيزم

يو څو کسه سياستمداران ناست وه او په سياست کي يې خبري کولې يوه وويل چې سوسياليزم ، بل به ويل امپرايياليسم ، بل به بيا وويل فاشيسم ، او داسي نور . يوه سپين سرې ښځه چې دوی ته نزدې ناسته وه او د دوی خبري يې اورېدلې ، دوی ته يې وويل چې :- تاسي يوازي خپلي خبري کوئ زه هم د روماتيزم تکليف لرم په دې هکله يو څه فکر وکړئ .

منجم

يو څوک که د نظر خاوندان چې هره ورځ به يې راډيوګاني اوېدلې سره ناست وه چې يو منجم راغی ، دوی غوښتل چې هغه ته آزارر ورکړي ، نو يوه ورته وويل چې ته په هيڅ شي نه پوهېږې ، بل بيا ورته وويل چې دی تل د راډيو څخه خپروني اوري او د

هغه له مخي يو څه درواغ او رشتيا سره غوټه کړي . منجم تر اغېزې لاندي راغی ، په غصه يې وويل :- هر څوک چې خبرونه اوري خور او مور يې ...!!!

د غوړ سوری

ښځي خپله کوچنۍ لور زرګر ته بوتله چې د سرو زرو غوږوالي ور رانيسي ، زرګر چې وکتل د نجلۍ غوږونه سوري نه لري ، هغه غوښتل چې غوږونه يې سوري کړي ، خو نجلۍ ډارېدله ، مور يې ورته وويل لوري دا د خدای حکم دئ ، چې نجوني بايد خپل غوږونه سوري کړي . لور يې ورته وويل که د خدای حکم وای نو خدای به خپله غوږونه را سوري کړي وای .

لوټه غلام

يوه سړي د بل څخه پوښتنه وکړه چې نوم دي څه شي دئ ؟ هغه ورته وويل چې نوم مي خاوري عبدل . بيا يې ورته وويل چې د ورور نوم دي څه شي دئ ؟ هغه ورته وويل چې هغه تر ما تکړه دئ ، او نوم يې غلام دئ ، په دې وخت کي دی په خوله کي ور ولېدی او وې ويل :- هو پوه سوم د هغه نوم حتماً لوټه غلام دئ .

د نقاشۍ صالون

دوې نجوني د رسامۍ صالون ته ورننوتلې يوې دا بلي ته وويل :- خوري ته وګوره ، د اوس وخت رسامان څونه پې ذوقه او بې سليقې دي ، د دې پر ځای چې يوه ښکلې نجلۍ رسم کړي د يوې روي عکس يې رسم کړی دئ . هغې بلي ورته وويل :- خواره مه سې ! دا تا بلو نه بلکي هنداره ده ، او روې نه داته يې .

ډاډګيرنه

د يوه سړي پلار په واوره کي لوښدلی و او مړ سوی و . په فاتحه کي يې يو دوست تسليت ورکاوه ، ورته وې ويل :-

تشويش مه کوه چې پلار دي په واوره کي د سړو د لاسه مړسوی دئ ، اوس به ښه په تاوده ځای کي وي .

په مسجد کي شپه

دوه ملګري د يوه سفر څخه مسجد ته ورسېدل ، يوه بل ته وويل چې رائه په همدې مسجد کي شپه وکړو او دلته به بيده سو . هغه بل ورته وويل چې ما اورېدلي دي چې په مسجد کي خوب ډېره ګناه لري ، که چيرې په مسجد کي د سړي څخه باد پرې سي نو يوه ملايکه د دې سره مړه کېږي . هغه بل ورته وويل :- که دا مفتي ډوډۍ چې ملايان او طالبان يې خوري نو والله که يوه ملايکه لا هم ژوندۍ پاته سوې دای .

زه لار ورکوم

دوه تنه سره خوابدي وه او خبري يې نه سره کولې ، دوی په يوه تنګه لاره کي چې هلته يوازې يو تن تېرېدلای سوای ، سره مخاځ سول ، يوه بل ته وويل :- چې زه هيڅکله پست ، رذيل ، لوده او مردار خور سړي ته لاره نه ورکوم ، هغه چې د ده دا خبري واورېدې ، ځان يې په ځنګ کړ او ورته وې ويل چې زه يې ورکوم .

ترموز

يو کليوال سړي چې ترموز يې هيڅ نه وليدلی ، يو ترموز يې رانيوی او کور ته يې يووړ ، خپلې ښځې ته يې وويل چې دې ته ترموز وايي ، په دې کې چې ګرم شی واچوې ګرم يې او که سوړ شی پکښې واچوې ، سوړ يې

ساتي . ښځې يې ورته وويل چې تاڅه شي پکښې اچولي دي ؟ هغه ورته وويل ما دوه ګلاسه جوش چای او دوي دانې آيس کريم مي پکښې اچولي دي .

زه ځنګه

يوه سړي په اورګاډي کي له رهنما څخه وغوښتل چي زه په دغه اورګاډي کي تر لاهوره پوري تللای سم ؟ هغه ورته وويل چي نه ! بل سړی هم هلته ولاړ و، هغه ورته وويل چي زه څنګه ؟

زهر داره مڼې

يوه سړي مڼې خرڅولې ، نارې يې وهلې چي زهرداره مڼې دي ، ډېرې ښې مڼې دي . چا ورته وويل چي مه وايه چي زهر داره مڼې دي چي بيا يې څوک نه درڅخه رانيسي . ده ورته وويل چي څنګه يې نه رانيسي ، يو څوک يې د خوابنې له پاره بل څوک يې د خپلي مېرمني له پاره رانيسي .

لوده عسکر

يو تاجک عسکري ته تللی و ، کله چي له عسکرۍ څخه بيرته کور ته راغی ، مور يې ورته وويل چي ته خو ډېر لوده او بې عقل سړی يې . زوی يې ورته وويل چي اې موري ، ترما هم بې عقل او لوده پيداکېږي هغه دا چي زمونږ سره يو ازبک عسکر و دعسکرۍ تر آخره يې فکر کاوه چي زه ښځه يم .

زاړه پورونه

یوه سړي د خپل ملګري څخه پوښتنه وکړه چې سربېره پر دې چې لاس دي ډېر تنګ دئ ، خپله ګذاره سره چلوې، دا څنګه استعداد لرې ؟ هغه ورته وویل چې زاړه پورونه هیڅ وخت نه‌ورکوم او پر خپل حال پاته وي . ملګري یې ورته وویل چې نوي پورونه څنګه کوې؟ ده ورته وویل چې نوي پورونه پرېږدم چې زاړه سي .

قبر کیندونکی

د یوه ډاکټر مور مړه سوه، کله چې یې هغه ښخه کړه ، قبر کیندونکی ته یې وویل چې :- ستا پیسې څو کېږي؟ هغه په ډېر درناوي سره ورته وویل :- ډاکټر صاحب ! ما ستاسي سره وعده کړېده چې هر څوک ستا د کورنۍ وفات سي زه یې د قبر کیندلو او ښخولو پیسې نه غواړم ، ولي موږ ستا د برکت څخه د یوې ګولې ډوډۍ خاوندان سوي یو .

بډای کېدل

یو سړی ډاکټر ته ورغی او یوه ګېډۍ ګلان یې ورکړل او ورته وې ویل چې محترم ډاکټر صاحب ! زه ستاسي د نسخې په برکت ډېر بډای سوم. هغه ورته ووې چې څنګه ؟ سړي جواب ورکړ زه مخکې تر دې چې ستا د نسخې دوا وخورم یوه ګولۍ یې زما تره

وخوړله ، چې ځای پر ځای مړ سو او ټول میراث او جایداد یې ماته پاته سو.

برق تللی و

یوې نجلۍ په ټوکي کي بلي نجلۍ ته وویل چې ولي دونه توره یې ؟ هغې ورته وویل :- مور مي کیسه کوله ، چې کله ته پیدا سوې نو په تیاره وه دا ځکه چې برق تللی و

عینکي

یوه سړي د عینکو پلورنځي ته ورغی او خواهش یې ځني وکړ چې ما ته داسي عینکي راکړئ چې کوچنی شی لوی وویني ، هلته یې یوه جوړه عینکي ورکړې. سړي چې له دوکان څخه راکښته سو ، په بازار کي یوه کراچي والا ته ودرېدی او ورته وې ویل چې دغه بوغۍ په څوده ؟ هغه ورته وویل چې ته ړوند یې نه وینې چې دا بوغۍ نه بلکي حسیني انګور دي .

خوب لیدل

یو ځوان هلک ډاکټر ته ورغی او ورته وې ویل چې زه دا څو شپې کېږي چې عجبه خوبونه وینم،داسي خوب چې یوه کوټه له ښکلو نجونو څخه ډکه وي او کله چې زه ورننوزم دوی ټولي د

کړکیو له لاري ووزي ، بیا نو لکه کوتري والوزي او وتښتي او زه یوازي پاته سم. ډاکټر ورته وویل چي څه غواړې ؟ نو پروا مه کوه داسي دوا به درته ولیکم چي بیا داسي خوبونه ونه وینې . ده ورته وویل چي نه ! داسي دوا راته ولیکه چي زه د نجونو کوټې ته ورننوزم دوی راڅخه ونه تښتي .

د وینو یو ځای کېدل

په پوهنځي کي یوه ښوونکي د زده کوونکي څخه و پوښتل که چیري د علی او محمد وینې چي ګروپونه یې توپیر لري سره یوځای کړو څه شي کېږي ؟ هغه ورته وویل د هغو څخه علی محمد جوړېږي .

کله تقاعد کوې

یوه تند خویه ښوونکي چي تل به یې ټنده تروه نیولې وه او ډېره انضباطي سړی هم و یوه ورځ په ټولګي کي وویل :- تاسي حق لرئ چي نن یوه پوښتنه راڅخه وکړئ . دستي یو شاګرد ورته وویل :- معلم صاحب ! تاسي کله تقاعد کوئ ؟

د جغرافیې مضمون

د جغرافيې ښوونکي زده‌کوونکي ته وويل چې مځکي ته سپوږمي نزدې ده که امريکا ؟ زده کوونکي بې له ځنډه جواب ورکړ چې سپوږمي ! معلم ورته وويل چې څنګه ؟ ده ورته وويل چې سپوږمي هره ورځ ليدلای سو ، مګر امريکا نه‌سو ليدلای .

د چړې ښودل

قاضي يوه تورن ته ، په محکمه کي چاړه ورښکاره کړه چې دغه چاړه پېژنې ؟ هغه ورته وويل چې نه ! قاضي وويل چې زندان ته يې بوزئ .په دا بله ورځ يې بيا مجرم راوغوښتی او قاضي چاړه ورښکاره کړه چې دغه چاړه پېژنې ؟هغه ورته وويل چې هو ! قاضي ډېر خوښ سو او ورته وې‌ويل ښه سو ،چې اعتراف دي وکړ که نه کار سره ځنډېدئ . اوس نو راته ووايه چې دا چاړه دي چيري ليدلې وه ؟ هغه ورته وويل چې دغه چاړه پرون تا رانښکاره کړې وه .

د بيالوژي لوست

د بيالوژي ښوونکي د زده کوونکي څخه پوښتنه وکړه چې د انسان بدن په څه‌شي سره پوښل سوی دئ ؟هغه ورته وويل په کميس ، پطلون ، خولۍ ، جرابو او بوټو باندي .

دپيسو غلا

يوه سړي بانک وهلی و ، د شپې چي کورته راغی څو ځله يې هڅه وکړه چي هغه پيسې وشمېرې ، خونه يې سوای شمېرلای ، په پای کي يې ښځي ورته وويل چي :- اوس آرام بيده سه ، سبا سهار معلومېږي چي دا پيسې څونه دي ، مېړه يې ورته وويل چي څنګه ؟ ښځي يې ورته وويل چي د سبا په ورځپاڼه کي يې حتماً دقيق شمېر ليکي .

هيله

يوه سړي خپلي کوچنۍ لور ته د لوبو شيان راوړل ، لور يې ډېره خوښه سوه او څوګړی په فکر کي ډوبه ولاړه ، پلار يې ورته وويل :- لوري ولي چرت وهې ؟ هغې ورته وويل چي کاشکي مي شل پلرونه درلودای .

اورېدل داسي وي لکه ليدل

يو چا پر يوه سړي عرض وکړ ، قاضي ورته ووېل څه شکوه لرې ؟

هغه ورته ووېل :-

دغه سړی ما ته درې کاله مخکي ويلي وه چي ايږه !

قاضي ورته ووېل چي ولي دي دونه وخت شکايت نه کاوه ؟

ده ورته وويل :-

ما تر اوسه پوري ايږنه و ليدلی .

د نشې ګټې

يوه سړي چې خپله ښځه يې هم ورسره وه نابېره يې خپلې ښځې ته مخ وروړاوه او ورته وې ويل :-

چې زه فکر کوم چې ته مي يو ځای ليدلې يې ؟

ښځې يې ورته وويل :- وای د خدای له پاره څونه ګنګس او ګول يې زه خو دي ښځه يم .

دزړه ځای

د طب د پوهنځي محصل چې ناکامه سوي و ، خپل استاد يې تهديد کړ او ورته وې ويل که دي زه ناکام کړم . نو خپل زړه به په چاقو ټوټې ټوټې کړم .

استاد ورته وويل که ته پوهېدلای چې زړه د بدن په کوم ځای کې دئ ، ته هيڅکله نه ناکامېدلې .

بوټ خر څوونکي

درې ملګري د يو بوت خرڅوونکي دوکان ته ورغلل، ټولو يوه يوه جوړه بوټونه واخيستل، لومړي سړي وويل چې زما بوټونه يو څه تنګ دي . دوکاندار ورته وويل چې پښه دې يو څو ورځې ووهي لويېږي. بل ملګري وويل چې زما بوټونه يو څه لوی دي . دوکاندار ورته وويل : تشويش مه کوه يو څو ورځې يې چې لمر او هوا ووهي کوچني کېږي . دريم ملګري يې وويل چې زما بوټونه خو اوس برابر دي که په راتلونکي کي غټ يا کوچني نه سي . دوکاندار ورته وويل چې د څرمني خو دا خاصيت دئ چې هيڅکله د خپلي اندازې څخه بدلون نه مومي .

کوم يو ښه دئ

يوه سړي د بل سړي څخه پوښتنه وکړه چې چرتي يا خيال و هونکی، ليونی او روان پېژندونکي څه توپير سره لري ؟

هغه ورته وويل :-

چرتي په خپل خيال کي يوه مانې جوړوي ، ليونی په هغه کي ژوند اختياروي ، او روان پېژندونکی د هغې کرايه ورکوي .

نه ژړل

یو سړی چې ښځه یې مړه سوې وه ، کله چې دی کور ته ورسېدی او هغه یې مړه ولیدله ، وې ویل :-

پوهېږم چې زما د سترګو اوښکې تا نه ژوندی کوي، نو ځکه‌نه ژاړم .

پوروړی

یوه سړي خپل پوروړی په بازار کي ولیدی ، ورته وې ویل :-

هر وخت چې تا ووینم غلام قادر را په یادسي .

هغه ورته وویل چې څنګه ؟ زه د هغه سره څه ورته والی لرم ؟

ده ورته وویل چې پر هغه مي پنځوس زره افغانۍ باندي دي .

کوم یو

یوې ښځي خپلې لور ته وویل :-

که چیرې کوم وخت مېلمانه راسي ، نو د دې له پاره چې موږ ځان لوړ او معتبر وښیو . نو زه به درته ووایم چې چاینکه راواخله. ته به ووایې چې کومه ؟ او که درته ووایم تلوېزیون ولګوه ، ته به وایې کوم یو ؟ یوه ورځ د دوی کره مېلمانه راغلل. مور یې ورته وویل :-

لوري ! پلار ته دي ږغ کړه .

لور يې ورته وويل :- کوم‌يوه ته مورجاني !

د پلار کار

د يوه سړي خورجين چا غلا کړی و ، هر څه چې پسې وگرځېدی ، پيدا يې نه کړ ، نو په غالمغال او نارو يې پيل وکړ او وې ويل :-

که مي خوجين پيدا نه سو ، داسي کار به وکړم لکه زما پلار چې کړی و . د کلي خلک وارخطا سول ، ده ته يې بل خوجين ورپيدا کړ او وريې کړ . نو يې پوښتنه ځني وکړه چې اوس نو ووايه چې پلار دي څه کړي وه ؟ هغه وويل چې هيڅ ! د زاړه ټغر څخه يې بل خوجين جوړ کړ .

مېلمستيا

يوه سړي خپل مېلمه ته د ډوډۍ خوړلو په وخت کي وويل چې ستا په کاسه کي غوښي سته ؟ هغه وويل هو ! خو کله چې مي لاس په کاسه کي وي .

د نر او ښځي سن

د يوه سړي څخه چا پوښتنه وکړه که څوک په ۱۳۶۰ کال زېږېدلی وي اوس په ۱۳۸۴کال به څو کلن وي ؟

هغه ورته وويل :-

ښځه او که نر ؟

هغه ورته وويل چي څه توپير لري ؟

ده ورته وويل که ښځه وي شپاړس ، او که نارينه وي ۲۴ کلن به وي .

وروستۍ خندا

ډاکټر د ناروغ څخه وپوښتل چي د څو کالو يې ؟

ناروغ ورته وويل چي د اويا (۷۰) کالو .

بيا ډاکټر ړتره وويل چي :-

څه وخت دي واده کړی دئ ؟ هغه ورته وويل چي (۵۰) کاله کېږي .

ډاکټر ورته وويل چي تا وويل چي نه خاندې ، نو ته راته وواي چي وررستي خندا دي څه وخت کړې ده ؟

ناروغ ورته وويل :- تر واده دمخه .

د خندا څخه مرګ

يو پادشاه اعلان وکړ که هر چا داسي تلک جوړ کړ چي ډېر موږ کان ونيسي ، غټه جايزه به ورکړم ، يوه سړي يو تلک وروړ ، پادشاه ورته وويل :-

يوه اونۍ وروسته راسه ، کله چي يوه اونۍ وروسته ورغی ، پادشاه ته يې وويل ، څنګه سو زما تلک موږک نيسي ؟ هغه ورته وويل :- هو ! ستا تلک ډېر په زړه پوري تلک دئ ، هغه دا چي د هر موږک سترګي چي پر ولګېږي دونه ورته وخاندي چي له خندا څخه بې سده سي ، چي تر اوسه د خندا له لاسه دېرش موږکان مړه سوي دي .

د ځان پېژندنه

يو ځوان د نجلۍ له پاره په مرکه ولاړی ، د ده يوه ملګري ورته وويل :-

دا نجلۍ تر اوسه وړه او د شپاړسو کالو ده ، پرې يې ږده چي داتلسو کالو سي او يو څه هوښياره سي . هغه ورته وويل که هوښياره سوه کله زما بې عقل سره واده کوي .

زما دغسي اوم په کار دئ

يوه سړي کور ته مېلمه راوستی ، د ښځي څخه يې پوښتنه وکړه چي څه شي دي پاخه کړي دي ؟

هغې ورته وويل چي څه شي خو دي نه دي راوړي ، نو خاوري درته پخې کړم ؟

مېړه ته يې درد ورغی په غصه يې ورته وويل چي :-

خپل ... به دي پوخ کړی وای .

مېلمه د دوی خبري واورېدې ، او وې ويل :-

مه يې پخوئ هغه زما دغسي اوم په کار دئ .

د ژبې شړېدل

يو سړی ډاکټر ته ورغی ورته وې ويل چي ژبه مي شړېدلې ده . اکټر ورته وويل چي حتماً ۞ دي کوم شي خوړلی دئ چي ژبه يې در شړولې ده ، خصوصاً کوم گرم شی ! راته ووايه مه يې پټوه .

هغه ورته وويل که رشتيا درته ووايم ... مي څټلی دئ .

هغه ورته وويل چې درواغ مه وايه ، زه خپله د ورځې لس .... څټم. خو ژبه مې نه ده شړېدلې.

ناروغ ورته وويل چې ته خو به اصلي څټې ، مګر زه خو يې اول پردېوال رسموم بيا يې څټم .

دګبينو يا عسلورانيول

يوه هلک يوه دوکاندار ته يوه کوتۍ ورکړه او ورته وې ويل چې مور مې ويل چې دلته يو کيلو عسل راواچوه .

دوکاندار په کوتۍ کې يو کيلو عسل ورواچول هلک کوتۍ واخيسته او روان سو ، دوکاندار ورته وويل چې پيسې يې راکړه ! هلک ورته وويل چې پيسې خو يې په همدغه کوتۍ کې وې .

دوه تنه غله

يوه کور ته دوه تنه غله ورواوښتل ، کله چې يې غوښتل د کور کالي او نور شيان راغونډ کړي ، د يوه غله پښه له يوې کوتۍ سره ولګېده ، چې د ږغ سره يې د کور څښتن راويښ سو او ږغ يې وکړ :-

اې خره !

په دې وخت کي يوه غله بل ته وويل :- درځه دلته غلا نه کېږي .

ولي چي زه يې وپېژندلم .

د ډاکټر لار ښوونه

ډاکټر يوه ناروغ ته وويل چي :-

ځان لڅ کړه !

ناروغ ورته وويل چي زما پر غوږ درد دئ ، نو لڅولو ته څه اړتيا سته ؟ ډاکټر په غصه ورته وويل چي څو سړی سم ماينه نه کړم ، نسخه نه ورکوم .

ناروغ هم مجبوره سو بلي کوټې ته د ځان لڅولو له پاره ورننوت ، چي گوري هلته بل نفر هم لڅ ناست دئ ، ده ورته وويل ستا هم پر غوږ درد دئ ؟ هغه وويل چي نه زه ټليفوني يم .

د پوستين گنډونکي په هټۍ کي

دوې گيدړي په يوه دام کي بندي سوې ، يوې بلي ته وويل :- بيا به کله سره ووينو ؟

بلي ورته وويل چي يوه اونۍ وروسته د پوستين جوړونکي په هټۍ کي .

هم دا ډول درواغ

په يوه مجلس کي يوه سړي په ټوکو يوې ښځي ته وويل چي :-

ډېره ښايسته يې . هغې ورته وويل :-

ستا څخه ډېره ډېره مننه ! زه اوس په‌خپلو کاليو کي له ډېري ، خوښۍ څخه نه ځايېږم، نو په دې خاطر ستا د دې تعريف جواب نه لرم . هغه ورته وويل چي :-

دا خو ډېر آسانه کار دئ . تاسي هم دا ډول درواغ راته ووایاست .

زه بده ښځه نه يم

يوه سړي خپلي مېرمني ته وويل چي ته په هره مياشت کي يوه جوړه نوي کالي او بوټونه رانيسې او هيڅ فکر نه کوې چي زه دا پيسې په څونه مشکل سره پيداکوم .

هغې ورته وويل :-

زه هغونه بده ښځه هم نه يم چي ستا په کارو کي مداخله وکړم .

د غوايي ژبه

يو سړی رستورانت ته ولاړی ، د رستورانت څښتن ته يې وويل چې د خوړلو له پاره ښه خوندور شی څه شي لرې ؟ هغه ورته وويل چې د غوايي ژبه ! سړي ورته وويل دا ته اوس څه وايې ، آيا د غوايي ژبه هم د خورک ده ؟ هغه خپل شاګرد ته وويل چې ورسه ، هګۍ ورته راوړه ، دا ځکه چې چرګه هګۍ له خولې څخه نه اچوی.

په شمر کې غولېدل

يوه سړي لس آسان درلودل ، کله چې پر يوه سپور و ، خپل آسان يې وشمېرل چې نهه دي ، کله چې د آس څخه راکښته سو بيا پوره لس اسه وه . نو د ځان سره يې پرېکړه وکړه چې پياده ورسره ولاړسي . دا ځکه چې پياده تګ تر دې ښه دئ چې يو آس يې ورک وي.

د پېچکارۍ څخه وروسته مرګ

يو ناروغ ډاکټر ته ورغی او پېچکاري يې په وکړه کله چې د ډاکټر له معاينه خانې څخه راووت ، چپه سو او ځای پر ځای مړ سو . د ډاکټر نوکر چې وليدی نو ورته وې‌ويل چې ناحقه ځان پر مرګ مه اچوه ، لومړی د ډاکټر فيس ورکړه‌او بيا مړ سه .

ځګ

یوه ښوونکي د زده‌کوونکي څخه شکایت درلودی ، پلار یې راوغوښت او ورته وې‌ویل :-

ستاسي زوی ډېر نالایقه او تنبل هلک دئ .

پلار یې‌ورته وویل چې په څه دلیل ؟ چې ته دونه په‌غصه یې ؟ هغه ورته وویل املا یې ډېره خرابه ده ، صابون په سین لیکي .

د هلک پلار ورته وویل :-

که صابون په سین ولیکي بیا نو ځګ نه کوي .

اشپزي

یو اشپز د خپل پخلي ډېر صفت کاوه او ویل یې چې زه ډېر ښه خواړه پخوم او اوس په کارپسي ګرځم.

د هوټل مدیر ورته وویل چې څونه وخت کېږي چې بېکاره یې ؟ هغه ورته وویل لس کاله کېږي !

مدیر ورته وویل چې دا لس کاله څنګه پېکاره وې ؟

ده‌ورته وویل :-

بېکاره نه‌وم ، بندي وم .

مدیر ورته وویل د بندي کېدلو علت دي څه شي و ؟

هغه ورته وویل چي نه پوهېږم خو هغه جرم یې چي په ما پسي ټړلی و ، هغه دا و چي د هوټل څوکسه مشتریان زما د پخلي په خوړلو سره مسموم سوي وه .

زه هم بې سواده یم

یو پروفیسر رستورانت ته ولاړی ، څرنګه چي عینکي یې هېري سوي وې نو یې ګارسون ته وویل چي مینو راته ولوله ! هغه ورته وویل :- وبخښه ! زه هم لکه تاسي غوندي بېسواده یم .

د علم پر مختګ

یوې ښځي له بلي څخه پوښتنه وکړه چي زه خبره سوم چي خوابنې دي ناروغه ده . دا رشتیا ده ؟ هغې وویل چي په تېره اونۍ کي هغه ناروغه سوه ، څرنګه چي ډاکټر ته مو وروستله ، په هغه ورځ مړه سوله . هغې ورته وویل چي څونه ښه ! د ډاکټرانو پوهه څونه مخته تللې ده .

مصنوعي غاښونه

يوه سړي د يوې بډايي سپين سري سره د پيسو په طمع واده وکړ ، تر واده وروسته سړی پوه سو چې له ښځي هيڅ شی نه سي پرېکولای او ډېره سخت ده نو يې ښځي ته وويل چې :- تر واده مخکې تا نه وه راته ويلې چې غاښونه مي هم ساختګي يا مصنوعي دي . هغې ورته وويل که دي د مصنوعي غاښو څخه بد رائي زه کولای سم ، هغه ليري وغوځوم ، بېله غاښو ژوند درسره کولای سم .

بې ځايه صبر

يو کوچنی هلک د مور په خبرو کې چې د ګاونډي د ښځي سره يې کولې وروليدی، مور يې ورته په غصه سوه او وې ويل :- زوی جانه ! ما څو واري درته ويلي دي چې دوه لويان چې خبري سره کوي د هغو په خبرو کې مه ورلوېږه ، کله يې خبري خلاصي سوې بيا خبره ورسره وکړه :-

هلک ورته وويل :-

زه د ماپښين څخه چې دا دئ اوس مانښام دئ درته ولاړيم ، ستا سي خبري نه خلاصېږي نو مورجانې ما څنګه کړي وای .

اوس چيري دئ؟

يوه سړي په يوه مجلس کي وويل چي يو سړی پېژنم چي په يوه ځنګله کي د زمري سره مخامخ سوی و ، کله چي دوی دواړه سره سترګي پر سترګي سول زمري زنګون ورته کت کړي و، او ورته ناست و ، ټولو خلکو په حيرانتيا سره وويل چي دا سړی بايد ووينو ، او چيري دئ . هغه وويل اوس د زمري په نس کي دئ .

يوازي يو نقص

يو سړي د خپل زوی له پاره د يو چا د لور غوښتلو له پاره په مرکه ورغی . او ورته وې ويل چي زما زوی ډېر اهل او صالح . زړه ور د عالي تحصيلاتو خاوند ، کسب او کار لري ، کور لري . پيسې لري او ډېره ښه ځواني هم لري ، زه چي د هغه پلار يم دا ټول شيان يې زما څخه زده کړي دي . زه فقط يو نقص لرم هغه دا چي يو څه درواغ وايم

قسط يا اوګرايي

ښوونکي د زده کوونکي څخه وپوښتل :- که ستا پلار يو موټر په پنځه لکه افغانۍ په قسط واخلي او هغه څخه يوازي شل زره افغانۍ په قسط ورکړي څونه نوري پر پاته کېږي ؟ شاګرد ورته وويل چي هيڅ نه پاته کېږي . هغه داسي کله چي زما پلار هر شي په قسط واخلي ، يوازي لومړی قسط يې ورکوي نوري خوري .

په ما پسي ګرځي

یوه سړي نوی واده کړی و ، چا پښتنه ځني وکړه چي ژوند دي څنګه دئ ، د ښځي سره به ښه تېر ېږي ؟

هغه ورته وویل چي ښې ګډوډ دئ .

ده ورته وویل چي څنګه ؟

هغه ورته وویل چي ښځه مي تر ناوخته د شپې په رستورانونو او بازارونو کي ګرځي . بیا یې پوښتنه ځني وکړه چي شراب څښي ؟ هغه ورته وویل نه په ما پسي ګرځي .

رازونه

یوې ښځي چي د رنګ توپیر یې نه سوای کولای ، خپل مېړه ته یې وویل چي زه غواړم یو راز درته افشا کړم چي زه د رنګ توپیر نه سم کولای چي کوم رنګ تور دئ کوم سپین او کوم سور ؟ مېړه یې ورته وویل چي فکر دي ډېر مه خرابوه ! زه به هم یو راز درته افشا کړم چي زه تور پوستی یم .

اوس نو خوښ یې ؟

یوه سړي به هر وخت د سترخوان پر سر خپل زوی ته څه ورکول او زوی به یې ویل چې دا نه اخلم ، دا لږدي ، ډېر راکړه او داسي نوې ...

پلار یې کومه ورځ ورته په غصه سو او ورته وې ویل :-

زویه زه چې ستا پر سن وم ، نو مور یا پلار به مي چې هر څه راکړه که هغه به ډېر کم هم وه ما به قناعت کاوه او څه به مي نه ویل او د ویلو جرئت مي هم نه درلود.

زوی یې ورته وویل چې اوس خوښ یې چې مور او پلار دي مړه سوي او ته راغلی یې زمونږ سره ژوند کوې.

پردې ښځه او خپل سر درد

یوه سړي خپل ګاونډي ته وویل چې ستا ښځي ما ته ډېر د سر درد دا اچولی دئ . او زما ټولي پیسې یې خرڅي کړي دي ؟

هغه په حیرانتیا او وارخطایي سره ورته وویل چې زما ښځه ستا په پیسو څه کار او اړه لري ؟

ده ورته وویل چې مستقیماً اړه لري هغه دا جي ستا ښځه ډېر قیمتي او ګران شیان رانیسي او زما ښځي ته یې ورښکاره کوي ، زما ښځه د سیالۍ له مخي پر ما زور اچوي او پیسې راڅخه

اخلي او هغه ګران شيان چې ستا ښځه يې لري دا يې هم رانيسي
.

هوا ګرمه ده

يو سړي دوکاندار ته‌وويل :-

پرون مي ستا څخه دوه کيلو مڼې رانيولې ، کله چې مي کورته
يووړې يو نيم کيلو وې . دوکاندار ورته وويل چې دا په دې
خاطر چې هوا ډېره ګرمه وه ، که چيرې هوا نوره هم توده سي
ممکن تر دې هم لږ وزن ولري .

رابانديِ بدګمانه کېږې

يوه سړي خپل ملګري ته‌وويل چې ښځه مي د پلار کړه د يوې
مياشتې له پاره بل ښار ته ځي . هغه ورته وويل چې په‌دې خاطر
داسي غمګين يې ؟ ده ورته وويل چې هو !

بيا يې ملګري ورته وويل چې زه تاپېژنم بايد خوښ اوسې ، نو
ولي ويرجن يې ؟

هغه ورته وويل که ځان داسي غمګين ونه نيسم رابانديِ بد
ګمانه کېږي او خپل نظر او تګ بدلوي .

نوره دي بې شرمي ده

يوه چاغه او غټه ښځه د يوه ډاکټر کتنځي ته ورغله ، ګوري چې هلته ډېر خلک په نوبت ناست دي . ښځه په بې شرمي او سپين سترګي چې نورو منتظرينو غالمغال هم کاوه ورننوتله . چې ګوري هلته يوه تله (ترازو) هم پرته ده .

دا بې اجازې په ترازو کي ودرېدله او ځان يې وتاله . نو يې مخ ډاکټر ته راواړاوه او ورته وې ويل چې ستا ترازو، خراب دئ او سم کار نه کوي ، ځکه زما وزن يوازي (٦٠) کيلو دي . مګر ترازو زما وزن (١٦٠) کيلو ښيي . ډاکټر ورته وويل ستا خبره سمه ده ، ته هم شپېته کيلو يې ، دغه نور (١٠٠) کيلو ستا سپين سترګي او بې شرمي ده .

ښه غوايي يې روزلی دئ

په يوه مجلس کي دوه وروڼه وه ، چې دواړو ډېرې بدي او پوچي خبرې کولې ، د مجلس خلک يې ډېر پتنګ کړل ، په پای کي يوه پوښتنه ځني وکړه چې ستاسي پلار څه کار کوي ؟ دوی ورته وويل هغه يو فارم لري چې آسان او غوايان پکښې روزي . ده ورته وويل په رشتيا سره چې ډېره ښه غوايان يې روزلي دي .

غلط فعل

ښوونکي زده کونکي ته وويل چې زه تللی يم . دا يو غلط فعل دئ .

تاسي وواياست کوم ځای يې غلط دئ ؟

يو شاګرد ورته وويل :- دا په دې خاطر غلط دئ چې ته نه يې تللي ، او تر اوسه همدلته ولاړيې .

د مڼو غلا

يو هلک د مڼو د غلا له پاره يو باغ ته ورواوښت ، په دې وخت کي باغوان پر راغی ، او ورته وې ويل چې د مڼو په ونه کي څه کوې ؟

هلک ورته وويل دلته مڼې راولېدلي وې ، ما غوښتل چې بيرته يې هلته پر ښاخ کښېږدم .

بيا نو معلمي ته اړتيا نه لرې

يوه ښوونکي زده کوونکي ته وويل :-

که زما پيسې ښله معاش څخه چې پنځه زره افغانۍ دي ، پنځوس زره د بلي خوا څخه ، هره مياشت واخلم ټوله څونه کېږي ؟

زده کوونکي وويل :-

بيا نو معلمې ته اړتيا نه لرې ، په حساب پسي يې مه کړئه . په همدغه پيسوخپل ژوند کوه .

ته زما پر خوايې که د خرس

دوو ښکاريانو پخپل منځ کي خبري کولې ، يوه هغه بل ته وويل :-

که ايږ برید د رباندي وکړي ته څه کوې ؟

هغه ورته وويل :-

په توپک يې ولم .

لومړي ورته وويل که توپک ونه لرې ؟

دوهم ورته وويل که تو پک راسره نه و ، وني ته پورته کېږم .

ده ورته وويل که ونه ، نه وه بيا ؟

دا بل ورته وويل که ونه ، نه وه بيا غره ته خېژم .

په دې وخت کي دوهم ښکاري ډېر په غصه سو ، ورته وې ويل :-

چي زه نه پوهيږم چي ته زما پر خوا يې او که د ايږ .

مرکه

يوه ځوان يوه سړي ته چي ډېر بد قهره سړی و ، په مرکه ورغی .

هغه ورته وويل چي ته غواړې چي زما زوم سې ؟

ځوان چي څه نا څه بېربډلی و ، وويل چي نه ! مګر که چيري ستا د لور سره واده وکړم ، نو مجبوريم چي ستا زوم سم .

يو بد خبر

يوه سړي ډېر شيطان زوی درلود ، چي ټوله کورنۍ ورسره په عذاب وه هلک ناروغ سو ، هغه يې ډاکټر ته بوتی .

ډاکټر ورته وويل :-

تاسو ته يو ډېر بد خبر لرم...

مور او پلار يې ډېر وارخطا سول نو له ډاکټر څخه يې وپوښتل چي حال يې ډېر خراب دئ ؟

ډاکټر په ډېره آرامي سره جواب ورکړ چي نه ! خو مطلب مي دا دئ چي سر له سبا څخه به بير ته خپله شيطاني پيل کړي .

بې ګناه زنداني

يو سړی چې له زندان څخه خلاص سوی و ، په يوه رستورانت کې يې د خپلې ګرفتاری او بندي کېدو کيسې کولې ، او وې ويل :-

زه يې بې ګناه او بې جهته بندي کړی وم ، چې فقط يوه کوچنۍ اشتبا مي کړې وه . هغه دا چې په کوڅه کې يوه بې خاونده رسۍ وه هغه مي راپورته کړه بيا وروسته متوجه سوم چې د رسۍ په هغه بل سر پوري غوا تړلې ده .

اجاره يا کرايه

په يوه ښار کې د غريبانو او پېوزلو کسانو له پاره پيسې ټولېدې ، چې د يوه بډای سړي څخه يې هم په دې هکله مرسته وغښتله او ورته وې ويل چې په دې مرستې سره به خپل ځان ته په جنت کې مانۍ جوړه کړې .

هغه وويل که زه جنت ته ولاړ نه سم نو بيا به څنګه سي ؟ نو په هغه صورت کې به مانۍ ما ته په درد ونه خوري.

خلکو ورته وويل هيڅ تشويش مه کوه هغه مانۍ به مورږ په اجاره يا کرايه ورکړو ، او پيسې به يې دوزخ ته درلېږو .

مريم

ښوونکي زده کونکي ته وويل چي مريم ته جمله کي استعمال کړه :-

زده کوونکي وويل :-

زما مور بازار ته ولاړه !

معلم ورته وويل :-

دلته کومه ده مريم چيري ده ؟

هغې ورته وويل چي مريم زما مور ده .

داتم بمب

يوه لېوني به په مرستون کي ويل چي زه د اتم بمب يم ، چي لاس رانه وړئ که نه چوم .

د مرستون مدير ورته وويل چي دغه ناروغ معاينه کړئ . ډاکټر ورووړاندي سو چي هغه معاينه کړي ، خو بيا يې وويل چي لاس رانه وړئ که نه چوم . ډاکټر ورته وويل :-

زما خوښېږي چي د اتم د بمب چاودل ووينم ، نو لاس يې ور اوږد کړ. لېوني چيغي کړې او وې ويل چي د خدای له پاره دغه لېونی غواړي چي دنيا له منځه يوسي .

د ځوانۍ دارو

یوه یوناني طبیب د ځوانۍ د دارو په نامه یوه دوا خرڅوله ، پر یوه سړي یې یو څه خرڅه کړې وه ، نو ورته وې ویل :-

د دې دوا په قدر به وروسته پوه سې ، د سړي باور نه راتلی ، نو ورته وې ویل چې څه ثبوت لرې ؟ هغه ورته وویل دغه دئ د دې دوا له برکته زه څلور سوه کلن یم او تر اوسه ځوان یم .

سړي دطبیب شاګرد ته مخ ور واړاوه چې هغه څه وایي ؟ هغه ورته وویل چې دقیق نه پوهیږم خو یوازي دوه سوه کاله کیږي چې له دې طبیب سره شاګرد یم .

دوه لېونیان

د مرستون معاون هره برخه د مرستون نوي رئیس ته ورښوولە چې یوه لېوني ته ورسپارل چې آرام او بې غمه ناست دئ . معاون رئیس ته ویل چې دغه اسکېرلی پر یوه نجلۍ مین و د هغې سره یې واده ونه سوای کړای . ځکه لوېونی سو ، بیا یې یو بل ځنځیري لېونی ولیدی نو رئیس ته یې وویل :- دغه لېوني بیا هغه څوک دئ چې دهغې نجلۍ سره یې واده کړی دئ .

خراب ساعت

یوه سړي چي ساعت رانیولی و بیرته یې ساعت خرڅوونکي ته ورور، ورته وې ویل چي زه دا ساعت نه غواړم . هغه ورته وویل چي ولي کوم عیب لري ، وران دئ ، که څه په سوي دي ؟ سړي ورته وویل چي نن راډیو اعلان وکړ چي پنځلس بجې دي خو دا ساعت تر دوولسو بجو ډېري نه لري .

بشپړ وجدان

یو چا له خپل ملګري څخه پوښتنه وکړه چي په دې ورځو کي نه اخبار لولې او نه راډیو اورې . هغه ورته وویل که رشتیا درته ووایم یو څه پیسې مي موندلي دي او څرنګه چي زه باوجدانه سړی یم که چا په اخبار کي لیکلي وه چي زما پیسې ورکي سوي دي نو زه خو یې بیرته نه ورکوم . نو په دې خاطر ناارامه کېږم ، نو ځکه نه اخبار وایم او نه راډیو اورم .

د ټلیفن غرفه

یو سړی په نوبت کي د ټلیفون غرفې ته نیم ساعت ولاړ و ، آخریې حوصله تنګه سوله ، هغه سړي ته چي د غرفې په داخل کي و وویل :- پوره یو ساعت کېږي چي د ټلیفون غوږي دي غوږ ته نیولې ده او خبري هم نه کوې . هغه ورته وویل چي وبخښه ! د

ښځي سره مي خبري کوم، هغه وخت نه راکوي چې يوه خبره هم وکم.

بې تربيې هلکان

ښوونکي د اخلاقو او تربيې په هکله خبري کولې، شاګردانو ته يې وويل چې تاسي بايد ښه تربيه زده کړئ، ښه اخلاق ولرئ، د لويانو او مشرانو احترام وکړئ... تر څو چې جنت ته ولاړ سئ ! بيا يې وويل :-

څوک چې جنت ته غواړي ولاړسي، نو لاس دي پورته کړي، ټولو شاګردانو بې له يوه لاسونه پورته کړل.

ښوونکي هغه ته وويل چې :-

ته نه غواړې چې جنت ته ولاړ سې ؟

هلک چې سر يې کښته اچولی و وويل :-

زه هم غواړم چې جنت ته ولاړ سم، خو د دې بې تربيه هلکانو سره نه ځم.

لوی عيب

معلم شاګردان موزیم ته ښولي وه ، هلته یې ټول شیان وروښوول . په پای کي یې د یوه شاګرد څخه پوښتنه وکړه چي په دغه موزیم کي څه عیب وجود لري ؟

څرنګه چي هغه معذرت نیولی و ، او ډېر په عذاب و نو یې وویل :- لومړی لوی عیب یې دا دئ چي موزیم تشناب نه لري .

توپیر

کوم چا د یو بل څخه پوښتنه وکړه چي د (سر) او (قول) څه توپیر دئ ؟ هغه وویل چي خلک قول او وعده ټرې او بیا یې ماتوي ، مګر سر او ل ماتوي بیا یې ټرې .

د انسان او الوتکي توپیر

د انسان او الوتکي توپیر په دې کي دئ چي انسان لومړی پورته کېږي او بیا روانېږي . مګر الوتکه لومړی روانېږي بیا پورته کېږي .

د ښځي تبه

د شپې پر دوو بجو د ډاکټر د ټلیفون زنګ جګ سو . ډاکټر ټلیفون جګ کړ له هغې خوا چا په ډېر نا آرامه زنګ ورته وویل چي مرسته راسره وکړه چي د ښځي تبه مي ۴۷ درجو ته پورته سوې ده .

ډاکټر ورته وویل چې ډېر افسوس کوم او خوا مي بده سوه . زه څه نه سم کولای لطفاً د اور وژني مرکز ته خبر ورکړه .

آزادي

د زندان مدیر خپل زنداني ته ور ږغ کړه او ورته وې ویل چې ستا د بند وخت پوره دئ . زمونږ له خوا آزاد یې او هغه ده ښځه دي هم راغلې ده او په دروازه کي ولاړه ده .

زنداني مخ مدیر ته وروړاوه او ورته وې ویل :-

مدیر صاحب! ته غواړي چې له زندانه مي رخصت کړې او د ښځي په لاس مي ورکړې او نوم ییا پر ایږدې چې آزادي !!!

ببره

یو سړي د خپل ملګري څخه پوښتنه وکړه چې ته له څه شي څخه ډېر ببرېږې ؟ د وطن څخه ایستل، عمري بند او که اعدام ؟

هغه ورته وویل :- دخپلي ښځي څخه بل د هیڅ شي څخه نه .

زه هغه سړی یم

د فوټبال په لوبه کي د یوه ځوان پښه ماته سوه . ترینر او ملګري یې ټول پر راټول سول ،ترینر ورته وویل چې هیڅ غم مه کوه

زمونږ په ټيم کي يو ځوان شکسته بند سته اوس به دي پښه در وتړي.

هغه ورته وويل چي بدبختي په دې ځای کي ده چي هغه شکسته بند زه پخپله يم.

صدقه

يوه سړي خپل بايسکل د مغازې مخي ته درولی و او هېر يې سو چي کلپ يې کړي ، کله چي د مغازې څخه راووت گوري چي بايسکل يې هيڅا نه دئ وړی . او ځای پر ځای ولاړ دئ ، ډېر خوښ سو تصميم يې ونيوی چي د دې کار صدقه ورکړي . نو ولاړي مسجد په مخ کي يې بايسکل ودرواوه او مسجد ته ننوتی چي ملا ته يې صدقه ورکړي ، چي راووت که گوري چي بايسکل يې چا بېولی دئ .

درې زده کوونکي

کله چي ښوونکي رخصت سو درې تنه زده کوونکي سره يو ځای سول او تصميم يې پر دې سو :-

لومړي وويل :-

راځئ چي شېر و خط سره واچوو که شېر سو نو سېنما ته ځو.

دوهم وويل :-

که خط سو نو په ښاري بسونو کي سپرېږو او چکر وهو .

دريم وويل :-

په بلامي !که نه شپر سو او نه خط ، بيا نو ځو کورو ته لوست به ووايو .

طويله

يوه سړي غوښتل چي کور په کرايه ونيسي، د کور خاوند چي ډېر سخت او ترينګلی سړی و ، وويل :-

د دې کور کرايه د مياشتي زر ډالره ده او د يوه کال کرايه مخکي غواړم او د کور ترميمات ، رنګول او نور مصارف ټول ستا پر غاړه دي .

سړي چي کور وليدی پوه سو چي ۲۰۰ ډالره هم بيه نه لري ، د کور خاوند ته يې وويل چي ستا د کور شرايط خوښه دي ، مګر په کور کي يو شی نسته چي هغه طويله يا غوجل ده .

د کور خاوند وویل چې غوجل یا ګاوخانه څه په کار ده ؟ سړي ورته وویل هر هغه سړی چې ستا کور په دې کرایه او دغو شرایطو ونیسي باید هغه په طویله کي وټړل سي .

د کوزدې بدلول

د یوه ځوان د کوزدې یا نامزادۍ چله په څاه کي ولوېده . یو نفر یې راوست چې هغه ورته راوکاږي ، هغه ورته وویل :-

د دې کار مصرف ډېر زیات دئ . دا په دې خاطر چې اول باید څاه وچ سي ، خټې یې ټولي راوایستل سي بیا ټولي میده سي او بیا پسي غلبېل سي چې دا ټول کار دوه لکه افغانۍ مصرف لري .

ځوان ورته وویل :- هغه هم بیا معلومه نه ده چې زما چله به پیدا سي که نه ؟ نو د دې مصرف پر ځای زه خپله کوزده بدلوم چې مصرف یې لږ دئ .

د سوالګر پوهه

یوه سوالګر سوال کاوه ، او ډېر شله سړی و ، د کور مېرمني څو واره جواب کړ ، خو دی بیا هم ولاړ و او خیرات یې غوښتی . ښځه چې ډېره بې طاقته سوې وه په ډېر لوړ آواز یې ورته وویل

چي ځه له دې ځايه ورک سه ! که نه مېړه مي خبروم چي ودي شړي ! فقير يا سوالګر ورته وويل چي :- مېړه خو دي په کور کي نسته !

ښځي ورته وويل چي ته له کوم ځايه پوه سوې ؟

سوالګر ورته وويل :-

څوک چي تا غوندي ښځه ولري مېړه يې په کور کي کله طاقت کولای سي .

نظم او نثر

يوه شاعر قصيده جوړه کړې وه او چا ته يې ولوسته . پوښتنه يې ځني وکړه چي څنګه ده ؟

هغه ورته وويل چي ډېره مزخرفه قصيده ده . شاعر په غصه سو هغه سړي ته يې ښکنځل وکړه ، هغه ورته وويل چي دا نثر دي له نظم څخه لږ ښه و.

ستا صفت کوو

دوو ملګرو يو د بل په غوږ کي ورو ورو خبري کولې ، يو بل سړی ورته متوجه سو او ورته وې ويل چې بيا څه درواغ سره جوړوئ ؟

دوی ورته وويل چې ستا صفت کوو.

ساختګي چک

يوه قاضي تورن ته وويل چې ته په لس زره افغانۍ جريمه محکوم سوی يې ، دا په دې خاطر چې ساختګي چک دي ورکړی دئ . متهم وويل :- دا دئ صاحبه ! واخله د لسو زرو چک دناغې له پاره .

د جغرافيې ښوونکی

د جغرافيې يوه ښوونکي د يوه زده کوونکي څخه وپوښتل چې په نړۍ کي کوم ځای دئ چې ډېر انسانان ژوند پکښې کوي ؟ زده کوونکي جواب ورکړ چې دا زموږ کور دئ په دې خاطر چې موږ يوازي يوه کوټه لرو په هغه کي زه ، مور او پلار مي ، د دوولسو وروڼو او خوندو سره ژوند کوو .

د خپل ځان په هکله کتاب

چرچل د انګلستان لومړي وزير د يوې تعليمي موسسې څخه پوښتنه وکړه چې زه غواړم داسي يو کتاب وليکم چې نه تر اوسه پوري چا ليکلی وي او نه يې وروسته څوک وليکی .

د مسسې رئيس ورته وويل چې د ځان د تعريف په باب يو کتاب

بيوی هغه ژوندی و .

بنځي يې ورته وويل چې ژوندی د تازه دليل نه سي کېدای که نه ته خو هم ژوندی يې .

د پيسو زور

چي هر سړی سورنی واخلي سبا ته همسایه یا ګاونډی رائي او حتماً توپک رانیسي .

د بهانې چاره یا درول

یوه سړي خپل ډېر ټینګ دوست ته وویل چي سبا بیا یو څو روپۍ په پور راکړه ، هغه ورته وویل چي دا خبره بیا سبا راته وکړه ، نو ولي اوس دلته وایې؟

هغه وویل هر وخت چي مي درته ویلي دي تا به ځواب راکاوه چي کاشکي دي پرون راته ویلي وای، اوس یې نه لرم نو دا دئ یوه ورځ مخکي مي درته وویل چي بیا بهانه ونه کړې .

مینه او محبت

یوې ښځي او مېړه په یوه مجلس کي خپل ځان ترنورو ښه معلوما وه نو ویل به یې چي مورږ د نورو خلکو څخه دېر فرق لرو، زمورږ په منځ کي هیڅکله جنګ او جنجال ، نه دی پېښ سوی ، حتّی یو او بل ته موښکنځل نه دي کړي. مینه او محبت سره لرو خو یوازی مو څو واري پرېکړه کړې وه چي یو او بل سره ووژنو او بس.

غیب ویل

یو سری د خپل دوست د لیدو له پاره ورغلی و، کله چې یې هغه ولیدی نو یې ورته وویل چې ماته پټ شیان معلومېږي او غیب هم ویلای سم . هغه ورته حیران سو، ورته وې‌ویل چې څنګه ؟

ده ورته وویل :- مثلاً زه په دې پوهېږم ، چې نن تا نېکر نه دئ اغوستی ، هغه ببخي ورته حیران سو، وې ویل عجبه ده ، مبارکي درته وایم . هغه ورته وویل په دې هم پوهېږم چې نن دي پر توګ هم نه دئ اغوستی ، لکه چې د یاده دي وتلی دئ .

عجبه دنیا

یوه فقیر سړي یوه بډای ته سلام واچاوه او ورته وې ویل چې خان صاحب چیري ځي ؟

بډای ورته وویل چې یو څه ګرځم چې څه اشتها راسي ، او د غرمې ډوډۍ په اشتها سره وخورم . فقیر ورته وویل چې زه بیا اشتها لرم ، یو څه ګرځم که چیري کومه مړی ډوډۍ پیدا کړم .

د ټولو له پاره ژوند

یو سړی ډاکټر ته ورغی ، چې ځان په معاینه کړي ، هغه نسخه ورکړه ، بیا راغی درملتون ته دوا یې واخیسته او کور ته ولاړی . په کور کي یې ټوله دوا له منځه یووړه او لیري یې وغورځوله .

دوست يې ورته وويل چې دا ولي ؟ ولاړی ډاکټر ته دي فيس دي ورکړ، بيا ولاړې درملتون ته درمل دي ځني رانيول او اوس دي وغورځول ؟

ده ورته وويل :-

ولاړم ډاکټر ته مي پيسې ورکړې چې يو څه پيداکړي او ژوند په وکړې ، دواخانې ته ولاړم پيسې مي ورکړې چې ژوند په وکړي دوا مي هم د دې له پاره ليري وغورځول چې زه هم غواړم چې ژوندی پاته سم .

د پسه که د غوايي

يو سړی رستورانت ته د ډوډۍ خوړلو له پاره ورغی کله يې چې د ډوډۍ خوړلو پيل وکړ، گارسون ته يې ورېږغ کړه او ځني وې پوښتل چې دا غوښه د پسه ده که د غوايي؟

هغه ورته وويل ولي ته نه په پوهېږې ؟

ده ورته وويل نه !

هغه ورته وويل چې خوره يې نو! پر تا نو څه توپير لري .

ساده ډاکټر

یو سړی په ګولۍ ویشتل سوی و ، خپلوانو یې مړی روغتون ته د معاینې له پاره یووړی ، ډاکټر چې ماینه کړ، ګولۍ یې په ټټر کې موښتې وه .

هغه یې راوایستله او په خوښې سره یې وویل د خدای فضل پر سوی دئ که نه دوې سانتۍ پاته وه چې ګولۍ یې په زړه کې وموښلې .

د غیر حاضرۍ ښه نتیجه

یو زده کوونکي چې په کال کې صرف یو دوې ورځې ښوونځي ته تللی و ، په ازموینه کې نهه نمړې واخیستې .

ښوونکي ورته وویل چې دا څنګه سو چې صرف یو دوې ورځې راغلي او دونه ښې نمرې دي واخیستې.

زده کوونکي ورته وویل چې زما نمرې باید لس وای خو هغه هم د دغو یو دوو ورځو راتګ علت سو چې کمې نمرې واخلم.

بدي ښځې

یوه سړي خپل دوست ته وویل :-

چې د ښځو ډېره برخه بده ده .

هغه ورته وويل چې :-

اې بې انصافه ! بدتري او بدترينې هم لري .

ماته بې توپيره ده

يوه سړي د خپلې مېرمنې څخه پوښتنه وکړه چې ګراني که زه سپين ږيرى سم او ډېر بد سړى سم بيا به هم دربانديې ګران يم ؟

ښځې يې ورته وويل چې هر څونه دې عمر ډېر او بد سړى سې . تر دې وخت به بد نه سې .

لار ښوونه

ساعت جوړونکى دوا جوړونکي ته وويل ستا د ساعت فز کمزورى سوى دئ ته بايد خپل ساعته ته دوه واري کوک ورکړې . دوا جوړنکي ورته وويل چې مخکې تر ډوډۍ که وروسته ؟

قاضي ته

يوه سړي قاضي ته وويل :-

کوم وخت داسې پېښه سوې ده چې ته نورو مجرمينو ته ووايې ، دغه کار بد کار دئ ويې نه کړئ او يا دا دې ډېر بد کار کړى دئ او بيا کوم وخت هغه کار په خپله تکرار کړې ؟

قاضي ورته وويل :-

زما کار همدغه دئ .

ګړندی آس

يوه رئيس چاته يو ډنګر او خوار آس وروبخښی .

هغه چې آس تر کوره بوتی په هماغه ساعت مړسو .

نو رئيس ته يې خط وليکی چې ډېر ګړندی آس دي راکړی و. چې د نړۍ او آخرت فاصله يې په يوه ساعت کي ووهله .

کوچني ته سترګي په لاره يې

د يوه وړوکتون مخي ته يو چاغ سړی چې نس يې ډېر غټ و ، ولاړ و.

نورو خلګو خپل کوچنيان تر لاس نيولي وه او ولاړل په دې وخت کي د وړکتون مديرراووتی او دچاغ سړي څخه يې پوښتنه وکړه چې تاسي کوچني ته سترګي په لاره ياست .

هغه ورته وويل :-

کوچنی موچنی نه لرم زما نس هسي غټ دئ .

سینما ته تګ

یو سړی او مېرمن یې سینما ته ولاړل . کله چې سینما ته ورسېدل ، سړی لږ مخکې و، ښځه یې په پسې وه ، کنټرولر ټکټونه ځني واخیستل او ورته وې ویل چې وروره ! دا ښځه ستا سره ده ؟

هغه ورته وویل هو ! متاسفانه دا پنځوس کاله کېږي .

اختلاف

قاضي په محکمه کي د یوه سړي څخه پوښتنه وکړه چې ولي دي ښځي ته طلاق ورکوې ؟

هغه ورته وویل د نظر او فکریووالی نه سره لرو . هغه دا چې :-

زه ورته وایم طلاق درکوم دا وایې نې غواړم.

مظاهره

په یوه مظاهره کي ټولو خلکو نارې وهلې چې ژوندی دي وي فلانی او مړي دي وي ...

په دې وخت کې یو سړی غلی ورسره روان و ، چا پوښتنه ځنې وکړه چې ته ولې نه وایې چې ژوندی دي وي . ده ورته وویل زه د دې خبرې یا شعار سره جوړ نه سم . دا ځکه چې زه ډاکټر یم .

زه هم د ده سره کار لرم

دوه لېونیان په یو ځای کې ناست وه ، یوه نفر د لومړي لېونې څخه پوښتنه وکړه چې ته څه کوې ؟ هغه جواب ورکړ چې هیڅ !

بیا یې له دوهم څخه پوښتنه وکړه چې ته څه کار کوې ؟

هغه ورته وویل چې زه هم د ده سره کار کوم .

توپیر

یوه کوچنۍ د خپل پلار څخه پوښتنه وکړه چې پلاره ! توپک او ماشیندار څه توپیر سره لري ؟

هغه ورته وویل کوم وخت چې زه او مور دي سره خبرې کوو ، ته راسه وایې وره بیا نو خپله په پوهېږې .

لومړی حق

په محکمه کې دوه تنه بندیان محاکمه سول چې یو یې ۲۵ کاله او بل یې ۳۰ کاله په بند محکوم سول . کله چې زندان ته ولاړه .

هغه یو چې ۲۵ کاله بند پر راوتلی و، کټۍ دروازې ته نزدې کښېښووی، هغه بل پوښتنه ځني وکړه چې دا ولې؟

ده ورته وویل چې زه پنځه کاله مخکې ایله کېږم.

پوره (۹) میاشتې وروسته

یوه سرباز د قوماندان څخه د رخصت هیله وکړه هغه ورته وویل چې :- څه مشکل لرې؟

سرباز ورته وویل چې په کور کې مې اولاد پیداکېږي.

قوماندان ورته وویل چې څه وخت پیدا کېږي؟

سرباز وویل چې زما د رخصتۍ څخه پوره (۹) میاشتې وروسته.

معجزه

یوه شوخ او بې تربیې هلک چې هدف یې شوخي او رشخندوهل وه. له یوه روحاني څخه پوښتنه وکړه چې ته معجزه رابښکاره کولای سې؟

هغه په پوه سو او وې ویل چې هو!

هلک ورته وویل څنګه؟

روحاني يوه ټينګه څپړه وواهه چې هلک يې غوڅار کړ، کله چې هلک را پورته سو روحاني پوښتنه ځني وکړه چې خوږ سوم !

روحاني ورته وويل که نه وای خوږ سوی دا به معجزه وای .

هېره

ښځه او مېړه چې سن يې تر ۸۰ کاله اوښتی و. يوه بل ته يې د خپلې حافظې په هکله لافې وهلې او هر يوه به خپله حافظه قوي بلله .

يوه ورځ کليسا ته ولاړل ، کله چې بيرته کور ته راتلل. ښځې مېړه ته وويل چې اوس نو وگوره چې زما هېره قوي ده که ستا . داڅکه چې خپله لکړه دي هېره کړې وه ، کله چې ته راووتې ما خپله او ستا لکړه دواړې راواخيستې.

مېړه يې ورته وويل چې :-

موږ اصلاً نن لکړې نه وې راخيستې .

احصائيه اخيستل

يو سړی د سړک پر غاړه ولاړ و او شپاړس شپاړس به يې ويل .

بل سړي ورته وويل چې دا ولي شپاړس شپاړس نارې وهې .

ده ورته وويل اولس اولس .

بيا يې پوښتنه ځني وکړه چې دا حساب خه معنٰی لري ؟

هغه ورته وويل زه ساده ګان حسابم.

واده

وايې چې واده يو قمار دئ. مګر داسې نه ده ، ځکه چې کېدای سی قمار کوم وخت برد يا وړل هم ولري ،مګر ...!!!!

پوستين

ښځه د خپل مېړه سره روانه وه چې يو سپی يې وليدی . مېړه ته يې وويل چې وګوره ! او وشرمېږه ! هغه سپی هم زما غوندې پوستين لري ، مګر زما تر پوستين نوی دئ او ته ما ته نوی پوستين نه را رانيسې .

مېړه يې ورته وويل چې د سپې ټول عمر همدغه يو پوستين اغوستی وي او ښه يې ساتي . خو ته هر ژمی زما څخه نوی نوی پوستين غواړې .

د ژړا بيه

يوې ښځي په لوړ آواز ژړل او مېړه ته يې ويل چې زه نه يم درباندي ګرانه. پوره يو ساعت کېږي چې زه ژاړم خو ته له ما څخه هيڅ نه پوښتي چې ولي ژاړم .

هغه ورته وويل چې ډېر وبخښه چې يو واري مي پخوا دا سوال درڅخه کړی و خو ډېر ګران راته تمام سو .

تشناب چيرې دئ ؟

يو سړی د يو چا کړه مېلمه و، د شپې له خوا يې غښتل چې تشناب ته ولاړ سي ، کله چې د هلېز ته راووتی ، ګوري چې يوه اروا چې سپين اوږد کميس يې اغوستی دئ ، ده ته يې وويل :-

زه دا درې سوه کاله کېږي چې دلته ژوند کوم ، نن غواړم چې تا وخورم . سړی چې ډېر زړه ورو، نو يې اروا ته وويل چې خير دئ تشويش مه کوه ، خوړل به وروسته سره وکړو نو ته چې دونه بلد يې لطفاً لومړی ما ته تشناب راوښيه چې چيرې دئ ؟

تر غرمې وروسته که مخکې

يو سړی د کار پيدا کولو له پاره د يوې کارخانې مدير ته وويل چې يو کار راکړه !

هغه ورته وویل چې اوس کار نه لرو . بیا احوال واخله . دی هم څو ورځې پرله پسې ورغی . په پای کې مدیر ورته وویل چې ځه لس کاله وروسته راسه .

سړي ورته وویل لس کاله وروسته تر غرمې مخکې که وروسته ؟

زه اوس د هرات ملکه یم

دوه مجرمین چې پولیسو نیولي وه ، پوښتنه یې ځني وکړه چې تاسي څه کاره یاست ؟

یوه وویل زه د کندهار پادشاه یم . او هغه بل وویل زه د هرات پادشاه یم .

پولیس ورته وویل چې زه به تاسي ته اوس پاچهي دروښیم . دواړه یې په یوه کوټه کې بندیان کړل ، یوه اونۍ وروسته یې راوغوښتل او پوښتنه یې ځني وکړه .لومړي وویل زه تر اوسه د کندهار پادشاه یم ، دوهم ورته وویل چې زه اوس د هرات ملکه یم .

بیرته ګرځېدل

ډاکټر په ډېره غصه خپل ناروغ ته ټلیفون وکړ ورته وې‌ویل :-

هغه چک چي تا راکړی و هغه بيرته وګرځېدی .

ناروغ ورته وويل :-

تشويش مه کوه زما ناروغي چي تاسي تداوي کړی وه، هغه هم بيرته را باندي راوګرځېدل.

پور سترګي قوي کوي

يوه سړي خپل ملګري ته وويل چي اوس ما ته معلومه سوه چي پورد سړي سترګي زياتي قوي کوي . دا په دې معنی چي د يو چاپيسې راباندي دي ، مخکي به مي هغه سړی لږ څه د ليري څخه پېژندی اوس يې د يو کيلو متري څخه هم پېژنم .

د قيامت ورځ

د دينيات معلم په صنف کي د قيامت د ورځي په هکله معلومات ورکول چي لمر يوه نېزه راکښته کېږي ، اسرافيل شپېلۍ وهي ، مخکه په رېږدېدو کېږي ، مړي راژوندي کېږي ، د هر چا عمل نامه د هغه په لاس ورکول کېږي . په دې وخت کي يو شاګرد وويل :- معلم صاحب هغه ورځ مکتبونه رخصت وي .

يوه دقيقه سکوت

يوې ښځي خپل مېړه ته وويل چې نن زما او ستا د واده‌لس کاله پوره کېږي ، نو څه بايد وکړو؟

هغه ورته وويل :-

يوه دقيقه به سکوت وکړو .

زغمل

يوه سړي دوولس سرونيم سر کوچنيان درلودل ، چا پوښتنه ځني وکړه چې څنګه د دې‌ټولو غالمغال زغمې ؟ هغه ورته وويل چې يو ښه تصادف په ژوند کي راپېښ سوی ، هغه دا چې‌په دوی کي يو دونه چيغي وهي چې د دا نورو زغ نه‌اورم.

اشتباه

يو سړي داسي عادت درلود چې کله به خپل د خوب کټ ته ورختی نو د کړکۍ څخه به يې‌د باندي تو کړل ، او بيا به پرکټ پريووت . يوه‌ورځ يې فکر وران و نو پر کټ باندي يې تو کړل او پخپله د کړکۍ څخه د باندي ولوېدی .

استراحت

یوه سړي خپل ملګړي ته وویل دونه ډېر استراحت مي کړی دئ چي ښځي ورځخه ستړی سوی یم. هغه ورته وویل چي ځني ستړی سوی یې پرې یې ږده یو څه استراحت وکړه .

اضافه خرڅي

یوه سړي په ډېره غصه خپل دوست ته شکوه وکړه چي ما ته نور د دې ښځي سره ژوند ډېر تریخ دئ، هغه په دې خاطر چي سهار تر مانښامه راته وایي چي پیسې راکړه .

دوست یې ورته وویل چي دا خو ډېره بده خبره ده ، خو دا راته ووایه چي ستا ښځه په دونه پیسو څه کوي ؟

هغه ورته وویل که رشتیا درته ووایم نه پوهېږم ، خو ما تر اوسه پوري ورکړي نه دي.

د پوستکي بالاپوښ

یوه ښځه د بلي سره مخامخ سوه او ورته وې ویل واه واه ! داڅنګه ښه او ګران بالاپوښ دي اغوستی دئ. تا خو مخکي ویل چي مېړه مي اجازه نه راکوي لکه چي د مېړه نظر دي بدل سوی دئ ؟

هغې ورته وویل :-

نه ! د مېړه نظر مي نه دئ بدل سوی ، ما خپل مېړه بدل کړی دئ .

پوښتنه

یو چا د یوه لېونې څخه پوښتنه وکړه چې څه حال ا احوال لرې ؟

هغه ورته وویل :- لکه تیاره یا الوتکه !

هغه ورته وویل چې څنګه ؟ لېونې ورته وویل :-

دا نو ورسه د پیلوټ څخه پوښتنه وکړه .

د حوصلې لږوالی

یو سړي به ویل :-

مور د حوصلې د لږوالي په خاطر واده کوو او د همدغي حوصلې د لږوالي په خاطر پیرته طلاق ورکوو، او بیا هم حوصلې د لږوالي په خاطر بیرته واده کوو .

غاښ جوړونکی

غاښ جوړونکي یوازي داسي خلک دي چې د بل چا په غاښو باندي ډوډۍ خوري .

په پور کې ډوب

يوه سړي خپل ملګري ته وويل چي اقتصادي حالت مي داسي خراب دئ چي تر ستوني په پور کي ډوب يم.

ملګري يې ورته وويل ښه دئ چي قد دي لوړ يا جګ دئ که نه اوس به بېخي پکښې ډوب واى .

د عکس جوړول

عکاس د انګلستان د لومړي وزير چرچل عکس واخيست . نو په جوړولو يې پيل وکړ چي ګونجي يې له منځه يوسي . چرچل ورته وويل :-

پرې يې ږده دا ګونجي ما په پنځوسو کلو کي په څه زيار لاس ته راوړي او ته يې څو دقيقو کي له منځه وړې.

بې عقل وکيل

يوه سړي د امريکا ولسمشر ته وويل چي د پارلمان په وکيلانو کي داسي يو پېعقل او لوده سړى سته چي هيڅ حد او اندازه نه لري .

ولسمشر ورته وويل :-

هغه د هغو بې عقلانو وکيل دئ چي په دې ولس کي ژوند کوي .

استعفٰی

یوه نفر چې د پیسو چاپولو او شمېرلو په موسسه کې یې کار کاوه خبر سو چې د ټولو خلکو معاش دوه برابره زیات سوی دئ .

دستي خپله استعفٰی وړاندي کړه چې د دې ټولو پیسو شمېرل دچا دلاسه کېږي .

سپما

د یوې سختي کورنۍ پلار د مرګ په حال کې و ، یو زوی یې وویل :-

که پلار مو مړ سو د جنازې په موټر کې به یې تر هدیرې ورسوو.

بل زوی یې وویل چې د جنازې موټر ډېرې پیسې غواړي ، په امبولانس کې به یې یوسو.

بل زوی یې وویل :-

پر کټ باندي به یې یوسو.

څلرم زوی یې وویل چې د جوالي په شا به یې ورکړو .

په پای کي يې پلار په ربړدبدلی آواز سره ورته وويل چي :-

زه پخپله تر هديرې درسره ځم چي زه هلته مړسم او پر تاسي مصرف را نه سي .

غټه حوصله

دوه موټروانان د سړک په يوه نري ځای کي چي يوازي يو موټر تېرېدلای سوای سره مخامخ سول ، هر يوه کوښښ کاوه چي مقابل موټر يې شاته ولاړ سي خو دوی دواړو پوره يو ساعت سره مخامخ ودرېدل . په دې وخت کي يوه يو پنډ کتاب راواخيست او د لومړي مخ ته يې په ويلو پيل وکړ .

هغه بل موټران تر ده هم د حوصلې خاوند و ، کړکۍ يې پورته کړه او سر يې راوايست ، دې بل موټروان ته يې وويل هر وخت چي دي کتاب ولوست بيا يې سر تر پايه ماته کيسه وکړه .

د ښځي عمر

يوې سپين سري ښځي د يوه سړي څخه پوښتنه وکړه چي ستا په نظر به زما عمر څونه وي ؟

هغه ورته وويل زه عمر د دوو اړخو څخه ګورم ، يو د ښايست له مخي ، چې د هغه له مخي ستا عمر لس کاله تر اصلي عمر لږ معلومېږي او دوهم د عقل او پوهې له مخي ، چې د هغه له مخي ستا سن د اصلي سن څخه لس کاله غټ ښکاري .

د عملياتو په کوټه کې

يو ناروغ يې د عملياتو کوټې ته بوتی ، دوی غوښتل چې بې هوښه يې کړي . د ناروغ ورته پام سو ، او ورته وې ويل چې زه پېهوښه يم تاسي زيار مه باسئ

دګاډۍ آس

يوه سړي وويل عجبه زمانه سوه ، ګاډۍ آس کشوي ، او پيسې يې ګاډۍ وان اخلي.

بې اشتهايي

مور خپل کوچني ته وويل :-

زويه راسه ! نهاری دي وکړه ولي ډوډۍ نه خوړې څه شي دي خوړلي دي ؟ زوی يې ورته وويل :-

هو موري ! يو ساعت مخكي مي پر کنګل يخمالک وخوړ. پلار مي وليدی او زه ولوړدم ، يو ښه ټک مي وخوړ. بيا مي د پلار لهلاسه وهل وخوړل. نو اوس د نورو خوړلو اشتها نه لرم.

د سهار نهاری

يوه کښتیِ د ډوبيدو په حال کي وه . نوکر خپل بادار تهورمنډه کړه او د خوب څخه يې راويښ کړ ورته وې ويل :-

چي ژرسه ! وزه، کوچنیِ کښتیِ ته ځان ورسوه ، که نه دا کښتیِ ډوپږي ، هغه ورته وويل چي سمه ده ،سهار مي پر پنځو بجو راکښېنوه ، نوکر يې ورته وويل چي زه ولاړم ته بيده سه . بيله هغه نهنګان د سهار نهاری نه لري .

چتریِ

يوه سخت سړي غوښتل چي چتریِ واخلي ، د دوکاندار سره پر چنو نه سو جوړ، بله ورځ بيا دوکاندار ته ورغی او ورته وې ويل چي نن نو حتماً چتریِ اخلم . خو په دې شرط چي داسي چتریِ راکړې چي زما د عمر سره دوام وکړي .

دوکاندار ورته وويل چي دا کېدلای سي هو په دې شرط چي ته هم وعده راکړې چي تر دووکالو به زيات ژوند نه کوې .

لمر وهلی دئ

یو سړی ډاکټر ته ورغی او د خپلې ناروغۍ څخه یې ورته وویل .

ډاکټر ورته وویل چې ته په اروپا کې ژوند کوې ، دلته تل باران اوري ، لمر لږ دئ ، ته لمر ته اړتیا لرې . داسې هیواد ته ولاړ سه ، چې هلته لمر وي . دی هم راولاړ سو د کوټې چت یې د آسمان په شکل رنګ کړ او لمر یې هم رسم کړ ، خو څو میاشتې وروسته مړسو . ملګري یې وویل خوارکی لمر ووهه او مړ سو .

زما پر ځای یې نولی دئ

یو سړی چې د شپې به کور ته ناوخته راتلی او د ښځې به یې ورسره جنګ و . کیسه یې کوله چې پرون شپه زمونږ کره غل راغلی و . زما ښځې زما خیال پر کړی دئ او کلک یې نولی دئ . ملګري یې ورته وویل چې اوس نو حتماً په زندان کې دئ ؟ هغه وویل :-

نه بابا ! اوس په روغتون کې دئ ځکه چې سر او پښې یې ډېرې کلکې ټپي سوي دي ، بستر سوی دئ .

د قوت دوا

یو سړی ډاکټر ته ورغی او شکایت یې ورته وکړ چې په خانه داري کي ډېر کمزوری سوی یم . یو ښه د قوت دوا راکړه .

هغه هم ښه قوي دوا ورته ولیکله ، او ورته وې ویل چې اوس نو هر چیري چې ځې په معامله کي تکړه یې ، دا دوا خوره !

هغه ورته وویل زه د خپل کور له پاره دوا ته ضرورت لرم ، د باندي زه بخپله هم تکړه یم .

هغه بې له عینکو نه اوري

یوه سړي تل عینکي پر سترګو کولې ، یوه ورځ یې عینکي پر سترګو نه وې یو چا څه شي ورته وویل ده وانه وړېدل.

ملګري یې ورته وویل چې دی بې له عینکو څه نه اوري . ودرېږه چې عینکي یې پره سترګو کړي بیا ورته ووایه .

بې تربیه بندي

د زندان مدیر یوه بندي ته وویل چې ته ډېر بې تربیې او شراچوونکی سړی یې .زه ستا د اخلاقو څخه قطاً راضي نه یم . هغه ورته وویل چې داسي وه نو څه مي کوې چې ساتلی دي یم .خوشي مي کړه چې خپل کاروبار ته ورسېږم.

د اصلي غذا څخه مخکي که وروسته

يو چاغ او پر خوره سړی ډاکټر ته ورغی چي معاينه يې کړي .

هغه ورته وويل چي نور ښه يې خو يوازي دي خوراک کم کړه ، هغه دا چي بې له سبزي جاتو ، مېوو او هګيو څخه به بل شی نه خوړې .

چاغ سړي ورته وويل دا شيان دي چي راته وويل دا تر اصلي غذا مخکي وخورم که وروسته ؟

نوی نقاش

يوه انځورګر چي تازه يې په کار شروع کړې وه ، او په خپل کار کي يې هيڅ مهارت او تجربه نه درلوده ، يو بې ډوله تابلو يې رسم کړه . کله چي تابلو استاد وليده ، هغه ورته وويل چي زه ستا پر دغه تابلو هيڅ نه تعجب کوم نوي نقاش ورته وويل :-

زما پر هنر باندي ؟

استاد ورته وويل چي نه ! ستا پر هنر نه ، بلکي ستا پر بې هنرۍ باندي .

ښه خواړه

يوه سړي د رستورانت مدير ته وويل چي ښه خواړه راته راوړه ، کله چي زما خواړه ښه وي او نس مي مورړ سي بيا هر څه هېرومه .

د رستورانت مسئول ورته وويل چي داسي ده نو د ډوډۍ پيسې مخکي تر دې چي هغه نوش جان کړې راکړه .

معاش

يو رئيس د يوې شعبې مدير ته وويل چي ته هره ورځ ناوخته رائي که پر وخت نه سې راتلای ښه به داوي چي پر خپل کور کښېنې .

مدير ډېر خوښ سو ، نو رئيس ته يې وويل :-

که مي معاش کور ته راولېږئ نو هغه ورځ به هم په کور کي پاته سم ، له تا څخه مننه .

د خوګانو چوپان

يوه ښوونکي له دوو وروڼو څخه چي دواړه ډېر شوخ وه پوښتنه وکړه چي ستاسي پلار څه کار کوي ؟

دوی ورته وویل چې پلار مي د خوګانو د یوې لوبې رمې چوپان دئ.

معلم ورته وویل چې زه نو یوازې د دوو خوګانو چوپان یم.

درې تنه ښکاریان

درې تنه ښکاریان سره ناست او کیسې یې کولې، یوه وویل :-

ما په یوه ټک سره یوه هیلۍ ، یوه سوۍ او یوه زرکه وویشتله .

بل وویل ما ته یوازې یوه مرمۍ راپاته وه چې په هغه مي یو زمری ، یو پړانګ دوه سویان ، د یوې هوسۍ سر ووشتل . دریم ښکاري ورته وویل :-

تاسو خو رشتیا وایاست څوک چې درواغ وایي خور او مور یې !!!...

کوچنۍ خطا

زندان ته یې نوی زنداني راوست، زړو زندانیانو پوښتنه ځنې وکړه چې پر څه ګناه یې بندي کړی یې ؟

هغه وویل چې هیڅ بې ګناه یې بیدي کړی یم .

هغه ورته وويل :-

هغه بنديان چي دلته رائي ټول وايي چي بېګناه دي . مګر بېخي بېګناه هم نه وي ،ته ووايه چي څونه وخت له پاره بنديي ، او څه دي کړي دي ؟ نوي بندي وويل :-

د دووهفتو له پاره بندي يم ، خپله خوابنې او ښځه مي وژلي وه .

دوی ورته وويل :-د دووهفتو له پاره!

بندي ورته وويل ،هو ! تر هغه وروسته مي اعداموي .

زه تر خپل حق تېر يم

يوې مور د ټوخي ډېر تريخ شربت خپلو دوو کوچنيانو تهورکول ، چي هر يوه ته پر وخت يوه يوه کاچوغه ورکړي ،يوه ته يې چي په زور يوه کاچوغه په خولهکي ورکړه ،د هغه بل نارې سوې ، چي زه تر خپل حق تېر يم ، زما برخه هم زما ورور ته ورکړه .

نشه يي

يو ډېر غرق نشه يي پر لار روان و چي يو بلسړی يې په ډکه ووهه .

هغه ورته وويل چي څه کوې ؟ نه وينې .

ده ورته وويل ولي نه ! تاسي دواړه وينم .

هغه ورته وويل نو په ډکه دي ولي ووهلم ؟

ده جواب ورکړ چي ما غوښتل ستاسي دواړو تر منځ تېر سم .

د جمعې ورځ

يو سړي په خپل پوروړي پسي ورغی ورته وې‌ويل چي زه به هره ورځ ځم او راځم . د کاروبار څخه دي‌وايستم . لطفاً زما پيسې راکړه . پوروړي يې ورته وويل چي ته رشتيا وايې ، نور هره ورځ مه راځه ، يوه جمعه او بله جمعه راځه ، بل کال ته به بيا ورځ سره وټاکو .

غونډاوربزی

يوه سړي د غونډاوربزي ناروغي درلوده ، ستونی يې ډېر پرسېدلی و ، هلکانو به په ځير ځير ورته کتل ،يوه ورځ د ده حوصله ختمه سوه نو يې‌يوه هلک ته وويل :-

که‌دي بيا داسي په ځير ځير راته وکتل وبه دي خورم.

هلک ورته وويل :-

لومړی هغه څه چې خوړلي دي دي ، تېر کړه تر څو چې زما نوبت راورسېږي .

د استاد حافظه

د يوه استاد څخه چا پوښتنه وکړه چې ستاسي د مېرمن دوه غبرګولي پيدا سوي دي مبارک دي سه ! که‌راته ووايې چې هلکان دي که نجونې ؟

استاد جواب ورکړ چې لومړی يې لکه چې هلک دئ او دوهمه يې نجلۍ ده او که برعکس لومړۍ يې نجلۍ او دوهم يې هلک!!!

وخت لکه سره زر

يو فقير ډوله سړی د زرګر دوکان ته ورغی ورته وې ويل ، زرمثقال په څودئ ؟

هغه چې ورته وکتل ورته وې ويل :-

ځه ځه کا کا ! نه يې خرڅوم وخت نه لرم.

ده ورته وويل زه وخت لرم . او ته خو پوهېږې چې وخت لکه سره زر داسې ارزښت لري ، نو غواړم چې يو څه وخت درباندې خرڅ کړم .

بهانې

يو هلک د چا باغ ته ورواوښت ، د باغ خاوند په خبر سو ، خو دې ځنې وتښتېدی ، اوپه طويله کې يې د يوه خره شاته ځان پټ کړ . باغوان ورپسې ورغی او ورته وې ويل چې دلته څه کوې ؟

هلک ورته وويل چې زه بهانې يم دلته له خپل فاميل سره ژوند کوم .

هغه ورته وويل چې دا خو نر خر دئ . هلک ورته وويل هو مور مې مړه سوې ده اوس مې يوازې دپلار سره ژوند کوم .

خير دئ

ښځې پر خپل ښېږدونکي مېړه ږغ وکړ چې په اشپزخانه کې غل دئ .ما په خپلو سترګو وليدی .

مېړه يې په ږېږدېدونکي آواز ورته وويل :-

خير دئ مورِ هم ټول خواړه نه سو خورلای .

چترې او باران

يوه سړي خپل زوی ته وويل جي ګلانو ته دي اوبه ورکړي دي ؟

هغه وويل دغه دئ اوس يې ورکوم ؟

پلار يې ورته وويل چي زويه اوس خو دا دئ باران اوري .

زوی يې ورته وويل چي خير دئ ، ما هم چترې راسره اخيستې ده .

هلکان مي نه خوښېږي

يوه نوي ځوان چي ډېر شوخ او چالاکه و خپلي معلمي ته وويل چي :-

پر ما ډرره ګرانه يې او مينه درسره لرم .

هغې ورته وويل :-

واه واه ! څه خبري اورم زما بيخي هلکان نه خوښېږي .

هغه ورته وويل چي پروا نه لري کوښښ به وکړو چي د هلکانو د پيدا کېدو مخه به ونيسو .

ښځه ښه ده که موټر

یوه سړي خپل دوست ته وویل چې یو لک روپۍ لرم واده وکړم او که موټر رانیسم کوم یو ښه دئ ؟

هغه ورته وویل چې ښځه ښه ده ، دا په دې خاطر که موټر خراب سي نو ته به مصرف په کوې . او که ښځه خرابه سوه نو ستا مصرف به هم درکوي .

غیرت

یوه سړي یوه مامور ته وویل چې ستا سي رئیس څو دقیقې مخکې ستاسي کورته ولاړی ،ژر ورسه چې څه کوي ؟

سړی ورغی او تر کوم سوري یې ورته وکتل ،ییرته راغی ډېر جګر خونه و ، بل سړي پوښتنه ځنې وکړه چې څه خبر سوه ، ولي دونه جګر خونه یې ؟

هغه ورته وویل چې آبرو او عزت مي له منځه ولاړل ،رئیس ته په یوه پیسه سوم ،هغه دا چې ببعقله ښځه مي په ځیري نېکر کي د رئیس مخي ته ولاړه وه .

ننني هلکان

یوه مېړه غوښتل چې د خپلې ښځې سره معامله وکړي ، نو زوی ته یې وویل چې زویه ته برنډې ته ووزه او وګوره چې په بازار

کي څه تېرېږي او ته لوړ آواز د هغه ځای نه هر څه چي وينې راته وايه .زوی يې هم برنډې ته ووت او په لوړ آواز سره وايي :-

هغه دئ ښکلی موټر تېرېږي او هغه دی سړی پر بايسکل سپور دئ ، هغه دی شېر کاکا دوکان ته ځي ، هغه دئ اسد کاکا په خپل کور کي سکس پيل کړی دئ ؟

پلار چي يې ټولې خبري واورېدلې نو يې زوی ته ږغ وکړ چي ته څه پوه سوې چي اسدکاکا سکس کوي ؟ هغه ورته وويل چي هغه خپل زوی برنډې ته را ايستلی دئ .

عزرائيل

يوې ښځي يو يار درلود ، کله چي د ښځي مېړه کار ته ولاړی ، ياريې راغی ، د دې سره خبرو بوخت سو چي دروازه وټکېدله . ښځه پوه سوه چي مېړه يې دئ او دوه ژوندي چرگان يې په غېږ کي نيولي دي .

ښځي خپل يار په تشناب کي پټ کړ ، او مېړه ته يې ور ورپرانيست . مېړه يې وويل چي يو ځای مي ښه ارزانه چرگان پيداکړل او دا دي را مي نيول ، چاړه راکړه چي حلال يې کړم ، چي راباندي ناوخته دئ زه بيرته کار ته ځم .

ښځي چاړه ورته راوړه ، سړي وويل چي چرګان په تشناب کي حلالوم .

ښځه چي هر څونه ورته ټينګه سوله خو مېړه يې ورته وويل چي تشناب ښه دئ ، د چرګانو ويني به هم د باندي ولاړي سي او اوبه به يې يوسي .

کله چي دی تشناب ته ورننوت چي ګوري هلته يو غټ تکړه سړی ولاړ دئ ، ده پوښتنه وکړه چي څوک يې او دلته څه کوې ؟

هغه ورته وويل :-

زه عزرائيل يم . خبر سوم چي ته چرګان حلالوې ، راغلم چي روح يې واخلم .

د ښځي مېړه ډېر وارخطا سو ، وې ويل :-

چي اوس يې نه حلالوم . سړي ورته وويل نو چي اوس يې نه حلالوې لار راکړه چي ووزم .

لکه سپوږمی

مور خپل زوی ته وويل چي زويه ولي واده نه کوې ؟

هغه ورته وويل چي :-

زه داسي ښځه غواړم لکه سپوږمۍ !

مور يې ورته وويل چي لکه سپوږمۍ داسي ښايسته وي ؟

هغه وويل :-

چي نه بايد داسي وي لکه سپوږمۍ چي د شپې راسي او د ورځي ولاړه سي .

سړی ته ژوند وربخښي

يو هلک د خپلي خاله سره روان و ، چي گوري خره خپل شي را ايستلی دئ ، هلک ورته وويل چي :-

خاله جاني هغه څه شي دئ .

خاله ورته وويل چي دا هغه شی دئ چي سړی ته ژوند وربخښي . نو هلک ورته وويل چي داسي دئ نو ولي ورته گورې !!!

فيلسوف کېږي

سړی خو هغسي هم مجبوره دئ چي ښځه وکړي ، که چيري ښايسته ښځه وکړي نو بختور او سعادتمند دئ او که چيري بدرنگه او بې کاره ښځه وکړي هم توپير نه کوي ، ولي چي په دې صورت کي بيا فيلسوف کېږي !!!

د قوت ګولۍ

یو سړی کور ته راغی ویې لیدل چې ښځې یې ځوانې د قوت ګولۍ د میز پر سر ایښې دي ، میړه یې ډېر خوښ سو هغه په دې

ویلي دي چې هغه شی چې د میلمه له پاره وي لاس مه وروړه .

میله

درې کسه ملګري سره یو ځای سول چې میلې ته ولاړ سي ، یوه وویل زه کباب ، سکاره ، ډوډۍ او اوبه راوړم.

دوهم وویل :-

زه شربت ، یخی ، میوه او ترکاري راوړم.

دریم وویل :- تاسي ټول شیان یاد کړل ، ما ته خو څه شي پاته نه سو ، نو زه مي پلار راولم.

زندان

یو ښایسته هلک بندي سو ، چې تصادفاً د یوه خطرناک سړي په کوټه کي ولړی ، ځوان د دې له پاره چې ځان یې ژغورلی وي هغه ته میل چې نه ، د مرګ په تمه ناستل یې ډاډه

شاراړوي

یوه سړي به هره شپه د خپلي ښځي سره شور و او د ښځي به ډپري چیغي وغلې . یوه ورځ یې ګاونډي ورته وویل چې تاسي څه کوئ چې هره شپه مو ناړې او سورې وي ؟

سړي ورته وویل چې دا کار ځکه کوم چې د شپې راسره خوابدې وي او ماته شا راړوي .

د چوتې سوځل

یوه سړي او خپلي ښځي یې په منځ کي شفر درلود ، کله چې به یې د خیر کارته زړه سو نو یو او بل ته به یې وویل چې رائه چې پنجابي مړ کړو . ښځي په یوه شپه کی څو واره وو

–

دوی یې کور ته بوتلې او حساب یې ښه ور برابر کړ، په پای کې یې ورته وویل چې اوس نوکېدلای سي چې فاتحې ته ولاړې سي.

مرور خواښې ته وویل درځه چې ځو ! څرنګه چې خواښې ته یې

–

یې تر شلو کالو زیات عمر درلود ، ده څو واري پوښتنه ځني کړې وه چې ولې واده نه کوئ ؟

هغو به په یوه او بله بهانه ځانونه ځني خلاصول .

یوه ورځ کوم حوض ته ټول د لمبېدلو له پاره ولاړل ، سړي تصادفاً بکسونه ولیدل ، چې وې کتل په بکس کې دوه غټ غټ پلاسټکي ښیګنې دي ، پوه سو چې دوی ولې واده نه کوي ، کله چې هغه پلاستیکي ښیګنې یې پورته کښته کول ، ښځه یې پر ،اغله او په ښتنه یې ځنې وکړه چې څه کوې ؟

پښتون

د پښتون کلمه له پنځو تورو څخه جوړه سوېده :

پ :پتمن

ښ :ښاغلی

ت :تورزن یا توریالی

و :وفادار او ویاړلی

ن :ننګیالی

د پښتو اصلي معنٰی غیرتي ، باهمته ،زړه ور، وفادار ، عزتي ، مېلمه پال ، باګذشته ،بې تعصبه ، کمینه ،زړه سواندی ، عزیز ، ګران، مهربانه ، سخي ،امانتکاره ،ډاډمن ،پر وطن او هېواد مین ،زغم لرونکی ، اخلاقي ، ویاړلی ،حوصله مند ، پتیالی ، صادق ، شریف ،رښتین ،نوښتګر ، کلک ، له خندا څخه ډک ،زمریالی او توریالی ده او تر ټولو مهم خصوصیت یې دا دئ چې وطن نه خرڅوي .

د پښتو معنٰی یوازي دانه ده چي څوک پښتو خبري کوي ، هغه ته پښتون ویل کېږي ، پښتون باید د دغو ټولو اوصافو خاوند وي چي پورته په ګوته سوي دي .

ډېر به مو اوریدلي وي چي دغه یا هغه سړی هیڅ پښتون نه دئ ، ددې خبري معنٰی او مفهوم دادئ چي :

هغه سړی ددغو ارزښتناکه صفاتو څخه لږ یا هیڅ بر خه نه لري ، نو هر پښتون باید زیار وباسي چي د دغو لوړو صفاتو خاوند او هغه د خپلي کونۍ او هیواد په ټولو غړو کي وده ورکړي او په عمل کي د دي اوصافو ښکارندوی وي ، او نور ټول ملیتونه او قومونه د خپلو وروڼو په توګه مني او درناوی یې کوي ، او په خپلو لوړو اخلاقو یې د ځان خواخوږی او مننه‌وی ګرځوي او په حقیقي او واقعي توګه د یو رښتیني مشر ورور دنده پر غاړه واخلي او اجرا یې کړي او ټولو خلکو ته په یوه سترګه وګوري .

د لندن ښار هېرومه چي رایاد کړم

زما د ښکلي ارغنداو شینکي باغونه

باور

۹/۱۱/۲۰۰۶د لندن ښار

یادونه

گرانو ، خوږو ، درنو او پر وطن مینو هیوادوالو!

زه زیار باسم چې دغه خپل په زړه پوري او ستونزمن کار ته ادامه ورکړم تر څو وکولای سم دغه غټه تشه چې تر اوسه په پښتو ژبه ټوکي د کتاب په بڼه نه لرو او که یې لرو هم لږ او نیمګړي دي ، درته تر یوه حده پوري بشپړي کړم او تاسو که د هر شوق او ذوق خاوندان یاست ، یوه خوله خندا یا موسکا درته په برخه کړم.

پاته دي نه وي چې ما خپل ټول کتابونه په ساده او روانه ژبه چې هر سړی لږ سواد یا زده کړه ولري په پوهېږي ، دا کتابونه ویلاي سي او کټه ځني اخیستلای سي ، که نه ما کولای سوای په ډېرو لوړو او عالی ادبیات یې ولیکم .

په درې دنبښت

باوري

خندا هم خوله غواړي

په پوهنځي کي به چي کله د لرغونو ادبياتو د لوست په بهير کي د مغولو د بريدونو پيل ته راورسېدو نو استاد په له تصوف سره د دغه ناتاره ننبلولو هڅه وکړه ، خو موږ به لکه د تل د هغه استدلال ته د پوښتني غټه ننبه کښنوده . يعني چي ساده انګېرنه ده . هغه به ويل چي هغه مهال جګړو د دې ځمکي د انسان خوښي يو وړه او شاعر يې په ځان کي ننه ايست چي د خپل معشوق وصال په ژړا وغواړي . نور ترې هر څه هېر شول.

داستاد پر خبرو زموږ د شک عمر اوږد نه و او موږ پخپله د دغي يوې تاريخي تجربې په لو بغاړو واو ښتو

او هغه هرڅه مو د ژوند په مدرسه کي پر ځان وازمويل. موږ او تر موږ وروسته ټول ، آن تر دانته، دجګړې لوغړې نسل شو چي له وينو پرته بل څه نه وينو .

ژړا مو په څو ډوله زده ده ، خو خندا نه پېژنو . په ماتولو کي استادان يو ،خو د رغولو چم نه راځي. په ځان پوري تنګ يو او له ځانه سره نور هم ناغوښتلي حورو او غلمانو ديدن ته بيايو .

اې د خدای پار دي نوري دادغم وريځي له سره وشړئ او وګورئ چي پاس د څښتن په دې ار ته بيرته نړۍ کي ورانګين لمر هم شته

. ستوري هم شه چې لاري ښيي . سپوږمۍ هم شته چې موسکه ده او د وصال لاري رڼوي . د دغې ناروغه ټولنې درملنې ته يوه نسخه ښايي د باوري صاحب ډالۍ وي چې لږ دا زما او ستا لو ستونکي د سياسي تاويلو ما ويلو له افسونه راوباسي . دا سر بېره پر دي د يوه داسي کلتوري ميراث د خوند يتوب ضمانت هم دئ چې پر ته له‌دې به ښايي په خواري او هغه هم په يو ځايي ډول تر لاسه شي .

ځای ځای تکرار د دې ټولګو نيمګړتيا شمېرلی شو . يانې که زور پر نو يو او نادرو بېلګو اچول شوی وای ، خوند يې ډېرېده .

ټوکې به دي ولولو باوري صاحب ، نه يوازې د دې لپاره چې ساعت پرې تېر کړو ، چې خدای مکړه خندا مو هېره نه شي . که طبيبان سل راته وايي ، زه خو دا اوس په ورځ که څه ، چې آن په‌اوونۍ کې هم د يوې ښې خندا پلمه نه شم موندلی . بخت يې نه لرو ، او که خوله يې نه لرو يا ښايي دواړه .

په درناوي

دوکتور داود جنبش